

Ketabton.com

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کتاب پېژندنه :

||||||||||||||||||||||||||||||||||||||||||

د کتاب نوم : د بنسټیزو ستونزو د حل لاري

لیکوال :ملا عبدالسلام ضعیف

کمپوز او ډیزاین : د لیکوال لخوا

خپرندوی : مستقبل خپرندویه ټولنه

د چاپ کال : د ۱۳۹۰ل.کال پسرلی

د چاپ ځای : لاهور

د چاپ شمېر : زر ټوکه

د دې کتاب ټول حقوق د خپروونکي سره خوندي دي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ((کمزوري)) زوروري

د ګران افغانستان سیاسي برخلیك له دیګ تېرو څه کم دریو لسیزو راهیسې دومره تت را روان دی، چې تر دیګ شېبې دافغان ملت سترګو نه پخپلو سترګیو (عینکو) ولوستای شو او نه دنورو په ککوین، ان دهغو مدعیانو په هغو هم، چې ویل یې‌ګ له فضا نه دځمکې هر څیز دیو څپك واټن هومره وینو. افغانان خواران هم اریان دریان لاس تر زنې ناست دی او نړیوال ((خواخوږي)) او ((نړیواله ټولنه)) هم ورته څوك دخیر پر غوندۍ ناست، ننداره کوي او څوك ترې خوندونه اخلي او هغه دخوشال نیکه خبره:

نوره واړه پښتونخوا په ځای مېشته ده

دا یو زه دیګ زمانې پکې منصور کړم

موږ نه دچا پر سوکالۍ رخه کوو، نه د چا ازادۍ ته په اوبو کې خولې کیږو اونه مو دچا پر سیاسي برید سترګې ښخې وي او نه پر جغرافیایې هغه دولسونو له علمي او اقتصادی پرمختك سره دسیالۍ رڼا خو مو په وچولي کې دپیدایښت او افغانښت له ورځې نه ده ځلېدلې؛ نو څه به د چا سوکالۍ ته پخسیږو؟

هن: دا یوه خبره ده، چې دځان، ټولنې او خپل برخلیك په باب اندېښنه او سوچ، مو وګړنی او سړنی (انساني) حق دی.

حق مو دی چې دخپل برخلیك په اړه او تراو هر لاسوهاندی وکړو او پرې وتوکو او داستاد الفت خبره:

تور ته سپین نه شم ویلی سپین ته تور زه

دا امید دیګ څوك له ما نه هیڅ نه کاندی

حق مو دی، چې دچا راته پر زړه چړې ګرځي، هغو ته مو پر زړه وینې پرتې وي.

حق مو دی:

چې زما دبڼ اغزي ته کاږه ګوري

ویم چې اور شوی دهغو په ګلستان

دهمدغو حقونو یو خاوند هم، افغان مسلمان او مجاهد پښتون ددیګ شننیز (تحلیلي) اثر لیکوال ــ چې پخپله له انکسار پرته ځان لیکوال نه؛ بلکې دقلم د ډګر یو خړپو څن بولي ـــ ښاغلی عبدالسلام ضعیف دی، عبدالسلام ضعیف چې له ځایه دیني طالب علم دی، تر هغه مهاله په اسلام اباد کې دافغانستان د اسلامي امارت سفیر و چې امریکایې ځواکونو دنیویارك د سوداګریزې منځۍ دنسکورېدو دکسات په پلمه د 1380 دتلې په نیمایې کې پر

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغانستان پوځي يرغل وکړ، که څه هم ښاغلی ضعيف له ديپلوماتيکو حقونو او په پاکستان کې دلس مياشتنۍ قانوني مېشتېدنې دويزې خاوند و؛ خو پاکستانيو چارواکيو د ټولو سفارتي ادابو او ارونو په ړنګولو امريکايې ځواکونو ته په لاس ورکړ، چې دباګرام، کندهار او بيا ګوانتانامو دتورو تمبو شاته يې څه کم څلور کاله ښکېل کړ، ښاغلي ضعيف د ګوانتاناموپه جهنمي زندان کې دځان په څېر له سوونو بېګناه بنديانو سره دبشرپالو امريکايانو انساني چلن دسر په سترګو وليد، تر خلاصون وروسته يې دګوانتانامو له بنديانو سره دچلن يوه بوږنوړې او زړه ويلوونکې انځور وايست، په پښتو ژبه کښلي ((دګوانتانامو انځور)) دومره کتونکې، لوستونکي او هر کليوال پيدا کړل، چې په لومړي ځل يې دپښتو کتاب دچاپ شمېر دوه ديګرش زره ټوکو ته ورساوه او يواځې په پښتو نه، په پارسي، اردو، عربې، انګليسي او فرانسوي ژبو يې هم دژباړې او خپراوي تکل وشو.

((دګوانتانامو په انځور)) پسې دښاغلې عبدالسلام ضعيف دا په لاس کې تحليلي اثر هم دهېواد او نړۍ سياسي اکر (وضعې) ته پام دافغانستان درواني غميزې دپای په هيله ديو لړ نغوتو (مشورو) او وړانديزونو ټولګه ده، چې که يې له منځپانګې نه ګټه وشي، زما باور دی، چې زموږ دملي او سياسي ربړې دجندرې (کولپ) په پرانستو کې به مرستندوی جوت شي.

زه په داسې حال کې چې نه يواځې له هېواد، ټولنې او اولس سره د ښاغلي ضعيف تړاو کمزوری نه بولم، بلکې دده په شننو کې ځينې زوروري خبرې او دخپلې رنځورې ټولنې د درملنې لپاره اغېزمنې نسخې هم وينم، خدای دې وکا، چې دښاغلي ضعيف د ((حی علی الفلاح)) دا بلنه د (( خوار ملا اذان)) نشي او زموږ دروان ناورين عاملين پرې پر خپلو کړو دبيا کتنې (کلمه) ووايي.

دښاغلي ضعيف دزړه او قلم دزور دلازياتېدو په هيله.

محمد اصف صميم

1385-11-3

جلالکوټ

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سريزه

د ټولو کائناتو پیدا کوونکي، پالونکي او روزونکي ته ثنا، د هغه د ګران محبوب، رښتوني استازي او د هغه ټولو رښتونو استازو او د هغو د ټولو کورنیو وګړو او پیروانو روحونو ته درودونه او سلامونه، هغه ذات چې موږ ته یې د حق او باطل لاره په خپل لوی فضل سره ښودلې ده، هغه ذات چې موږ ته یې د ښه او بد په منځ کې د عقل په ذریعه د توپیر ځواك را بخښلی دی، هغه ذات چې د انسانانو د هدایت او د خپل منځي ستونزو د حل لپاره یې د انصاف او عدل لوی کتاب د قانون په توګه د خپل رښتیني استازي په ذریعه را استولی دی، په دې کې شك نشته چې نفاق لوی خدای ته ډیرناخوښه عمل دی او هغه ټول بندګان له دې ناوړه کار څخه منع کوي هغه په خپل سپیڅلي کتاب کي خپلو بندګانو ته داسې هدایت ورکوي چې: [آل عمران:۱۰۳]

ژباړه: تاسو ټوله د لوی خدای ( ) په کلکه رسۍ بانديګ چې قرآن کريم دی منګولې ټینګي کړئ، او په خپلو منځونو کې بې اتفاقي او بېلتون مه کوی.

دلته الله دواړي صيغي که داعتصام (منګولو لګولو) ده که د افتراق (بېلتون) ده د امر او نهي په توګه يادي کړي دي الله دوه نقیض شیان په یوه آیت کې د یوه او بل په عکس کې ذکر کړي دي

د سپیڅلي قرآن دغه مبارك آیت زه دې ته اړ کړی یم چې د افغانستان په لوی کور کي د اختلاف او بېلتون لاملونه وڅېړم او په دې سره پوه سم چې دا لاملونه څه شي دي چې زموږ د تاریخي ټولنې د بربادی سبب ګرځیدلي یا ګرځي او ولي زموږ ورونه، رهبران، قوماندانان، پوهان، روشن فکران او عام مسلمانان ددې ناورين د پای ته رسیدلو په هکله پاته راغلي او تر اوسه پورې د دې مغلقي معضلي لپاره د حل اصلي لاري ته مراجعه نه ده شوي، زما سره له ډیره وخته راهیسې دا فکر وو چې د اختلاف، بې باورۍ او فاصلې لاملونه ومومم او وربانديې پوه شم، له ډیرو پوهانو، عالمانو، مشرانو څخه مې پوښتني کړي، مختلف نظرونه مې اوریدلي او موندلي دي چې ډیر به یې زما د فکر سره برابر او ډیر به یې ناموافق راتلل، خو بیا د ډیرو مصروفیتونو او یا د تجربې د کموالي له کبله ورته په نهایې ډول ځیر شوی نه وم، کله چې په ۲۰۰۲ م. کال د امریکایې سرو یرغلګرو د ظلم په تورو او کرغیړنو پنجرو کې ولویدم، هلته مې خپل ځان یواځې له فکرونو سره وموند. ددې فرصت راته پیدا شو چې پردې ستونزو باندي د خپل مغز د توانایی او استعداد آس وځغلوم، هغو مغلقواوپیچلو غوټوته ورشم چې زموږ برخلیك پکښي پیچل شوي اوبیاټینګ تړل شویدی.

یو بل دلیل داوو چې ما وپتېیله چې بهرني دښمنان زموږ په منځ کې د بېلتون زړي څومره ډېر ښندی. امریکایې شریرو او نفاق خوښوونکیو محققینو ته به ما ډیر ژور او عمیق فکرکاوه چې دوی له موږ نه څه غوښتل او په موږ کې یې څه غوښتل، زموږ په منځ کې یې د نفاق تخم په څه تدبیر سره خپراوه. د مثال په توګه پښتون ته به یې په تحقیق کې ویل: چې تاسو خو د هیواد اکثریت تشکیلوئ، خو اقلیتونو ستاسو پر میراث قبضه کړې تاسو باید کوښښ

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړئ چې خپل میراث لاس ته راوړئ. خپل میراث په خپله و ساتئ، ازبك ته به يې ويل: چې تاسي خو اقلیت یاست پښتانه غواړي تاسي له حق څخه بې برخي کړي. تاسي باید کوښښ وکړئ چې خپل حق وګټئ. موږ ستاسي سره یو ، څو تاسي له خپو حقوقوڅخه برخمن کړو، تاجك ته به يې بل څه ويل. سلفي، صوفي، مذهبې، مکتبې او طالب ته به په نورو شکلونو ږغېدل له هر یوه سره به يې ځان په غم شریك باله، په همدغو موضوعاتوکې دوی ترموږ ښه علم او پاخه معلومات درلودل

د دوی هڅو او کړنو ماته ښه الهام راکاوه چې هغو نیمګرتیاووته چې موږ يې د ټولني پر ځای ځانځاني غوښتنوته ټیل وهلي یو، زموږ دښمنانو ته طلايې چانس ورکړي چې له هغه څخه بده استفاده وکړي، زموږ د همدغه بېلتون د ټکو څخه چې کله قومي جنبه، کله ژبني بڼه، کله مذهبې بڼه، کله د مینځ لارو او سخت دریځو عناوین ورکول کيږي او د هغو بې مغزو او پوچ مغزو افغانانو په ملاتړ په عملي توګه لیدل کيږي. دا ستونزه به ترڅو وي، حل به يې کله پیدا کيږي، کله به زموږ غریب ملت او مظلوم هیوادوال د بېغمي استوګني او امنیت ساه اخلي والله اعلم.

ما خپل لنډ فکر هغو ستونزو ته متوجه کړ، چې زما په نظر زموږ د ټولنې د پراګندګي عوامل پکښې لیدل شوي او یا د ډیر وخت په تېرېدو یا د سستۍ او بېګ پروايۍ له کبله د بدمرغیو سبب ګرځېدلي، ما هغه علتونه چې ستونزي تري جوړي شوي د څېړني په شکل سپړلي، په تفصيلي شکل مي پکښې تحقیق کړي، څو جوته کړم چې دا ستونزې څنګه د بدمرغۍ لامل شوې،د ستونزي بنیادي علت او دلیل مې په ساده ډول واضح او ښکاره شي، که څه هم زما څېړنه به له علمي څېړنو سره توپیر ولري، زما فکر، اند او اد راك به له نورو روڼ اندو علماوو او علمي شخصیتونو له افکارو سره توپیر ولري، کیدلای شي دا توپیر په ځینو مواردو کې علمي توپیر وي یا د تجربې توپیر، په هر صورت زه هغه څه تاسو محترمو لوستونکو ته وړاندیګ کوم چې زما قاصرذهن درک کړي دي، زه يې تجربه لرم، زه د هغو په عواقبو پوهیږم، ټولو هیوادوالو ته په ځانګړې توګه راتلونکي نسل ته ددغه پیغام رسیدل خپل دیني او ملي رسالت او مسرولیت بولم الله دي وکړي چې د هغو مسلمانانو ورونو لپاره د ګټي لامل وګرځي چې د ګران هیواد د ستونزو د حل په لاره کې چوپړ د ځان فریضه بولي او د ګرانو هیوادوالو په غمونو سره څوریږي آمین.

ستاسو د دعاوو هیله من ورور

ملا عبدالسلام � ضعيف�

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د افغانستان بنسټيزي ستونزي

د نړۍ هيڅ دولت او ملت له ستونزو خلاص نه دی. په هرهيوادکې له ستونزو سره مبارزه او د حل لپاره اساسي لاره پيدا کول د هر ملت دنده ده چې هم هغه ملت ېبګ تر نورو ملتونو ښه درکولای او عملي کولای شي. په ټوله نړۍ کې دا يو عام رنځ دی چې د نړۍ په هرهيواد کې ساري او جوتي جرړي لري، خو د دې جرړو څېړنه د دغه رنځ د عاموالي په څير عامه نه ده. بلکې هره څېړنه د سيمي په توپير خپلي ځانګړتيا وي لري.

څو لسيزي پر موږ تېري سوې، څومره قرباني ورکول کيږي، څومره خلك ژوند له لاسه ورکوي، څومري اقتصادي پلانونه شاته پاته کيږي، څومره سياسي چانسونه له لاسه ورکول کيږي، خو د موفقيت لپاره بيا هم مثبت ګام نه ښکاره شوی او نه اخيستل شوی دی. که اخستل شوی هم وي هغه حرکت دهيواد په ضرر تمام شوي دی او بالاخره د ساري ناروغۍ په څير نړۍ په برخليك کې راسره شريکه شوه.

د ډيرو ژمنو، ډيرو همکاريو، ډيرو هلو ځلو سره سره ددغه رنځ پوره تشخيص نه دی شوی او ياورته درمل پر وخت نه دي ورکول شوي د دې څه علت دی، موږ څه ته ضرورت لرو، خلك څنګه ډاکټر غواړي، مرض څه شي دی، علاج يې څه دی؟؟؟ دا يوه پېچلې او سخته ناروغي ده چې ښه تشخيص او ښه درملو ته اړتيا لري.

د امريکايانو سره چې زه څه کم څلورکاله يرغمل وم ما د خپل توقيف په موده کې پر دېګ سختو ستونزو باندې د خپلي ذهني قوې او استعداد له مخې تحقيق کړي او همېشه به مي پر دېګ فکر کاوه چې دا ستونزي څنګه پيدا کيږي، څنګه خپريږي او بيا څنګه په ناسور باندې بدليږي او بالاخره د هغه لپاره علاج او درمل څه دی؟ مادلته څو علتونو ته په ځير سره خپل ذهن متوجه کړی چې زما په نظر اساسي علتونه دي او هغو ته مي د علاج او نجات لاره سنجولي ده الله تعالی دي وکړي چې زموږ دهيواد ځوريدلي او شريف وګړي تري استفاده وکړي او زموږ غريب هيواد ته څه ګټه ځني ورسيږي، زما دغه تحقيق پر اووه علتونو باندې ذهن ځغلولی دي چې په لاندي توګه يې ستاسو ګرانو لوستونکو په وړاندې ږدم:

لومړی : مدرسه او ښوونځی

دويم : قومي جوړښت

دريم: کلتوري ارزښت

څلورم : جغرافيايي اندېښني

پنځم: کورني او بهرني سياستونه او پاليسۍ

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



شپږم: لوېدیزه دموکراسي

اوم: نشيي توکي

دا اووه هغه اساسي بنیادونه دي چې هر بنیادیې ځانته جلا باب او هر باب یېگ د جزئیاتو په تناسب مختلف فصلونه لري.

دا یوه علمي، نظری څیړنه نه ده چې زه یېگ تاسو ته د یوه پروفیسور په توگه تقدیموم، بلکي عملي او تجربوي څیړني ته ورته یوه نژدې څیړنه ده، چې د افغانستان دیوه وگړي په توگه د ډیرو ناخوالو د قرباني شویو وگړیو انځوروړاندې کوې، مگر د تجربود پړاوونو سره سره یوه علمې چاپیریال ته هم سرورننباسي. زه هیله لرم چې زما دغه وړه ډالۍ به زموږ ځوریدلو او کړیدلو وگړو ته دیوه ښه فکر په وړاندی عملي پلان ته لږ لاره ورلنډه کړي او د نورو خواخوږو او علمي کدرونو په نور زیار سره به ښه بشپړه شي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## مدرسه او ښوونځی

مدرسه او ښوونځی دواړه د ټولنې د وګړیو د فکري او علمي ودې د لوړتیا لپاره هغه مراجع دې چې د ملت ټول وګړي بې له کوم توپیره دواړو ته اړتیا لري. همدغه علمي ارګانونه دې چې موږ د دنیا او آخرت د نېکمرغۍ لوري ته سوقوي. هروګړی دیوه کامل انسان په توګه علمی نړۍ ته ورپیژني او هر څه چې زموږ له ژوند سره تړاو لري له همدېګ ورونو څخه لاره ورته پیدا کیږي .

دا یقیني خبره ده چې ټولنه له ښوونې اوروزنې پرته یوه نیمګړې ټولنه بلل کیږي. هر وګړی چې له دغه نعمت څخه برخمن نه شي د خپل دنیایې او اخروي مسؤولیت اداینه نشي کولای او نه هم خپل خیراو شر پیژندلای شي، زما څېړنه د مدرسي او ښوونځي په هکله د یوي ستونزي د علت په توګه نه، بلکي دهغه تفریط او افراط په هکله ده چې زموږ ګران هیواد یېګ له ډیره وخته راپه دې خوا په کړاو او کړکیچ کې اچولی دی. دغه مهمه ستونزه هیڅکله په بشپړه توګه حل شوې نه ده او نه ورته د وخت د واکمنو لخوا پوره پاملرنه شوي ده، له بده مرغه هر وخت دغه ستونزه په هیوادکې بابیزه ګڼل شوی او اهمیت یېګ کم ښودل شوی دی.

مدرسه او مسجد یواځې ددیني او مذهبي زده کړو مراکز نه بلل کیږي، بلکي په سیاسي او ټولنیزو مفکورو هغه سمبال مراکز دي چې ددغه هیواد بچیان پکښې حقیقي روزنه اوزدکړه ترلاسه کوي، د الله ﷻ په وړاندېګ د ښه مسؤولیت او د ټولني او ژوند په وړاندېګ د انساني مسؤولیت اوکرامت لپاره په عملي توګه ځان جوړونه ده، داسي زده کړه هیڅ ستونزه نه ده او نه دغه روحاني مراکز کومه ستونزه راولاړوي. بالعکس په ټولو روزنیزو اړتیاوړ برخو کې انسان ته روزنه ورکوي چې اخلاقاً د ټولنې خدمت ګار اوسي، په ټولنه کې خلکو ته ضرر ونه رسوي، د اړتیا په وخت کې د خلکو سره مرسته وکړي د خدای له بندګانو سره احسان او لوربینه خپل یو دائمي عادت وګرځوي. د خدای ﷻ او خلکو په وړاندی خپل مسؤولیت سرته ورسوي، د رسالت پیغام د امانت په توګه خلکو ته ورسوي، صورت او سیرت د خدای او د هغه د رسول پر طریقه برابر کړي؛ خلکو ته د معاملاتو د حلال، حرام، مشبهاتو، مباح او مکروه توپیرونه وښیي، په اسلام کې ټولنیز او اجتماعي عدالت هره ټولنه یوه سوکاله او سوله ییز چاپیریال ته سیخوي انسان ته ددنیا او آخرت نیکمرغي او بریالیتوب ورپه برخه کوی، معروف او منکر سره بېلوي.

ښوونځی هم د ټولنې او انساني روزني لپاره مدرسي ته ورته اهداف لري، د هیواد د ځوانانو او ټولو وکړو ښې روزنې ته پاملرنه کوي یو داسې هدف ته لاره هواره وي چې د ټولنې یو سالم، ګټور او با استعداده وګړی د خپل هیواد د چوپړ لپاره رشتونی خدمت ګار اوسي، د ټولنې له کلتوري او عنعنوي ارزښتونو خبراوسي او د ټولنې د وکړیو د عصري اړتیا وو په پوره کولو کې د هغوګ لارښوونه او مرسته وکړي. د نړۍ د سیالۍ په ډګر کې د یوه ښه سیال نقش پر ځای کړي. د نړۍ له نویو پرمختګونو څخه هیواد برخمن کړي، د ساینس او نوي ټکنالوژۍ په لویو نعمتونو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره د هیواد ټول وګړي برخمن کړي ترڅو اقتصادي پرمختګ د هیوادوالوګ په ټولنیز ژوند کې ښه والی راولي، د خلکو د سوکالۍ لامل وګرځي. ددفاع او امنیت په لاره کې د خپلو خلکولاس نیوی او مرسته وکړي.

د هېواد هر وګړی په دې ښه پوهیږي چې په هره ټولنه کي ښوونکي، عالم، قاضي، حقوقپوه، انجنیر، اقتصادپوه، ساینسپوه، سیاستپوه، پیلوټ، ډاکټر او د بل هر هنر څښتن ته اړتیا سته، له هنر څخه زموږ هدف علم او پوهه ده، نه د هغه هنرخاوندچې په بله ژبه ډم ورته وایي. موږ وینوچې زموږ ټولنه تراوسه په سید جمال الدین (افغاني)، احمد شاه (ابدالي) خوشحال خان،میرویس خان، محمود (غزنوی) او نورو علمي او تاریخي شخصیتونو په علم او پوهه ویاړي. خو له بده مرغه ددغي اړتیاد پیژندلو سره سره له ډیره وخته د ښوونځي او مدرسي تر منځ یو ډول توپیر لیدل کیږي، د دغو دواړو مراکزو په منځ کي رقابت تر سترګو کیږي. همدغه رقابت د وخت په تېرېدو سره د یو ډول فاصلې او په بل عبارت د یو ډول نفرت لامل ګرځي چې ټول هېواد دیوي لویي بدمرغۍ کندي ته ورغورځوي. ځکه چې زموږ د هیواد ټول وګړي د متعلمینو او مقلدینو حیثیت لري او مقلد په هر وخت کې د یوه رهنما په لارښوونه پسي روان وي، همدا دوه مراکز مدرسه او ښوونځی دي چې د هیواد لارښود او خلکو ته لارښونه کوی، که خدای مه کړه د مشرتابه د مراجعو تر منځ د تضاد او رقابت نخښي پیدا کیږي، نو په اوتوماتیک ډول ټول هیواد د مخکښانو پر پله پرغبرګ مشرتابه وېشل کیږي او دا بېلتون د وخت په تیریدلو سره د انفجار پولي ته رسیږي. دا چې دا انفجار به په خپله کیږي یابه د دویم ګړي لاس په لمسون سره کیږي دا بیا بیل علتونه لري چې په هغو کي لوی علت د نظرونو بیلوالی دی.

دویم  د دغوارګانونو د اهمیت نه پیژندل دی. له بده مرغه د ښوونځی ښوونکي ته دا مفکوره ورکول شوې یا هغه همداسي مفکوره پیدا کړې چې د مدرسي یا مسجد ښوونکي د زاړه کلتور یا عنعناتو پالونکي دي. په نظر کې افراطي او ساده ژوند کوونکي دي، له عصري تمدنه ناخبره دي او یا پام نه ورته کوي، په فقیرانه ژوند کې عزت لټوي، د سیاسي او اقتصادې رقابتونو مخالف دي او یاېې په اهمیت نه پوهیږي. نو له همدې کبله باید ده ته په خواره سترګه وکتل شي. په ټولنه کي باید ظاهري عزت ونه لري او د منصب اومقام څخه بیل وساتل شي، یوازي د مړي د غسل، تکفین او تدفین، د ماشوم په غوږ کې د اذان، د اسقاط او خیرات، په مسجد کې د ماشومانو د لومړنیو زده کړو او د خلکو د امامت لپاره د زکات او ورځني ټوك په عوض مصروف وساتل شي او بس، بالعکس د مسجد او مدرسي د ښوونکي په فکر کې د ښوونځیو ښوونکي او زده کونکي د یو بدعتي، فاسق، فاجر نااهل، ددین او مذهب پرېښوونکي، د اسلامي او کلتوري دودونو پایمالوونکي د لوېدیزو او غیر اسلامي هیوادونو د کلتورونو پلویان او د پردیو کلتور ته وده ورکونکي ګڼل کیږي چې د دغو دواړو سیالیو لپاره په پوره دلائلو په هرډول حالاتو کې بیلابیل تبلیغات شوي چې د هغو پوره بیلګي هر وخت لیدل شوي دي. موږ وینوچې دوخت په تیریدو او د مختلفو انقلابونو په راوستلو سره ښه روښانه شوي دي، دلته عمده او بنیادې انفصالونه راغلي هغوی په شربلوسره ښه وده کړې ده. هر غلیم په خپل وخت کې تري ښه ګټه اخستي ده. په همدغو نظرونو باندې دهیواد هرڅه ته زیانونه رسیدلي دي،

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د وخت حکومتونو تردې مهاله د دغو دوو تربيتي مرکزونو توازن نه دی ساتلی، یاهغو ورته پاملرنه نه ده کړې یاله دغه حقیقت څخه دهغو سترګې پټې شوې دي. د وخت واکمنانو ښونځیو ته زیاته دولتي بودجه وقف کړې، هغو ته يې عصري تجهيزات او نور لوازم پر خپل وخت برابر کړي، د ښوونکو لپاره یې ګ عزت، کور، موټر او تنخوا، تخصيص کړې، ددغه ارګان دودې لپاره يې د تبليغاتو له هري وسيلي څخه ښه کار اخستي دی. خو له بده مرغه ددیني او مذهبي زده کړو لپاره یې ګ یوازې فقر کافي بللي د ی، سره له دې چې دواړه زده کوونکي د ملت بچیان دي او ددغه ملت په حقوقو کې بې له کوم توپيره مساوي حق لري. يو د هيواد په ګډه بودجه هډوکي کلکه وي، خپله اوکورنۍ د اصراف سره سره په دغه بودجه باندې ساتي. مګر بل وګړی باید فقروکړي او د هيوادوالو په سږه اووچه ډوډۍ په نيم نس ژوندوکړی .

د دغو دوو سکتورونو په مينځ کې نه انډول یاد یوه سکتور له پامه غورځول د يو ډول بېلتون لامل ګرځي. چې په تدريجي توګه د دې بېلتون او انفصال او د دغو سکتورونو په اهميت نه پوهېدل نورهم په دغه بېلتون کې زيات والی راولي، د مثال په توګه: ملا د انجینر په اهميت نه پوهيږي، او انجینر د ملا په ارزښت نه پوهيږي، يا يوڅه پوهيږي، يا پوهيږي خو د بېلتون په ډيروالی سره د تعصب غوټه پيداسوې ده. همدغه تعصب ددغه حقيقت د اهميت په باب د هغو پر سترګو پرده غوړولې وي، دا هغه ستر علت دی چې دوخت په تيريدو سره يې د خلکو کړاوونه ګزيات کړي دي، د دې لپاره چې د خلکو لپاره ښه روښانه شي د مثال په توګه څو بيلګي د لوستونکو په وړاندې ږدم.

کله چې امان الله خان په ١٩١٩ ميلادي کال د فبروري پر ٢٣ مه په لغمان کې د ناڅرګندوکسانو لخوا د خپل پلار تروژني وروسته قدرت ته ورسيد او له انګرېزانو څخه يې د هيواد خپلواکي بېرته واخيستله.او د ده په وختو کې په هيواد کې عصري ښوونځي را ووتل له همدغه وخته د ښوونځي او مدرسي تر منځ درز نورهم مخ په ډيريدو سو، د ښوونځي او مدرسي زده کوونکي د مقابلې په بهير کې د عقدي حد ته ورسيدل، دا مقابله د محمدظاهرشاه او محمد داود خان په وخت کې نوره هم ګرمه شوه، د حکومتي چارواکو توجه يوازې ښوونځيو ته ځانګړې وه، مسجدونه او مدرسي ګ چې د مذهب او اسلام ښه زده کړه پکښې کيدل اوکيږي يوازې د فقر په کچکول پوري وتړل شول، همدا لوی علت وو چې د افغانستان طالبان يادديني پوهي زدکونکي د زدکړي لپاره له افغانستانه بهر وتل. د هيوادنه د باندې به يې ديني زدکړه کول، هغوی په بشپړه توګه له مکتب څخه بيل او ليري روزل کيدل.

دويم مثال د ثور په اوومه د کمونستي رژيم کودتا يا خونړی انقلاب دی. د افغانستان د هلاکت دغه تخم د ظاهرشاه او داود خان د واکمنيو په وختونو کې پيدا شو، وکرل شو او وده ېګ وکړه، د دغو ګوندونو یا عقيدو خلك د ښوونځيو او پوهنتونو له غيږو راوټوکيدل، په ټولنه کې دغه مکروب په ډيره بېړه دهېواد تر هره ګوټه ورسيدی د هيواد د شاهي نظام د کورنۍ په غيږ کې ېګ نفوذ و کړ د هغو ملاتړ يي خپل کړ، هغو به په ډاګه او بربنډ ډول سره د مسلمانانو او اسلام پر مقدسو هدفونو ګوزارونه کول. دغو عناصرو په هيواد کې په مختلفو نومونو تبارز وکړ، کله

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې هغو د خپل زاړه ملګري داود خان پر سر ماله تیره کړه ، نوېې د هغو په عقیده بریالی انقلاب وکړ، دغو کمونستانو سمدلاسه په هیوادکېګ د علماء کرامو او دهغو د پلویانو په نیولو پیل وکړ. محبسونه یېګ ځني ډك کړل آن تردې چې په ژوندونې یېګ پرهغو هدیري جوړي کړي. دغه وخت وو چې ښوونځي د اسلام پر ضد د مبارزې ستر مرکزونه وګرځیدل، د اسلام او مسلمانانو پر ضد به پکښې پلانونه جوړېدل د کمونیستي ایډیالوژۍ کفري شعارونه به د ښوونځي د ښوونکي یازدکونکي لخوا خلکو ته رسیدل، د علماء کرامو، مسجدونو، مدرسو او اسلامي مقدساتو پر ضد تبلیغاتو د لومړي ځل لپاره په دغه هیوادکې عادې بڼه غوره کړه. دکمونستانوداسي ناوړوکړونو په هیواد کې د ټولو مسلمانانو د صبر کاسه وچړپول. مسلمانان له خپل خواږه هیواده هجرت ته اړ ایستل سول، په هیوادکي عامو مسلمانانو ته هم دا احساس پیدا شو چې د د غو کرغېړنو څېرو په وړاندې د ملي قیام هڅه وکړي او د اسلام د دفاع په لار کي د خپلو زړونو نفرت دکمونستي پرمختګ په وړاندې ښکاره کړي.

دلته بیا هم مدرسه او ښوونځی په یوه مخامخ ټکر کې سره ښکیل شول. بیا هم ملا ساده وګڼل شو. د دیني زده کړو د ښوونکي حیثیت کم وپیژندل شو، د هغوی د نابودی یاورکاوي هځي وشوي، که څه هم په پوهنتونونو کې دشرعیاتو پوهنځي شته او محصلین د فراغت سند تر لاسه کوي ، خو د دیني زده کړو لپاره کافي نه دی ګڼل شوي. او یا دا چې د نورو عصري مضامینو لټان چي په شرعیاتو او دین بېخي خبر نه وي په اوتوماتیک ډول د شرعیاتو پوهنځي ته کامیابیږي. بیا دا خلک اثره قاضیان او څارنوالان جوړیږي چي د لېوانو دي هم پلاور باندي وګرځي .

که څه هم د کمونستي رژیم بیخ او بنیاد د خلکو په نظر له منځه ولاړی مګر بدبختانه د کمونستي نظام تر نسکوریدلو وروسته بیا هم هغه کمونستی ډلي د ژبې یا سیمې له مخې د مجاهدینو په ځینو جهادې ډلوکې تنظیم شولي. هغو په ډیرمهارت سره د خپلو ناوړو او نا اسلامي کړنو، د اسلام او وطن سره د خیانت جبران ګ د مجاهدینو په بدنامولو کې ولټاوه، هغو خپله مجاهیدینو ته د ځینو مجاهدینو په پلوي یاد مجاهدینو په نوم اولباس کې یوځل بیا ملت ته ګوزار ورکړ، زموږ د هیوادوالو د وینو تویولو ته یې ادامه ورکړه، په هیواد کي یي دبې اتفاقۍ او بې اعتمادۍ فضاء ګ نوره هم په ټینګه سره خپره کړه، د تعصب او نفرت زړي یېګ په ټولنه کې وشېندل، همداراز د طالبانو په نظام کې هم ځیني ناپیژندل شوي کسان ننوتلي وه. هغو به بې ځایه ګ

د خلکو ځورونه کوله، د طالب په نامه به یېګ طالبان بدنامول، که څه هم طالبانو په پوره غور سره کوشش کاوه چې کمونستي څېري بربنډې کړي او له خپلو لیکو یېګ لیري کړي خوطبعی خبره ده چی سل په سله کې دا مخلوط کړل شوی تخم نه سوای بدلیدلای، لاتراوسه دالړۍ روانه ده. دا چي ترڅوبه وي خدای تعالی ښه پوهیږي.

خبره د مدرسي او ښوونځي وه، د طالبانو اسلامي نظام بیاتر ډېره مدرسو اومسجدونو ته پاملرنه وکړله. د ښوونځیو سره یې دومره لیوالتیانه ښودله څومره چې مناسب وه یاخلکو له هغوڅخه غوښتنه درلوده. له بده مرغه اوسني

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



نظام بیا په پیل کي مدرسو ته په بیاړخیزه توګه شاوګرځوله مګر ښوونځیو ته یېګ نسبتاً ډیره پاملرنه وکړه دا افراط او تفریط دواړه د پیدا شوي واټن سره ښه مرسته کوي، د بېلتون ډیروالی راولي او نورو بدبختیو ته لاره هواروي.

موږ وینو چې دا اوس هم دمدرسو او ښوونځیو ترمنځ ښکاره مقابله روانه ده، د ښوونځیو قوت د مدارسو کدرونه بیواکه او بېګ صلاحیته کول غواړي، لوړې زده کړې چې د هیواد د اوسنۍ اداري اساسي قانون د ځینو مقاماتو لپاره مناسب ګڼي د مولوی فضل الهادی ( شینواري ) غوندې شیخ الحدیث له مخې لیري کوي که څه هم هغه د خپل مسړولیت په دوره کې ګد شریعت ټول حدود د اوسني نظام د رضامندۍ او خوشحالولو لپاره ناعملی پریښودل. په دغه هیواد کي د شریعت د یوه حد اقامه ګ هم عملي نه کړای سوه،دلته ښه معلومیږي چې پټ رقابت وجود لري. د هیواد په هرګوټ کي د مدرسي طالب او استاذ د کفارو د سازشونو له امله په مختلفو نومونو وژل کیږي، توهینیږي، بندی کیږي او..... ترڅو په دغه نوم سره ټوله اسلامپالي ښه وټکول شي، آن په غربې مطبوعاتو کې خو لاخبره تر رسول اکرم صلی الله علیه وسلم پوري ورسیده، د رسول اکرم په نوم کاریکاتورونه خپاره کړل سوه او د پاپ په لمسونکو خبرو یې د اسلام توهین ته لمن ووهله، نور نو زموږ لپاره اصلي عامل ته لاره پیدا کول او پیژندل او د حل لاري لټول پکار دي. موږ باید یوازي د خلکو له احساساتو، صداقت، فقر او مجبوریت څخه استفاده ونکړو که چیري په رښتوني ډول هڅه او کوشش وشي چې په ښوونه اوروزنه کې بنیادي او بنسټیز مشکلات حل کړای شي نو څو ټکي باید په نظر کې ونیول شي.

١ -په ښونیز نصاب کې باید له لومړي څخه تر دوولسم ټولګي پوري نغښتي تعلیمات په اوډلي ډول ځای کړل شي.

٢ - اسلامي ښووني د هر ټولګي د زده کونکي د ازمویني او بري مهمه برخه وګرځول شي.

٣ - اسلامي ښوونه د هېواد د ښوونیز نصاب داسي مهم رکن وبلل شي چې د ښوونو او لوړو زده کړو د ملا د تیرحیثیت ولری.

٤ -ښوونکي باید په دیني او عصري تعلیماتو باندې ښه سمبال کړاي شي.

٥ - د زده کوونکو یونیفورم د نظام په شکل خاص خو ملي شکل ولري داسېګ نه چې د پتلون او نکټایې پر دی کلتور په زور تحمیل کړای شي.

٦ -په ښوونځیو، لیسو او پوهنتونونو کې پر اسلامي صورت او سیرت ټینګار وشي.

٧ -د اسلامي تعلیماتو سند او بریلیك د نورو تعلیماتو د سند سره معادل وپیژندل شي، څو د هیواد ټول وګړي له یوه منظم اسلامي نصاب سره لیوالتیا پیدا کړي او اعتماد پر وشي او وړتیا ته لومړیتوب او ارزښت ورکول شي.

٨ - د شخصي ښوونیزو مراکزو او مدارسو په زده کوونکیو کې دي د سیالۍ د احساس د پیاوړتیا لپاره رغنده پاملرنه وشي .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



۹ـ په پوهنتون کي باید د هري رشتې انتخاب د هغې رشتې د زده کوونکو خخه وسینه داچي د نورو مضامینو ټمبلان د نورو زده کوونکو ځای ونیسي. وړاندي مو وویل چي مدرسې د مکاتبو موازي ارګانونه دیخو په مسلکي توګه په پوهنتون کي یوازي د حقوقو او شرعیاتو رشتې لري که دا رشتې نور زده کوونکي له دوی ځخه اشغال کړي نو بیا د دیني مدارسو زده کوونکو ته کومه لاره سته چي خپله رشته انتخاب کړي؟

۱۰ -د نارینه او ښځینه تعلیماتو د نامخلوط تعلیم لاري چاري بایدبیلي وساتل شي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## قوم او قبیلوي جوړښت

افغانستان د مختلفو قومونو له ترکیب څخه جوړ شوی، د بېلابېلو ژبو او کلتورونو درلودونکی هېواد دی. د دې توپیرونوګ سره سره تر ټولو ښه خبره داده چې ټول قومونه یېګ کاملاً د یوه دین پیروان دی. ټوله د یوه ملې پیژند او هویت افغان په نامه وياړي. که څه هم د مذهب له پلوه په خپلوکي څه توپير لري، لکه سني شيعه او...مګر د هر قوم ګټې او زیانونه دیوه بدن د غړیو په توګه سره تړلي دي. له بلي خوا که یو قوم په یوه ستونزه اخته کیږي ټول قومونه ورسره زیانمنیږي، همدارنګه د یوه قوم نیکمرغي د ټولو قومونو نیکمرغي ده که خدای مه کړه یو قوم په مشکلاتو کې ښکیل وي نور قومونه یې په غم ځان خبر نه کړي د ستونزو په حل کې ورسره مرسته ونه کړي نو دا ستونزي به د وخت په تیریدو سره ټولو قومونو او حتی ټول هېواد ته سرایت کوي او که بالفرض خدای مه کړه د یوه قوم په بدبختي کې د یوه بل قوم وګړي یاقوم خپله ګټه او ښېګڼي لټوي دا ډیره ناپوهي او یا په بل عبارت د تعصب مانا لري.

په هر صورت د هیواد د خپلواکۍ او ملي ګټو پر بنسټ تل یو موټی کیدل یو له بل سره پخلا کیدل، مخالفتونو ته د پای ټکي ایښودل د ټولو هیوادوالو او وطن په ګټه دي.

په افغانستان کې هر قوم په خپل دننه کې یو ترکیبی جوړښت لري د هغه جوړښت په چوکاټ کې ځانګړی ملي اعتبار لري. هرکله چې دستونزو سره لاس او ګریوان کیږي هغه وخت خپلو ستونزو ته د حل لاره پیدا کولای سي. بهرني قوتونه، اشخاص یا پردي عنعنات ددغه قوم ستونزه نه سي هوارولای دا عادي خبره ده چې په هرقوم اوهره سیمه کې ډیر کړاوونه اوستونزي پیدا کیږي یا واردیږي یاواردي سوي دي مګر ملي یووالی یې په هواري او سوله ییز ډول له منځه وړلو کې ښه رول ادا کولای شي، خو دامهمه خبره ده چې ملي وحدت ته د کړاونو وړاندیینه وشي اویا ورته پوره احترام وشي که څه هم څو لسیزي ددغه جوړښت د ختمولو لپاره کار شوی دی. تراوسه پوري هم په یوه او بل نامه د دغه بنسټ د ختمولولپاره کار کیږي او ترډیره حده تاوان هم ورته رسیدلی دی.

لکه څنګه چې وړاندي یادونه وشوه داچې هر افغاني قوم مختلفي ځانګړتیاوي لري او عنعنات یېګ نسبتاً تر سیمي پوري توپير لري مګر د دې سره سره هم پرته له یو څو اشخاصو چې پردي ډول ته نڅا کوي د یوه افغان نوم او واحد هدف لري. دلته به خپل هدف ته را شو او خپل پښتون قوم به وڅیړو، پښتون قوم د افغانستان د خاوري او نفوسو اکثریت تشکیلوي چې د افغانستان په ثبات، امنیت، اقتصاد اوسیاست کې عمده رول لري. دا یقیني خبره ده چې د دغه افغاني هڅ او جز درد د هیواد د ټولو وګړو درد دی،د دغه قوم نیکمرغي او بدمرغې د ټولو قومونو شریکه ده، ثبات یې د ټولو قومونو لپاره ثبات او بې ثباتي یې د ټولو لپاره بې ثباتي ده، که خدای مه کړه د دغه قوم په منځ کې هره ستونزه لاینحله پاته کیږي نو د دغي ستونزي ضرر به په تدریجې ډول عاموالی خپلوي او ټولوقومونو ته به دهغه توښ رسیږي. که چیرته د دغه قوم په غم کې خوشحالي وښودل شي، نو دا به د ملي وحدت پر وجود د کلک

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګوزار مانا ولري، که خدای مه کړه یو وګړی یا شخص په دې عقیده وي چې د دوی له کړاوه ګټه واخستلای سي یا ېبګ د ځان په ګټه تعبیر کړي، نو دا به د ملي نیکمرغۍ پر لوري مخته تګ نه، بلکي شاته تګ وي،که خدای مکړه یو شخص په دي عقیده وي چي د دغه کړاو په اور به ځانونه تاوده کړي نو باید انتظار وباسي چي دغه اور به یو وخت د هغه کور هم سوزي. پښتون قوم اسلام پاله، پاکزړي، صادق او خوشباوره قوم دی. دغه قوم پر خپل فرهنګ او دود، خپلواکۍ، میلمه پالنې او غیرت مین دی او په ویاړي، د ښه ګومان او احسان تابع وي، همیشه پر نورو د نیکو ګومان ساتي، پر صداقت او باور قرباني ورکونکي دي، د پښتنو قومي جوړښت ترډېره پر جرګو باندې ولاړدی، د خپلو پریکړو پالونکي دي د لویېګ سینې او زغم درلودونکي دي، په خپل کورکي د کمزوریو او نانواتو ښه دود لري، له ملا، سید او پیر سره پوره مینه او اخلاص او د هغو بې ساری احترام کوي. د اسلامي معتقداتو، شرائعو او شعائرو پالونکي او ساتونکي دي. هر وخت جرأت، وفا او قربانۍ ته ژمن دي، مګر د دې ټولو نیکو صفاتو سره سره یوه ډېره لویه نیمګړتیا هم لري. دغه ستونزه د دغه قوم ساده ګي او خوشباوري ده، داسې خوش باوري چې ترحد او اندازي اوچته ده. له بده مرغه چې له همدې صفت څخه یې تل ځینو اشخاصو ناوړه استفاده کړي او لاتر اوسه دغه لړۍ توده روانه ده.

ترډېره د پښتنو د قومي جوړښت اهمیت په دې کې دی چې په هر مهال کې د غلیم په وړاندې منظم پوځ لري داسي فوځ چې نه اعاشه او نه تنخوا غواړي. د دین او وطن دفاع د خپلو زلمیانو په وینو کوي، د شخړو په وړاندې ښه ساده او عادلانه قضاوت کولای شي .

د قضاوت د پریکړو تر شا دربدلای شي، په میړانه او پوره شهامت ېبګ پاللای شي، خو دا ټوله په هغه مهال کیدلای سې چې په خوله اوزړه له هغو سره صداقت او وفاداري وشي، کله چې د قومونو او قبیلو ترمنځ یوه ناوړه او ناکاره پیښه رامنځ ته کیږي قومي جرګي ېبګ په قومي دود سره هوارولای شي. د حکومتونو په چاروکې لاسوهنه ډېره کمه او لږه کوي، پرخبره ېبګ باورکوي،د هغوی د اوامروګ اطاعت کوي، د اړتیا پروخت ورسره مرسته کوي، خو له خپلو روایاتو او دودونو سره له لیونۍ مینې سره سره پر اسلامي ارشاداتو او ارزښتونو باوري او سرښندوی قوم دی .

پښتانه د دې نیمګړتیا سره سرهـ چې د سیاسي ارادې او اداري واکمنۍ سره ډېر تړاو او مینه نه لري خو د سیاسي نظامونو برې او پایښت هم د دوی له ملاتړ پرته اسانه کارنه دی، دلته باید په خواشینې سره هغه څه په ګوته او روښانه شي چې د څو لسیزو را په دې خوا د دغه قوم د قومي جوړښت د پراګندګی کوشش شوي او کیږي

د خود خواهانو پر هغو غوښتنو چې له اسلامي، ملي منافعو سره سمون نه خوري سترګې پټې شوي دي. دا خورا مهمه ده چې ولي له دغه جوړښت څخه د ملي فرهنګ، دود او عنعني پر خلاف ګټه اخستل شوې ده. د دغه قوم پر حقوقو،چې په اولسي او قومي نظام کې ستر نقش لري له ډېره وخته سترګې پټې شوي دې.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګ ځوان کهول مذهبي علمای کرامو، ساداتو او قومي سپين ږيرو ته تر ډيره د عزت او مشرۍ په سترګه ګوري، د هغو خبرګي مني، د هغو احترام کوي. ملا او عالم د دوی په هره جرګه کې اړين غړی وي، خپلې جرګي د شرعي اصولو له مخې وړاندي بيايې، د هرکار ثواب او عذاب خلکو ته ښيې. د ښو موفقيتونو، د دنيا او اخرت ګټي او تاوانونه خلکو ته بيانوي، په ټولنه کې کاملاً بې طرفي ساتي. يوازي د مصلحت راوستل، د شر او فتني رفع او دفع ګ په پام کې نيسی، همدارنګه سادات او پوهان هم په دغسي مواردو کي خپل نقش لوبوي او د ښه موقف او درانه مقام څښتنان او با عزته څيري بلل کيږي. جرګه د دغه قوم هغه مهم ارګان دی چې د ټولو ناروغيو لپاره دوا او درمل کيدلای شي، د هرې ستونزې علاج کولای شي، هغې ته د حل لاره موندلای شي، خو دغه اهميت هغه وخت خپلولای شې چې کاملاً د بې طرفی اصل په پام کی نيول شوی وي، په بشپړه توګه د اعتدال رعايت شوی وي، د سولي، ثبات او ملي ګټو اهميت په نظرکې ونيول شې، جرګه په خپلواکي سره د پرېکړي توان ولري د خپل تصميم د پوره پلی کولو واك ورسره وي او دواړو ښکيلو لوروته د باور اومنلو وړوې يا غالب ګومان وربانديې د ښو اونيکو وې. ځکه نو په ډير غور سره بايد هڅه وشي چې د دغو مهمو ارکانو حيثيت او اعتبار وساتل شي.

که خدای مه کړه د دې هڅه وشي چې دغه ارګان د سياسي يا شخصي ګټو لپاره د فشار، اعتبار يا پيسو په زور د ملت له ارادې پرته استعمال شي او يا په سياسي دام کې ښکيل شي دا به نه يوازي د ټول ملت له ارادي سره خيانت وي، بلکي په راتلونکي کې به هم د خلکو په وړاندی له بدګومانۍ او بې باورۍ يا بې اعتمادۍ سره مخامخ شي، بل دا چې دغه ارګان هغه وخت په ناپېيلتوب سره موثر تماميږي چې د خلکو د باور له امله د خلکو په منځ کې ټوکيدلي ستونزې په عادلانه توګه حل کړي. که چيري د جرګې غړي يو طرف ته منسوب کيږي په هغه صورت کې به دوی خپله د اختلاف له امله د نورو ستونزو سره مخامخ کيږي چې له همدې کبله به بيا هم د خلکو په منځ کي د نورو مشکلاتو سبب کيږي دا ډيره اړينه ده چې دغه ارګان په ټولوتحولاتوکې حق پالنه حق وينه او بې پرې توب او ناپېيلتوب وساتي اوخپله بي طرفي حفظ کړي.

د مثال په ډول که يو عالم د پيسو له ورکړي يا له کوم فشار څخه پرته دې ته وهڅول شي چې د ښځو د تعليم او تربيې په اړه شرعي دلايل وړاندې کړي او په خلکو دا ومني چې هغوی خپلي خويندې او لوڼي ښوونځيو ته واستوي، په دې هکله نبوي حديث د دليل په توګه ووايې چې دا د هرچاحق دی چې زده کړه وکړي، نو دا ښه خبره ده. که د دغه عالم (ملا) خبره يوازي د همدې هدف لپاره وي او ښځي د شرعي حجاب او د ښځو د تعليم د شرعي حدودو په پام کي نيولو سره ، شرعي زده کړي وکړي او د نارينه وو سره يې د ډکو وهلو احتمالات نه وي او د هغو سره يو ځای د کښيناستلو خبره چې د کبيره او لويو ګناهونو سبب ګرځی نه وي، هم د ښځو لپاره او هم د ټولني لپاره ګټور تماميږی، مګر که د ښځو په زده کړه او ښوونه کي د مذهب او اسلام سپکاوی وي يا پر هغه باندي تجاوزونه وي،او د اخلاقي او کلتوري فساد سبب وګرځي، لکه اوس چې دلته ځيني کورسونه، ښوونځي او پوهنتونونه نارينه او ښځي پر يوه ميز کيښنوي ، اخلاقي فساد ته يي تشويقوي، د بي حيايی او بې سترى لور ته يې وربولي، نو دلته معلوميږي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې عالم بې ځایه استعمال شوي دی، د الله ﷻ له طرفه ورکړه سوی مسؤولیت ېبګ نه دی پر ځاي کړي او یوازي او یوازي ېبګ مادیات په نظر کې نیولي دي.

دویم مثال : که بالفرض یو عالم یا علما د بهرنیانو یا حکومت د خوشحالولو لپاره خبري کوي چې تریاك او بنګي او د هغو کښت اوکاروبارګ په شریعت کې حرام کار دی، خلك دې دا کار نه کوي او د امریکایانو یا انګرېزانو سره دې په دغه کارکي مرسته وشي او له بلي خوا په هیواد کې د زنا په وجه د ایډز پراخیېدل او ډېرېدل او دا رنګه په ډاګه د شرابو څښل، خرڅیدل، رواجېدل په نظر کې نه نیسي سره له دېګ چې په اسلام کې د شرابو او زنا لپاره حد او سزا شته او د تریاکو لپاره په ظاهره نص او دلیل نسته، خو قیاس ته به تګ کیږي یا دا چې د تریاکو لپاره به اختصاصي محکمه جوړیږي، خلکو ته به قید او د اعدام سزا ورکول کیږي، خو د زنا، شرابو او نورو غیر شرعي فاحشو چارو لپاره لکه بربنډ عسکونه، نیمه بربنډ فلمونه او دا چې د فحاشۍ عادې او بربنډو زنا کارو ټلویزیوني فلمونه او عکسونه چې کاملاً ټوله ټولنه په ځانګړې توګه نوي نسل په حتمي اخلاقي فساد اخته کوي. شراب، زنا، د ښځو او نرو ښکاره بداخلاقي په ټولنه کي عادي ګرځي، کیدای شي په راتلونکي کې دغه اعمال خلکو ته دعاموالي په خاطر د ګناه حیثیت ونه لري که څه هم د نشیي توکو بندیدل ښه کار دی، د افغانستان په ګټه دی، مګر پر داسې شیانو خاموشي دا ثابتوي چې عالم استعمال شوي دی، کنه نو د زنا او شرابو لپاره چې د قرآن په صریحو آیتونو ثابت دي ولي نه اختصاصي محکمه شته او نه ورته علیحده تبلیغات. له عالم څخه د سیاسي ګټو په خاطر داسې استفاده به د هغه پر تندي باندي یو تور داغ باله سي. ځکه په ټولنه کي د عالم حیثیت کمول او د هغه وقار او بې طرفۍ ته صدمه رسول ډېره بده خبره ده چې د هغه مستقبل ته ډېر لوی تاوان رسوي او د خلکو د نیکو ګومان وربانديې خرابیږي. د یوه عالم لپاره لازمه ده چې په ټولنه کې د ناپېیلتوب دریز ولري، په مطلقه توګه د حق پلوی او د باطل پر ضد واوسي، نه د حکومت او قوت د ناسمو پالیسیو تطبیقوونکی. که رشتیا حکومت او خارجي یرغلګر د علماوو خبره مني باید د هغو د قول درناوی په هرڅه کې وکړای شي. خو موږ وینو چې کله یو عالم د شریعت سره سم څه مطالب بیان کړي، هغو ته د طالبي قوانینو رنګ ورکوي د قول یې تقبیحوي. اما که د دوی په ګټه خبره کوي هغه دومره تقدیروي چې د نړۍ هرګوټ ته د هغه ږغ ورسوي .

باید ملا طبقه د دښمن د داسي سازشونو څخه ځان وژغوري ، څو د هغو د لومو ښکار نه سي. همدارنګه عالم، سید او د قوم مشر باید د مشر په توګه وساتل شي، نه دیوه لوري په توګه د مثال په توګه : که یو عالم دولت یا مقاومت ته د عامو دولتي خلکو د وژلو لپاره فتوی ورکوي او د منفي اړخونو څخه یې صرف نظر کوي، لکه د عامو خلکو په منځ کی پټاو کول، په هغو کي د ماشومانو وژل، بې محاکمي د خلکو وژل، د کلو بمبارول، د انسانانو د جسدونو سوزل او پرلارویانو باندې د ړانده انتقام ډزي او.... نو بیا هم عالم یو ناحقه طرف واقع شو .

د هغه په دې طرف سره هم د ده ناپېیلتوب ته تاوان رسیږي او هم د خلکو اعتماد وربانديې کمیږي. یا دا چې نیك ګمان یا حسن ظن وربانديې خرابیږي چې په دې کار سره بیا هم په خلکو کې د اختلاف جرړي قوي کیږي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدارنگه که په سیمه کې یو قومي سپین ږیری او مشر دې ته تشویق شي چې د حکومت او پرغلگرو ضد خلك د حکومت یا امریکایانو سره همکارۍ ته دعوت کړي، خو له بلي خوا پر خلکو د بمباریو،د بیگناه خلکو د نیولو او وژلو، د بهرنیو یرغلگرو له ناسمو کړنو څخه، لکه د وگړو توهینولو، په کورونو ورننوتلو، د ښځو تلاشي کولو او داسي نورو څخه ځان ناخبره ښیي اویا ورڅخه دفاع کوي نو دلته هم د قومي مشر له حیثیت او اعتماد څخه ښه گټه نده اخستل شوي، ځکه د هغه اعتماد ته صدمه رسول د هغه پر تندي باندي د تور داغ ایښوولو حیثیت لري.

اوس به اصلي ستونزي ته راشو لکه چې وړاندي وویل شوه چې عالم، سید، حضرت او قومي سپین ږیري په افغاني ټولنه کې هغه مخکښان دي چې دهیواد ټول وگړي ورباندې اعتماد کوي،د هغو خبروته غوږ نیسي او د هغو احترام کوي. د هر داخلي او بهرني ځور یاستونزي په وخت کې ورته مراجعه کیږي. له همدې کبله ډیره اړینه ده چې د هغو د حیثیت ساتنه وشي، غوږ ورته ونیول شي، احترام یې وشي،د هغو په نیکو مشورو عمل وشي. که د دوی له نیکو نظرونو استفاده وشي زه په دې یقین یم چې زموږ بې حسابه ستونزو ته چې ټول هیواد یې گ له غم، تشویش او نهیلۍ سره مخامخ کړی دی، د پای ټکی کښیښودل شي او د حل لاره به ورته پیداشي. مگر بدبختانه چې د دغو مخکښانو د افکارو او عقیدو پوره درناوی د څو لسیزو راپدیخوا نه دی شوی. د هغو له پخو اسلامي کلتوري تجربو څخه پوره گټه نده اخستل شوي، بلکي د یوسمبولیک رکنیت په توگه هغو ته دوکه ورکړه شوې ده. په ډیرو مهمو فیصلوکي نادیده نیول شوي دي، نو همدا علت دی چې د افغانستان بد بختي نه یوازي پیچلې شوې ده، بلکي په یوه ناسور بدله شوي، یوه ساري او خپریدونکي ناروغي ځینې جوړه شوي ده. زما په نظر تر ټولو څرگند حقیقت دادی چې اوس له هر دخیل پلوه او ټولو سیاسي کوپړیو څخه د نجات لاره ورکه ده. که څه هم دوی همیشه په دې فکر دي چې څنگه به ورته د حل لاره پیدا شي چې خلك سوکاله ژوند وکړي.

زما په نظر جنگ گټل اسانه کار او اسانه لار نده. همدا رنگه جنگ کول یوه داسې لوبه نده چې د کابل نجونې او هندې تنري نام پکښي رقابت وکړي. خلك خوشحاله په فسق او نورو د چا خبره په هنرونو کي جائزې وگټي. جنگ یو خطرناکه لوبه ده چې د هري ورځي په تیریدو سره د وینو سیلاب ته نوي ویني ورگډوي، په هیوادکې کونډې او یتیمان زیاتوي، خلك دغربت او فقر په لوري بیایې،د ملتونو او مذهبونو ترمنځ تاریخي دښمني راخوټوي. که په ډیر مهارت سره دغي ستونزي ته دحل لاره پیدا نشي نو یو وخت به د ناڅکل سوي بدبختۍ زیږنده شي، چې بیا به یې گ جبیره او علاج دهر چا او هر افغان له وسې وتلي خبره وي، که خدای مه کړه څوك په دې عقیده وي چې په نیولو، وژلو او دکور کلي په ورانولو به داستونزه حل پیدا کړي نو دابه یو ښکاره حماقت وي. په بل عبارت دابه جهل مرکب وي. که څوك په دې عقیده وي چې کفري نړۍ یابهرنیان به ورته په زور او جنگ د حل لاره ومومي زما په نظر دا هم ناپوهي اوبې ځایه تیروتنه ده، زه په دې عقیده یم چې زور او وژل، د کورونو ړنگول یوازې په دښمنۍ کې ډیروالی او سخت والی راولي انتقام ته خلك هڅوي او بس. که څوك په دې عقیده وي چې بهرنیان به په سیاسي لحاظ ورته د حل لاره پیدا کړي نو دا د تصوراتو یو خوب دی. دهغه خوب لرونکی په عمر به رښتیا نشي، ځکه چې بهرنی ستا

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



له دين او کلتوره جلا اوسيدلی، هميشه ستا د ځپلو او دښمنۍ پلانونه جوړوي، په اسلامي ټولنه کې د توپيرونو تخمونو شيندي، هغوی تل د خپلو اهدافو لپاره فکرکوي، که ته په زړه کې مسلمان يې، نو هغه څوک ستا واقعي دوست نشي کيدلای، که خدای مکړه ته په دې باور يې چې هغه به دې دوست وي، ستا دين او دنيا ته به وده ورکړي، نو پوه شه چې د الله د ارشاد څخه پرته دې بله لاره نيولي ده.

نو دا خبره بايد ومنو چې بهرنيان ورته د حل لاره نشي موندلای او جنګ هم د وينو په څپو بدليږي. البته که دا د ستونزي د حل لاره هم وي، نو د ډيري قربانۍ او ډير ځنډ وروسته به نتيجه ورکوي.

نو څه په کار دي؟ څه بايد وشي؟ څه به راسره مرسته وکړي؟ زما په نظر بيرته خپل فرهنګ او خپلي عنعني ته مراجعه کول پکاردي. چې هغه عالم، سيد، او د قوم سپين ږيري دي. کيدای شي هغوی ورته د حل لنډه اواسانه لاره پيدا کړي، هغو ته بايد واك ورکول شي چې د افغانستان منافع، ملي استقلال، د اسلامي قانون په چوکاټ کې پوره په نظر کې ونيسي، د عالم، سيد او قومي سپين ږيري څخه زما هدف هغه کسان نه دي چي له ورايه خوځ سوي دي او دغه عنعنوي فرصتونه يې د ځان ميراث بللي دي. کوم چي د افغانستان په تولو ورانيو کي د پرديو د لاسونو د آلې په توګه استعمال سوي دي. هدف مي د کلو او بانډو هغه سپېره صادقه او سپېځلي کسان دي چي هر وخت د خپل ملت سره پاته سوي دي. موجوده اداره او سياسي واکمنان بايد بهرنيو يرغلګرو ځواکونو ته قناعت ورکړي چې د افغانستان مسئله يوازي په اسلامي او افغاني دود اواسلامې رواياتو او په کامل استقلال هواريدلای شي او بس، نه د کاپي سوي غربي ډيموکراسی په زور سره. نور دغو بي رحمو دښمنانو ته د دې وخت او فرصت ورکول چې خپلو وحشي کړنو ته دوام ورکړي په هيڅ ډول د زغملو نه دی. هغه کسان د ځان بقا د پرغلګرو په وجود کي ويني ، هغوی بايد له دغه فکره ځان شاته کړي او د خپلو خلکو سره په غم او ښادي کي ځان شريک کړي .

موږ د دې تاريخ ژوندي شاهدان يو چې د دغو معصموګړو د وژلو، توقيفولو، د کلو او کورونو د ورانولو نه شلېدونکي لړۍ لس کاله ترشا پرې ايښي دي. دا لړۍ او د يرغلګرو د مرګونو بيړۍ په يوولسم کال کي هم د غريبو او بې وزلو افغانانو په وينوکي روانه ده خولا تر اوسه زموږ د وينو څپې د نړۍ ولسونه نندارہ کوي. نور بايد دغه مسئله خپله افغانانو ته پريږدي چې پر خپلو مشکلاتو غور وکړي. افغاني جرګه بايد له سياسي اغېز نه بېخي مستقله وي، افغانانو ته هيڅ ناسمې بهرنۍ مشوري او جنګي تجهيزات د منلو وړ نه دي. زه په دې تاسف کوم چې اوس هم بهرنيان په دې فکر کې دي چې نوري وژونکي وسلې او پوځي چورلکي او الوتکي زموږ د خلکو د وژلو لپاره راغواړي او د ترهګرۍ بي مفهومه تور يېګ د ځان لپاره پلمه ګرځولي. د دوی نظر دادی چي دا چاري به له دوی سره مرسته وکړي؟! او خلك به هغو ته د غلامۍ سرونه تيټ کړي؟! خو هيڅکله نه سي کېدای. دا فکر د دنيا د اوسني پرمختګ سره مطلق ټکر لري، زه په دې عقيده يم چې وطن دوست او خواخوږي افغانان به د برتانيي، ناټو او نورو شرخووښونکو حکومتونو د داسې اوږديګ دښمنۍ سره هيڅ موافق نه وي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا چې طالب څوك دى؟ افغانى عسکر څوك دى؟ ملکي وګړي څوك دي؟ هر یو مسلمان افغان دى. هر افغان باید د خپل افغان ورور په وژنه، په بندي کولو او ځورونه خفه شي. زه بیا هم پر دې ټینګار کوم چې دغه بهرنیان هیڅ وخت زموږ دوستان نه سې کیدلاى، هغوى د خپلو ګټو لپاره کار کوي، د دوى شتون او پوره واک به کله هم زموږ درد دوا نکړي، که موږ خپل هیواد پخپله دیووالي پر لور روان نه کړو نوموږ باید د نورو بدبختیو انتظار وکړو.

## فرهنګي ارزښتونه

افغانستان له فرهنګي پلوه د ډېر ساهو او سپېڅلیو ارزښتونو درلودونکى هېواد دى، ګڼلاى شو چې دودونه مو اسلامي شریعت او نبوي فرهنګ او سنت ته نژدې دودونه دي. د مثال په ډول لنګوټه تړل چې تقریبا په عربې هیوادونو کې چې ترډېره د رسول الله ﷺ په نسب پوري اړه لري اوږد تاریخ لري، مګر متاسفانه چې په دې وروستیوکې په دغو هیوادونوکې آن په مکه مکرمه اومدینه منوره کې هم د لنګوټي رسم او رواج بیخي په ختمیدو دى. هلته سړى هیڅ فکر نه کوي چې دلته یووخت دغه سنت موجود وو. تر دې چې په علماووکې دغه سنت ډېر لږ لیدل کیږي، لنګوټه تړل بې له کوم شکه د رسول الله ﷺ سنت دى چې د ځینو علماى کرامو په نظر د لنګوټې د نه تړلو په وجه که سړى معذور نه وي او قدرت ولري د لمونځ کوونکي لمونځ مکروه کیږي. غوره داده چې د لمانځه دادا کولو پر وخت لمونځ کوونکى پر نبوي سنتو ټینګ واوسي، الله لره دې ډېرحمدونه وي چې د رسول الله مبارك فعل یې ګ زموږ لپاره یوه فرهنګي برخه ګرځولي ده.

همدارنګه ږیره مبارکه لرل چې زموږ د وطن عام خلك د ږیري نه خریل او وهل د پتمن سړي نخښه بولي آن په ښو او نیکو کورنیو کې د ږیري خریل یو د شرم او عار خبره ګڼې، زموږ د ملت اکثره وګړي د ږیري(نبوي سنتو) درلودونکي دي او کلتوري بڼه یې ګ نیولي. همدارنګه د نارینه وو او ښځو جامي تر ډېرهـ د شریعت سره مخالفت نلري، که څه هم اوسنیو غربې ډولو افغانانو د غربې نااسلامي کلتور جامي، نکټایې او پتلون راته په تحفه کي راوړي خو بیا هم ډېرى وګړي د خپل کلتوري اسلامي لباس په اغوستلو نه شرمیږي، بلکي مسلمانان په ویاړي، لکه وړاندې چې مو یادونه و کړه چې افغان طبعي اسلام پاله قوم دى. اسلام یېګ خوښ او د خوښى انتخاب دى او د اسلام په احساس همیشه ژوند کوي. کلتور یې د اسلامي غیرت سره پوره سمون خوري، په ځان متکي او باور لري په قومي مشکلاتو کې زغم او حوصله کوي، صداقت یې ګ طبعي عادت دى، د بل له کلتور سره کمه مینه لري، له همسایه سره په ځان و مال مرسته کوي، په لږ څه قناعت لري، دالله ﷺ په ورکړه راضي وي، پر ناموس او ځاني عزت باندې تر هر څه تیروي، لکه چې وایې (مال مې تر سر جار او سر تر ناموس) د سپین ږیري، ملا او سید په بې عزتي سخت خفه کیږي او په ننګه تر هر چا پیاوړي او غښتلي دي، د توهین او تکبر د فعل او قوله بد مني، مسکنت، لوږه، تنده،

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



احتیاج ، بیکوري، مرگ هرڅه مني، خو د غلامۍ پړي په غاړه کې نه پرېږدي او نه غلامۍ ته ورته ژوند کوي.کلتوري ارزښتونه چې اکثره د اسلامي قوانینو سره سمون خوري د افغاني ټولني رنگ جوړه وي.

فرهنگي ارزښتونه اصلاً په قومي جوړښت کې نغښتي دي. ډېر هغه څه چې ما په قومي جوړښت کې یاد کړه فرهنگي بڼه لري. ځیني فرهنکې پرمختگونه چې اوسنۍ کلتوري اداره یېگ مخته بیایې او د افغانستان د مومن او مسلمان ملت د کلتور په نامه ترسره کیږي، او د کلتور برخه بلل کیږي او کلتور ته وده ښودل کیږي، اصلاً دکلتور او فرهنگ سره ټکر دی.

د مثال په توگه د هند، پاکستان، امریکا، لوېدیځ او نورو هیوادونو فاحشو او ناروا کړنو ته وده ورکول، لکه ناروا او فاحش فلمونه او پرله پسې سریالونه چې په نتیجه کې یېگ تقریباًد مشرکینو یانورو نااسلامۍ مذهبونو او ایډیالوژۍ ته وده ورکول کیږي او هغو ته د احترام په سترگه کتل کیږي .

که موږ د کابل په لارو کوڅوکي د نوي نسل او ماشومانو ورځنیو افعالو، اعمالو او ویناوو ته ځیر شو لیدلای سو چې د هغو په ډېرو حرکاتو کې هندي فلمونو څومره اثر کړي، دا معلوملای سو چې زموږ نوی نسل څومره دافغانستان د اصلي کلتور متابعت کوي او څومره د هندي اوغربي کلتور عادات اورواجونه خپلوي، په نوي نسل کې د دې پر ځای چې کوشش وکړای شي د هدایت او اسلامي عنعناتو په چوکات کې راوستل شي. ادبې، اسلامي او انساني اخلاق په ځان کې راولي سیرتاً او صورتاً په اسلامي ډول جوړ شي داسې کاراو فعالیت خو د کلتوري ودو د ادارو لخوا ډېر کم شوی. بالعکس په لارو او کوڅو کې نوي نسل سیرتاً او صورتاً د پردیو کلتورونو په وده بوخت دي او په یو ډول کلتوري یرغمل کې راغلي دي. حرکاتو یېگ د فلمونو د حرکاتو څخه رنگ اخستی، اخلاق یېگ د فساد او نااسلامي رسوماتو پر لوري درومي.

تردې دمه زما په یاد کې راځي چې یو وخت به د مسلمانانو ماشومان طالب علمان په لارو او کوڅو کې په داسې حرکاتو کې لیدل کیده چې یا به یې د قرآن مبارك تلاوت کاوه او یا به یې د اسلام او رسول اکرم ﷺ په صفت کې نعتونه ویل، د رسول الله ﷺ پر عاداتو به یې چلند کاوه، د افغانستان دودیز اسلامي لباس به یېگ په تن لیدل کیده چې د سړي به یېگ په لیدلو سره سترگي خونکېدلې او خوند به یېگ ورکاوه، سړي به ورسره د راحت او خوشحالی احساس کاوه، خو اوس هماغه ماشومان یا ځوانان دي چې د غربی دموکراسۍ له برکته په اسلامي لباس اغوستلو باندې شرمیږي، د لاري په اږدو کې د هندي او انگریزي فلمونو په لیدلو نڅاوي کوي، دکوڅي له یوه اړخه بل اړخ ته په ډېره بې ادبې او ډېره بې حیایې سره تگ او حرکات کوي، نه یېگ له ملا، سید، سپین ږیري پروا اوحیا کیږی او نه د ښځو مراعات کوي، آن تردې چې ځیني ځوانان د کوڅو او واټونو په اږدوکي په نشه او مستی سره لیدل کیږي، شراب یېگ څښلي وي او سترگي یېگ سري راختلي وي. نو اېا افغاني کلتور همدا کلتور وو؟ افغاني رسم او رواج همدغه دی که څنگه؟

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دويم: دا چې د اطلاعاتو او کلتور اداره د افغانانو د هويت نمايندگي کوي، نړۍ ته د افغانستان د کلتور حقيقي انځور وړاندېگ کوي، په دې لاره کې د تبليغاتو او نشراتو وسايل په واك کې ورکول شوي دي. داچې څومره توانيدلي دي چې د دې هيواد حقيقي انځور نړۍ ته وړاندې کړي؟گ زه يو ځل په ١٣٨٤ل.کال د اطلاعاتو او کلتور وزارت د غونډې تالار ته دعوت شوي وم. په دغه تالار کې د حضرت مجدد الف ثاني صاحب ؒ لمانځ غونډه جوړه شوي وه. په دغه غونډه ياسيمينار کې حضرت صبغت الله مجددي اونورو ملايانو هم برخه درلوده. دا ښه خبره وه چې د داسې اشخاصو د علم، روحانيت، شخصيت او هڅو ستاينه او يادونه وشي، مگر هغه سالون يا د سيمينارځاى داسي جوړسوي وو چې شاوخوا په څوړندو شويو عکسونو تياره بت خانه ښکاريده، د لمانځه په وخت کې دومره ځاى نه پيدا کيدى چې موږ پکښې لمونځ کړي واى، هر لوري ته عکسونه او رسمونه جوړ شوي وه، پردېگ سربيره د ډوډۍ خوړلو په وخت کې د حضرت صاحب د استقبال لپاره د ډوډۍ د ميزونو سره ځوانې افغاني ښکلي نجوني يا ښځې درول شوي وې چې ځانونه يې هم د واده د شپې د ناوي غوندي جوړ کړي وه او د خوش آمديد او سلام په اچولو سره يې مراسم پر ځاى کړل. زه هيڅکله په دې عقيده نه يم چې د افغانستان د خلکو فرهنگ دې داسي وي چې نامحرمي ځوانې ښځې دېگ د پرديو نامحرمو خلکو استقبال وکړي، دا نه غيرت دى، نه اسلاميت دى او نه د خلکو کلتور دى، کوم چې د کلتور وزارت يې نړۍ ته د افغانستان د کلتور په نامه ښيې. خو تر دې عجيبه لا داوه چې ناستو ملايانو د دې منکر په خلاف هيڅ ونه ويل او چوپه خوله وه.

ديته ورته ښه مثال پر ټلويزيون، وي سي آر، يا ډيش، کيبل، او انټرنيټ باندې د نړۍ د نورو کلتورونو فلمونه خپرېدل دى چې تر ډيره افغانان او افغاني ټولنه د فحاشۍ او اخلاقي فساد لوري ته سوقوي. په هغو کې د ښځو سره ياري ياآشنايې کول، د ښځو سره گډه نڅا کول، د يو بل خولي سره رودل، يو بل په غيږوکې سره نيول، په افغاني تلويزيونو کې همداسې شيانو ته وده ورکول، نيمه عادى او بربنډ تصويرونه ښکاره کول، د اخلاقي فساد لپاره جلبول، په ډيش او انټرنيټ کې خو هغه څه ته هم اجازه ورکول شوي ده چې له اسلام سره لاڅه بلکي له انسانيت سره هم ټکر لري، لکه بربنډ تصويرونه، زنا، د يوي ښځي په څو تنو استعمالول، له حيواناتو سره بد فعلي کول، همجنسبازۍ او داسي نور ناوړه اعمال تر سره کول، ټول هغه څه دي چې مستقيماً د خلکو په تېره د ځوان قشر پر اخلاقو باندې منفي تاثير غورځوي، د ناروااوو سره يې مينه ډيروي، د بدو شيانو او کارونو سره عادي کيږي آن چې حرام او ناوړه کارونه بيا هغو ته د حرامو او ناجايزو په څير نه معلوميږي، که څه هم ځينې چينلونه دا اعمال د ځينو عربې دولتونو او عربې الفاظو او عربې نرو او ښځو په څېره کي ښکاره کوي، څو داسي ناوړو دودونو ته يو اندازه اسلامي صبغه او بڼه ورکړي، چي موږ ټول په دې پوهيږو چي په ځينو عربي هيوادونو کي لکه مصر، لبنان، اردن او سوريه کي اخلاقي فساد او فحشا نهايت ته رسېدلي ده. هغه څه چې هلته کيږي ياتمثيليږي کيداى شي په ځينو نااسلامي هيوادونو کې هم نه کيږي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا ټول هغه څه دي چې کلتوري اداره يې دودي او پرمختګ په لټه کې ده خو حقيقت دادی چې دا ټول زموږ کلتوري ارزښتونو ته زيان رسوي. داسي او دې ته ورته اعمال چې د لويديزوالو په مصرف او زيار د ځينو افغانی کړيو په مرسته د تمدن په نامه کيږي دين او کلتور ته يو سخت ګوزار ورکول دي. يقين لرم چې افغانان دغسي اسلام ضد شيان کله هم نه شي زغملای، که څه هم فقر، مسکنت او بې وزلي په دغه هيواد کې اوج ته رسيدلي، خو بيا هم اسلام مسلمان ته ترهرڅه محترم دی، دا يقيني خبره ده چې اسلام او اوسنۍ غربي دموکراسۍ يو له بل سره ټکر کړی دی. که موږ اسلام ته په پوره غور سره ځير شو کولای شو په دې باندي ښه پوه سو چې اسلام يو چوکاټ او محور لري، حدود لري چې دا هرڅه د هغه چوکاټ په واسطه رامحدود شوي دي. دغه بې حده او بې سرحده دموکراسي د اسلام دغه حدود له منځه وړي. که څوك په دې عقيده وي چې بې حده او بې سرحده غربي دموکراسي به زموږ هيواد او خلکو ته ښيګڼي راوړي داسي خلک بايد تر ټولو وړاندي خپل ځانونه په اسلام پوه کړي چې د الله ﷻ په دغه اسلامي قانون کې څومره نيمګړتيا وجود لري چې هغه دي په غربي دموکراسي پوره کړای شي او دغه نظام په ټولنه کې له ټولنيز او اخلاقي پلوه څومره بدلون او پياوړتيا راوستلي ده؟ که څوک د دې کار توانايې ولري بايد موږ او نورو اسلام پالو ته هم قناعت ورکړي. مګر دا يقيني خبره ده چې دغه سوال ته هغوی داسي ځواب نشي موندلای چې خلکو ته قناعت ورکړي.

همدارنګه په بهر کې هغو نړيوالو لوبو ته چې د نړۍ نامسلمان وګړي پکښې ګډون کوي او سيل او تماشا يې کوي، د افغانستان د ښځو ليږل او هلته د ښځو ګډون کول، لوبه کول، بې ستري کول، يا د نړۍ د ښکلا په سيالۍ کې چې د نړۍ نجوني د ځان ښکاروني او لوڅوني لپاره پکښې ګډون کوي، د هغو د بدن هره برخه د ښکلا د متخصصينو لخوا کتل کيږي ، څو د ښکلا ټول صفات پکې ولټوي دا هغه څه دي چې په مطلقه توګه د اسلام او شريعت چوکاټ ماتوي او اسلام ته سپکاوی بلل کيږي. د دغسي ښځو بيرته هيواد ته د راستنيدو پر مهال په مطبوعاتو کې ښه استقبالول، رشد ورکول، ډول ډول امتيازات ورکول په ټولنه کي د يوه منکر او ناروا کار خپرول او عامول دي. داسې اعمال له افغاني فرهنګ او غيرت سره هيڅ سمون نه خوري، بلکي يوه متضاده برخه تشکيلوي.

څه مهال مخکي د ښځو يو پلاوي اروپا ته تللي وو چې هلته يې د فرانسې د ولسمشر او پارلمان د غړو سره ليده کاته کول. بې له دې چې د يوې ښځې سره دې خپل محرم ورسره وي اويا د هغو د ضرورت په هکله خبري وشي مطبوعاتو دا د افغانستان لپاره يو يو ښه پرمختګ وباله او ښه يې استقبال کړ. هر منکر ته رشد ورکول که د مصلحت په نامه وي او که د چا پر ضد وي، د ماديانو لپاره وي او که خدای مه کړه د نړۍ نامسلمانو ته دا ښکاره کول وي چې دادی موږ هم د ښه استعداد او وړتيا له مخې د غربي دموکراسۍ پر لور د اسلام له چوکاټ څخه څو ګامه در ووتلو او دا د دې سبب ګڼې چې هغوی خوشحاله او راضې وساتي فکر نه کوم چې دغه هيوادته دې کومه ګټه ولري. د دې پر ځای چې ملي کلتور ته ګټه ورسوي تاوان کوي، د دې پر ځای چې سوله اوثبات راولي، نور هم حالت خرابوي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په تېر ۱۳۸٦ کال د جوزا پر ۱۷ مه د کندهار ښار د ناحیو په ډېرو مسجدونو او د علمای کرامو پر کورونو باندې چاپې ووهل شوې، علمای کرام په نیمو شپوکې په بې عزتې سره له کورونو څخه وایستل شول، په مسجدونو کې میشت طالب العلمان ونیول شول، که څه هم حکومت د سلو تنو د نیولو مسرولیت ومانه، خو محلي وګړو د سلګونو علماوو د نیولو خبري کولي، داسې عمل یو منفور او ناوړه عمل دی چې دافغانستان پر کلتور باندې مستقیم یرغل بلل کیږي. که څه هم افغانستان د بلوسه ګرو ترواك لاندې دی لږ وړاندې مو یادونه وکړه چې عالم په ټولنه کې هغه ستر شخصیت دی چې د هیواد هر وګړی د زیږیدلو له نېټې څخه بیا تر ګوره ورسره تماس لري. په دنیاکي ورته احتیاج لري، حتی دعقیدې په لحاظ په آخرت کې هم د یوه شفیع په صفت ورته اړ دی، په جومات یا مسجد کې طالب العلم اوسیدل یا ساتل د ټولو آسیایي ملکونو د مسلمانانو کلتور، رسم او عنعنه ده. خلك په خپلو مسجدونو کې طالبان د الله د رضا ، د خپلو بچیانو د دیني روزني او د محل د خیر او برکت لپاره په ډېره مینه او محبت سره ساتي. د خپلو اولادونو په رزق کې هغو ته برخه ورکوي او د خپلو کورونو په ډوډۍ یې ساتنه کوي، عزت یېګ د ځان عزت بولي او بې عزتي یېګ د ځان بې عزتي ګڼي. په داسې اعمالو کې جرأت کول او د دغسې خلکو پر عزت تیری کول د ټولو خلکو پر عزت تېری او سپکاوي دی. زه فکر کوم چې له کلتوري پلوه داسې خطرناکو کړنو ته اقدام کول د ګتې پر ځای څو چنده تاواني دی.

هر کله چې د مسرولو اشخاصو تقاضاوي او شهوات د اسلام د جایزو او روا څیزونو تر حده محدود نشي او د اسلامي حدودو دننه پر حرامو او حلالو صبر ونه کړي، هغوی بیا ډېرو خطرناکو کارونو ته زړه ښه کوي او ور ته لیواله وي. له بده مرغه دغه اشخاص یوازي او یوازي پر ځان حساب کوي، د ټولني د ټولو وګړو فکر ناقص بولي. داسې فکر کوي چې زما روا او ناروا مفکوره د خلکو لپاره ګټمنه ده. دی داسي ګڼي چې لکه څنګه چي له دې فکره سره دی اشنا دی، نو نور خلك هم اشنا دي. د داسي اشخاصو ځانځاني د دې سبب شي چې له ټولنې سره یې نه جبرانېدونکې ټکر راشي. د مثال په توګه یوه سړي له خپل هیواد څخه بهر ژوند کړي وي. هغه د بهرني کلتور تراغېز لاندې راغلي وي، آن چې په هغه کلتوري چاپېریال کې کوچنۍ لویۍ شوي وي، کله چې هغه خپل هیواد ته راستون شي، په خپل هیوادکي خپلوسپیرو اوزیږو خلکو ته ګوري فکر کوي چې دا ټول خلك جاهلان دي، ناپوهان دي او د دنیا له تمدن څخه ناخبره دي. که څه هم دغه قوم ګ له دېګ امله د ده درناوی کوي چې په بهر کې یې د تخصص او مهارت لپاره کوښښ کړی دی او هلته یې زده کړه کړې ده او په دې هیله وي چې خلك د ده له پوهې څخه استفاده وکړي، مګر له بده مرغه د هغه سره دا فکر ډېر لږ وي چې خپلو خلکو ته خدمت وکړي، بلکي د توقع خلاف غواړي په ټولنه کې غربي کلتور ته خدمت وکړي او خلک هغه ته سوق کړي او نور داسې بد رنګه څه ټولني ته راوړي چې بیایې جبران نه کیږي. دلته مي د یوه افغان ورور کیسه را یاده شوه چې د ښاغلی کرزي د حکومت د یوه مهم وزیر په کور کې د هغه د دوو سپیو مزدور وو. هغه راته داسې کیسه وکړه چې ښاغلي وزیر صاحب دوه بهرني سپي په خپل کور کې ساتلي وه. د هغو د ساتلو لپاره یې یوه مزدور ته یوولس زره (۱۱۰۰۰) افغانۍ معاش ورکاوه، یوه کیلو یې سري کړي یا پخي غوښي ورکولي او یو کیلو یې هم پاکټي شیدې وربانديې خوړلي. د هغو د معاینې لپاره یې له یوه ډاکټر

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره د هغو د بیمې قرارداد هم کړی وو، خو دغه وزیر صاحب له دې کلتور سره سره، په داسې حال کې چې افغانان له لوړې کوچه سوه بیا هم افغاني علمي بهیر ته جاهلان ویل او ځان یې یو موډرن او متمدن انسان ګاڼه.

زما د فکر او نظر خلاصه داده چې د کلتور په ساتنه کې د ټولني ساتنه راځي او د کلتور د رنګولو سره د ټولني ورانې تړلې ده، د کلتور ساتنه او درناوی په هغه چاسره کیږي چې د کلتوري ارزښتونو په غیږ کې ستر شوی او روزل شوی وي او له خپلو دودونو سره بلد او ورسره عادت وي. د دې سره سره ورسره د زړه خواخوږي او درد ولري، په هغه چا باندې نه کیږي چې خپل اولس او خلک جاهلان بولي، که څه هم ظاهراً د خلکو د نفرت د نه پیدا کولو په خاطر کلتوري ارزښتونه تریوه وخته په پام کې نیسي. خو دا یوه موقته استفاده ده د زړه دکومي او دردمندانه خواخوږي نده، په داسې رمزونو کې چې څومره کوشش هم وشي بیا هم د زړه پټ راز یو وخت راڅرګندیږي. هغه مهال په اتفاقي ډول له کلتور سره ټکر پیدا کوي، داسې یو غربې کلتور پلوه شخص چې له منکراتو، زنا، شرابو، سود او نورو منهیاتو سره بیخي بې احساسه شوی وي که څه هم د لوړو زده کړو درلودونکی وي کله چې وطن ته راځي د دې پر ځای چې د خپل ملت وګړي چې د ګډ ژوند، عفت او عزت د زرګونو کلونو تاریخ لري جاهلان وبولي، علمای کرام چې له څوارلسو سوو کلونو راپه دې خوا یې د اسلام سپیڅلی دین ساتلی دی، وده یې ورکړي او مشري یې کړي جاهلان وبولي ښه به داوای چې لومړی یې خپل ځان مطالعه کړی وای، خپله کورنۍ یې مطالعه کړې وای چې ده خپله او د ده کورنۍ له اسلام او اسلامي کلتور سره څومره واټن او فاصله نیولې ده، او څومره له خپل ملي کلتور نه پردی شوی دی؟ چې د هغه په نتیجه کې یې عزت او کلتور ته څومره صدمه رسیدلې ده. ترکومه ځایه چې سړی د دغو غریبانو او خوارانو له حالت نه خبریږي هغه مهال ویلای سو چې ځینو داسې کسانو خو هر څه له لاسه ورکړي، اسلامی کلتور څه چې د خپل کور واك، مېرمن، لور او زوی یې یو هم په اختیار کې نه وي، د خپل وطن راوستلو ته یې نه شي چمتو کولای. له منکراتو څخه یې نه شي منع کولای. په معروف سره یې نه شي امر کولای. کله چې یو سړی د خپل ځان او اولاد اداره نه شي کولای، د الله له بغاوت څخه ځان او کورنۍ نه سي ژغورلای زما په نظر هغه زموږ د هېواد په سنتي او اسلامي اداره کې خامخا پاته راځي، که څه هم د لوړو زده کړو او ځینو ښو تجربو درلودونکي وي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## جغرافيايي اهميت

افغانستان د تاريخونو په شهادت ترډېره خپلواك هيواد پاته شوي دی ځکه چې د دغه هيواد خلکو د زرگونو کلونو په تاريخ کې د خپلي خپلواکۍ لپاره ځانونه د تيرو تورو څوکو ته ورکړي، د خپلواکۍ، پت او عزت جنډه يې هسکه ساتلي ده. د هر مسقيم نړۍ خور استعمار داړي يېگ ورماتې کړې. هغو ته يې اجازه نده ورکړي چې د هغو شوم اهداف د هغو د داخلي پوچ مغزو لاس پوځو گوډاگيانو په مرسته پردېگ سپيځلي خاوره پلي شي، په دې اړه تير تاريخونه په بشپړه توگه روښانه دي، آن په ۱۸۹۳ ميلادي کال خو د افغانستان همدې اوسنيو خواخوږو، يعني شيطان صفتو انگريزی واکمنو د برچې په څوکه د افغان د يو موټي قوم پر زړه د ډيورنډ په نامه ناولي اوکرغيړنه کرښه تيره کړه او په خپلو بې رحمو تيرو چړو يېگ د افغان يو زړه دوه ټوټې کړ، چې تر اوسه پورې يېگ لا د تاوتريخوالي له زوبلن پرهره وينې څاڅي. خو بيا هم افغانستان د سر ټيټول د ځان د عزت زيان وباله.

د سره نړۍ خور ښامار مستقيم او مخامخ يرغل مو د سر په سترگو وليد. زموږ له مجاهد ملت څخه يې هم ډيري محترمې څيري ترخاورو لاندی کړي، سرو سړي خورو او نړۍ خورو ځناورو تر دې وړاندېگ په خپل استکباري قوت سره د نړۍ د خوړلو اراده وکړه. پر دې بنسټ يې د منځنۍ آسيا ډير اسلامي هيوادونه په بري او کاميابي سره تر ستوني تير کړه، ټيغ يې پروکيښ او هضم يې کړه، مگر افغانانو په غښتلو موټو او د خپلو مبارکو وينو په بيه بيا هم خپل استقلال وگاټه، يوازي دانه چې افغانانو خپل استقلال وگاټه، بلکي د دوی د سر ښندنو په پايله کي د منځنۍ آسيا ټول هيوادونه له دغه استعمار څخه آزاد سول. ختيزي اروپا ته يې آزادي وروبخښل. د برلين تاريخي د ېوال ونړيد او د هند د سمندر څخه يې د سره سيلاب مخه ونيول، ټوله نړۍ يې د دوی له شره وژغورله، کمونستي گوډاگيو ته يې عفو وکړه. دا چې اوس د نړۍ خورو استعماري قوتونو په پاليسيو کې بدلون راغلي دی او د مستقيم استعمار پر ځای يېگ شاپرشا استعمار ته ترجيح ورکړېده، سياسي تگلاره يېگ د بلی موخی په رنگ هماغه دوديز هدف ته متوجه کړي ده، دا يوه بدغوني ستونزه ده چې تودوښه يې زموږ تر هيواد پوري راورسيدله.

دافغانستان لرغوني خاوره تردې لانور زيات د سياسي جغرافياېي سترتوب او لومړيتوب اوږد تاريخ لري. دا سيمه د ختيځ او لويديځ ترمنځ او په جنوب لويديځ کې د هند د نيمي وچې خواته چې اوسنی پاکستان يېگ احاطه کړی د سوداگريو او کوچيدنو څلور لارې يا پل گڼل شوی. ډير يرغلگر تردې څلور لاري تير شوي او خپل زور ازموينه يې کړي ده. فارسيان (دوه ځله)، يونانيان، عربی مسلمانان، ترکان، مغول، انړيزان او روسان دلته د بېلو بېلو مقاصدو د تر سره کولو لپاره راغلي دي. او بالاخره وروستی ځل بيا متحدو انگريزانو په يوه بل چوکاټ کې د يهودو د پلانونو سره سم خپل ناوړه مخ او د تعصبونو ډک ناولی سر راښکاره کړ، ډير ځله افغانستان د يوي واکمنۍ د واکمنو لخوا د داسې گوښه مورچل او سنگر حيثيت غوره کړی چې له هغه څخه د بلي واکمنۍ پر حدودو يرغل شوی يا کيږي،

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډير ځله دا د دوو امپراتوريو يا قوتونو تر منځ يوه بې ځښتنه ځمکه ګڼل شوي چې پراختيا غوښتونکو ګاونډيانو له سياسي خلا څخه استفاده کړي چې د چا څومره اوڅه لاس ته ورغلی پر هغه يې خپټه اينښې ده.

افغانستان اوس په هغه جغرافيايي موقعيت کې ندی پروت ګچې پرون يې موقعيت درلود. د روس د ګډي پولي پر ځای په شمال کې دري هيوادونه چې پخوانی اعتبار يې بايللي بيا رامنځته شول، چې عبارت دي له ترکمنستان، ازبکستان، او تاجکستان څخه. دغه هيوادونه د دغه هيواد د شرقي اوشمالي پولو سره نښتي دي. په بل طرف کی يې چين، نوی پاکستان او ايران پراته دي چی د دې هيواد د شرقي، غربي او جنوبي پولو سره نښتي دي. نن د افغانستان پخواني سياسي ارزښت اقتصادي مسايل او ارزښتونه راسپړلي دي چې په کې د منځنۍ آسيا نړيوال تجارت او د تيلو او ګازو له سرچينو څخه ګټه اخيستل دي. بډايې او ځواکمني واکمنۍ د سونګ موادو د ترلاسه کولو په هيله له هري وسيلي کار اخلي او ځانونه تر نورو وړاندې کوي. مظلوم او بي غاوره افغانان بيا د سر په ژغورنه پوري حيران دي چې چاته وژاړي، چاته فرياد وکړي، چيري ولاړشي او د چا لمن ونيسي. پخوا د ليري امپراتوريو ترمنځ چې لمني يې تر افغانستان پوري را اوږدې شوي وې، د رقابت خبري کيدلي، خو اوس د هغو د موجوديت سره سره د ګاونډيو تربګنۍ ګرمي شوي، سختي شوي او بالاخره يې وده موندلي ده. داسي فرض سوې او پټېيل سوې وه چې پخوانی افغانستان به چې تر ۱۸۹۳ م.کال وړاندې افغانستان وو تر کال ۱۹۹۳م. کال وروسته بيرته هم هغه پخوانی افغانستان وي. د دغه هيوادبيل شوي قومونه به بيرته لکه بيل شوی المان يوله بل سره نښتی وای. خو له بده مرغه چې د دغې مفکوري پايښت پاته قوم هم په ناتارکي ښکيل کړ. آن د دغه اورتوښ تر هغي بلي خواهم ورسيد. د هند، پاکستان تاريخي تاوتريخوالي په ستراتيژيکه توګه نور هم پر وچو بوټو تيل شيندلي، څو څوك پکښې لوګی شي او څوك ځانونه پري ګرم کړي او خوند تري واخلي. دلته دري موضوعات د څيړني وړ دې، چې د سياسي او جغرافيايې پلوه موږ له ننګونو سره مخامخ کوي او د ډېر وخت راپدې خوامو ځمکنۍ بشپړتيا ګواښې.

لومړی: ځمکنۍ بشپړتيا.

دويم: تجارتي ليوالتيا.

دريم: د تيلو، غازو او د نورو توکو زېرمو ته د زبرځواکونو رسېدل.

زموږ ځمکنۍ بشپړتيا ته هغه وخت خطر پيدا شو چې کله د انګريزانو او روسانو ترمنځ د سيمي او واك د پراخولو لپاره رقابت او هڅي ښې ګرمي وي. انګريزان چې پر ډيرو خپلواکو هيوادونو يې خيټه اچولې وه او د هغه وخت او تاريخ تر ټولو ستر ځواك وو، په نولسمه پيړۍ کې د هند تر تودو اوبو پوري ورسيدل آن د افغانستان ځيني سيمي يې تر ستوني کښته کړي. په مليونونو انسانان يې ورک او تر خاورو لاندې کړل، روسانو چې د هند تودو اوبو ته ډيګ سترګي ختلي وي د افغانستان بل اړخ ته د مستۍ وزرونه تر پول، هغو به د افغانستان واکمنان د انګريز يا پرنګي مقابلي ته هڅول، د مرستي وعدې به يې ورسره کولې، مګر د سختی په وخت کې به يې لاسونه ليری تر شا ونيول

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



او بې وسه افغانان به يې د انګريز د طوفان مخې ته يوازې پرېښودل. خو بيا هم انګريزان په دغه هيواد کې په ارامه پاته نشوه. د هغو سترو پرغلونو ته په زغرده جواب ورکول شو. د هغو هدف ته ښه راغلاست ونه ويل سو. افغانانو د خپلو وينو په بدل هغو ته ماته ورکړه. مګر له بده مرغه چې کله امير عبدالرحمن خان په ۱۸۸۰ ميلادي کال د انګريزانو په توافق او په شرائطو منلو سره د افغانستان ګوډاګی ډوله او خاين آمر پاتيږي، هغه د مرييتوب ځينو توافقاتو ته زړه ښه کوي، د هيواد د زرګونو شهيدانو پرسرونو پښه ږدي او نورهم افغانستان د دښمنانو په دامونوکې ښکېلوي.

## عبدالرحمن خان په لاندې موادو قرارداد لاسليک کړی وو

لومړی: دا چې د هېواد دننه ماتې خوړلي انګريزان به دافغانستان له خاوري سالم هندوستان ته ستنيږي. افغاني مجاهدين به په هغو باندې حملي نه کوي.

دويم: افغانستان به پرته له برتانوي استعمار څخه له بل هيڅ هيواد سره سياسي اړيکي نشي ټينګولای.

دريم: لوی کندهار او د هغه مربوطات به د بل واکمن تر واك لاندې راځي.

څلورم: د جنوب ځيني هغه سيمي چې د اوسنۍ کرښي په هغه بله خواکي پرتي دي خپله د انګريزانو ترواك لاندې پاتيږي.

پنځم: کوم ترون چې وړاندې له امير محمد يعقوب خان سره د ګندمك په نامه شوي دی د راتلونکي لپاره به د اعتبار وړ وي.

دا هغه بدمرغه موافقه وه چې افغانستان يې پر ځو ټوټو باندې وېشلو ته برابرکړی وو، چې په هغه کې د افغانستان زړه کندهار هم شامل وو. خو کله چې انګريزانو د خپل پلان مطابق عملي قدم واخست له نيکه مرغه د لوی کندهار د ميوند په سيمه کې د طالبانو له مذهبې مقاومت سره مخامخ شول او د درنو تلفاتو په ورکولوسره يې ماته وخوړه. که نه اوس به لوی کندهار هم د عبدالرحمن د موافقي پر اساس د افغانستان برخه نه وای. مګر د انګريزانو د ماتي سره سره بياهم ځيني سيمي د انګريزانو ترواك لاندې پاتي شوي.

له وخت څخه په ګټه اخستلو سره په ۱۸۸٤ ميلادي کالکي روسانو د افغانستان په شمال ختيزو سيمو کې بريدونه پيل کړل، چې د هغو په نتيجه کې يې مرو او د پل خاتون سيمې لاندې کړې. د دويم ځل لپاره يې په ۱۸۸۵ کال يې ايماق، پنجده، اق تيپه، چمن بيد او چشمه سلم په زور ونيول چې تر اوسه پوري دغه سيمي د افغانستان له واکه وتلي پاتي دی. همدارنګه انګريزانو په ۱۸۸۵ کې هژده ناو او د ايوبې پراخي سيمي او کاريزونه، په ۱۸۸۸ کې نمکسار

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



او د سیستان زیاتي سیمي، په ۱۹۰۵ کې د هلمند د اوبو د سیستان دریمه برخه له افغانستان څخه بېله او ایران ته يې ورکړه، همدارنګه يېګ خپله د ډیورنډ د ناولي او ناروا تړون له مخي په ۱۸۹۳ کې پاته افغانستان پر منځ دوه ټوټې کړ، د ډیورنډ د کرښي جنوب او جنوب شرقي ټولې سیمي يې په خپل قلمرو ورګډې کړي او اوسنی نیم افغانستان همداسې د جنجالونو پیټی پاتې شو.

تر څه لږ ارام وروسته بیاهم د افغانستان او نوي پاکستان ترمنځ لانجي رواني وي. د پښتونستان خبره د ډیورنډ د کرښي پر سر نانډری، مصارف او مشاجري تر حده تیري شوي. دا موضوع لاسړه سوې نه وه چې د برتانیې یاانګریزانو د وحشت زخمونه جوړسي په ۱۳۵۷ لمریز کال سره پوځ او سره ښامار افغانستان ته غاړه اوږده کړه، داخلي مزدورانو ورسره مرسته وکړه. د لږ وخت لپاره يې د افغانستان پر ټوله خاوره منګولي ټینګې کړي، د کریملین د پلان له مخي افغانستان د انحلال په صورت کې د شوروي اتحاد شپاړسم جمهوریت بلل شوي وو، افغاني ملحدو ګوډاګیانو چې په دې هکله د دوی په راوستلو کې مرسته کړي وه دیته ډېرلیواله وه، خوشحاله وه، انتظار يې کاوه چې د شوروي ملحدي اداري په عقیده کې ورګډ شي او افغانستان د شوروي اتحاد یوه برخه وګرځوي داچې په نتیجه کې يې څه بدرنګي دوی ته پیښه شوه او څه غمیزه يې افغانستان ته راوړه، ډیر مجاهدین او هیوادوال لا اوس هم ددغه حالت شاهدان دي.

له بده مرغه د روس ترماتي وروسته افغانستان یو ځل بیا د یوي لوېې لوبې ډګر وګرځید، پاکستان، ایران، ازبکستان، تاجکستان، هند، ترکیه اوروسان د لوبو په ګډلو او بایللو کې ښکیل شوه. د لیري او نژدې پټو او ښکاره لاسونو ښکیلتیا یو ځل بیا د هیواد څمکنۍ بشپړتیا او ملی وحدت ته ګواښ شو، د دغه هیواد د اولسونو په منځ کي د ژبې، سیمي او قدرت لپاره بېلتون ته لمنه ته ووهله شوه، د لږکیو او ډیرکیو خبره جوړه شوه، ایتلافونه او اتحادونه تقویه کړل شول. په مستقیم ډول د ویش او تجزیې خبري د میز سر ته راغلي، د راتلونکې افغانستان د تجزیې او ټوټه کیدو نقشي په بهرکې جوړي شوي، د مځکي پر ویش لا خبره سرته نه وه رسیدلي، چې یو ځل بیا د امیر عبدالرحمن خان غوندې د قدرت د ساتلو لپاره د افغانستان پر ځمکنۍ بشپړتیا د سودا او پیر او پلور خبره توده شوه. له نیکه مرغه په کال۱۹۹٤م. کي د طالبانو په ناځاپي راټوکیدلو سره خبره پر بل مخ واوښته اود افغانستان له سیاسي خلا څخه ناروا او ناوړه استفاده په ټپه ودرول شوه.

له بده مرغه چي په دغه پاڅون سره هم افغانستان ته کامله سوبه په برخه نشوه، د کفري نړۍ لخوا د ملګرو ملتونو په مرسته افغانستان کاملاً په انزواکې واچول سو. اقتصادي او سیاسي پرمختګونه په ټپه ودرول سوه، څو د پاکستان په مخلصانه مرسته افغانستان د ۲۰۰۱ کال په دسمبر کي یو ځل بیا د یهودو د پلان مطابق د متحدو انګریزانو منګولو ته ولوید. سیاسي او اقتصادی پرمختګونه د بهرنیو هیوادونو په منافعو پوري وتړل شول، د افغانانو د وژلو، توهینولو او بندي کولو هنګامه په یوه او بل نامه سره توده او ګرمه روانه شوه او لاتراوسه دا هنګامه هماغسي ګرمه روانه ده. افغانستان او افغانان دغشو تر تیرو څوکو تیرشول او تیریږي. د کلستر او کروزو بمونه مولا اوس هم کلي اوکورونه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



له بيخه باسي، هم مره اوهم پره بلل کيږو. هيڅوک مو فرياد او ژړاته غوږ نه نيسي. خپل د رمو سپي مو د پرديو ليوانو په خدمت کې راغلي دي، وژل کيږو موږ، خوند بل څوك تري اخلي. دا چې دا بي رحمه ميچنه به ترکومه زموږ سرونه ميده کوې الله ته معلومه ده.

## دويم تجارتي ليوالتيا:

لکه څنګه چې مو وړاندې يادونه وکړه داچې افغانستان د ختيځ، لويديځ، جنوب او شمال ترمنځ د اړيکو د ځمکني پيوستون څلور لاري يا په بله اصطلاح د پله حيثيت لري له همدې کبله د دغې سيمي اهميت د څلورو خواوو پر اقتصادې ارزښتونو باندې مثبت اثر غوځوي. همدارنګه د دغه هيواد بې ثباتي د څلور خواوو پر اقتصادې ازرښت ياتړاو منفي اثر غوځوي، لکه څنګه چې د دغه هيواد منفي او مثبت اثرات د ټولګ سيمي لپاره ارزښت لري همدارنګه دا ارزښت څو برابره دافغانستان لپاره ارزښتمن جوتېدلای سي چې د اقتصادي او سياسي پلوه تري په پراخه پيمانه ګټه اخستلای شي. په نړيواله توګه د تجارت پياوړي کيدل افغانستان د يوه ښه کريډېټ ښښتن کولای شي او د دې پر ځای چې د تل لپاره د ګاونډيو محتاج اوسي او هميشه يېګ تر ژوبلي ګوتي ونيسي برعکس اوښتلای شي چې دا به د افغانستان لپاره په ملي استقلال او ځمکنۍ بشپړتيا، متقابل احترام او د کورنيو چارو په نه لاسوهنه کې مثبت رول ولري، له بلې خوا به نړيوالي تجارتي ځانګي او دفترونه د افغانستان دننه فعاليت پيل کړي. له دې سره به افغاني تجاران په بين المللي معيار د اعتبار وړ وګرځي. د دې سره سره کيدلای شي چې په تدريجي ډول افغانستان په نړۍ کې د بين المللي تجارتي مرکز په توګه وپيژندل شي. همدارنګه کيدلای شي ګاونډې هيوادونه ورسره د پياوړي اقتصاد ښښتنان شي او دا سيمه به يوه ارامه امينتي سيمه وګرځي.

سره د دې چې ګاونډيان او نړۍ د دې خبري په ډېګ اهميت ښه پوهيږي او په ارزښت يېګ ترموږ هم ښه خبر دي مګر ځيني انديښني، انساني حرص او تمايلات پکښي شته چې د ډېګ پرمختګ په وړاندې ستونزي راولاړوي ترڅو دغه کريډېټ د افغانانو په برخه نشي. همدارنګه د افغانستان د استقلال پر سرلوبه روانه وساتل شي.

افغانستان چې دامهال د وچي ځمکي کور دی اوبو ته د رسد او تجارت خپله مستقله لاره نلري. له همدې کبله له نړيوالو تجارتي اسانتياووڅخه بې برخي پاته دی. دغه هيواد خپله اړتيا په لنډ بازار کې له پاکستان او ايران څخه پوره کوي، په لوی بازار کې هم په ترانزيتي توګه د دغو هيوادونو له بحري حريمه استفاده کوي. که څه هم په دې تجارت، راکړه ورکړه، ټيکس او ټرانسپورټ کې به ټولي سيمي ته ښيګڼي په لاس ورځي، خو د ګاونډيو ځيني ترينګلتياوي هر وخت افغانستان په انحصار کې ساتل غواړي چې کله کله سياسي بوختيا هم د دغه پرمختګ سبب ګرځي.

افغانستان لکه څنګه چې له ډېره وخته د کوم قوي سياسي قوت خاوند نه وو او نه اوس د يوه سياسي قوت وړتيا لري، نو له دې امله د ښه مارکيټ د اوږده احتياج تر تاثير لاندې راوړل کيدونکي هيواد پاته کيږي. له بلې خوا د

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بهرنی مارکیټ په اصالت کې همیشه ستونزي لري. زما په یاد دي چې د پاکستان حکومت زما د سفارت په وخت کې چې ۲۰۰۰او۲۰۰۱ میلادي کال په بر کې نیسي د وه ځلي پاکستان د افغانستان د سوداګرو پر ترانیزیټي مالونو بندیز ولګاوه، یو ځلي پر اوولس قلمه او بل ځل پر شل قلمه باندې داعمل پلی شو چې په هغه کې تیلفون، ایرکنډیشن اونور برقي الات او اجناس شامل وه، ایران هم څو ځلي خپل بندرونه د تجارانو پر مخ وتړل د پاکستان او ایران د دې ناقانونه اعمالو په نتیجه کې د کراچي او بندرعباس په بندرنوکې افغانې سوداګروته د ۱۸۰۰ میلیونو امریکایې ډالرو په ارزښت تاوان ورسید. ځکه د هغو مالونه یاخراب او ډیمرچ سوه یا د وخت په تیریدو سره ایکسپایر شوه. سره د دې چې د بین المللي اصولو او قوانینو له مخي باید د داسې پیښو تاوان ورکول سوی وای باید کله هم د ګاونډی هیواد له جغرافیایې نیمګرتیاوو څخه استفاده ونه شي او تر ژوبلي ګوتې ونه نیول سي. د دې هیواد سره د ظلم نور ډېر موضوعات پیښ شوي دی. بیا ورته هیڅ التفات نه دی شوی. ایران هم د افغاني تجارانو پر مالونو خو خو ځله بندیز ولګاوه ، څو څو ځله یې د افغانستان د روابذو په ترینګلتیا سره خپل سرحدونه په ټپه وتړل چي په دې سره د خلکو مالونه یا خراب او یا بېخي ډېر تاواني سول.افغانستان په داسې کمزوری او ضعیف دریځ کې خپل اعتبار ته وده ورکوي چي له پیړیو راپه دې خوا د افغانستان په فرهنګي او کلتوري برخو کې د دغو ګاونډیو له سرچینو الهام اخلي، د سیالۍ اورقابت په ډګر کې بې له زوره له بل هر څه څخه بې برخي پاتیږي. د دغه هیواد تجارتي ارزښت بیا هم له سیاسي جغرافیې سره تړلی دی، چي ترډیره یې شنل اړین دي. دا چې اقتصادي کمزوري د ښوونې او روزنې او مسلکي روزنې په کچه کې کمښت راولي، منفي اثرات یې له ورایه تر سترګو کیږي. دغه منفي اثرات هېواد منفي لور ته ټېل وهي. د تعلیم او اقتصاد په نیمګړتیا کې هیواد پر خپلو پښو ولاړنشي پاته کیدلای. تل باید په یوه ناورین اخته اوسي په داسې حالت کې سیمي ته د جغرافیایي له کبله د خلکو لیوالتیا کمه وي چې تر ډیره یې اټکل کیږي، کوم چې د ګاونډیو د ترینګلتیاوو سبب هم ترډیره دا کېدلای، چې کله کله د پراخ قومي جوړښت په غیږ کې د حقوقو او فرهنګ په څیر د تورو لمبو پیلوځي په جغرافیایې ارزښتونو کې استعمالیږي.

د تیلو او غازو شخوند اوس نورو خوړوته اړتیا لري عربې هېوادونو په تېره سعودي عربستان د ختیزي اروپا او امریکا لپاره ځانګړی اهمیت درلود. د دغو هیوادونو یا سیمي پر سر له تیرو دوو سو کلونو راپدې خوا سیاسي رقابتونه ډیرګرم شویدي، خو امریکا بیا هم د سعودي عربستان د تیلو پر زیرمو خیټه اچولې وه. دوړې ژوی غونډي یې نس په ډك کړ. تر ډیره یې تر ایران او عراق ګ په تیټه بیه د تیلو اخیستلو ښه استفاده کوله، کله چې په عراق او ایران کې د امریکا د غرور او غلطي پالیسی او د هغو وختونو د حکومتونو د بې وسۍ له امله د دوی پر ضد د استقلال په نامه انقلابونه اړین وبلل شول. همدا کار سرته ورسید، د ایران او عراق له تیلو څخه د نا امیدۍ په سبب امریکا له دغو هیوادونو سره طولاني دښمنۍ ته په یوه او بل نامه سره لمنه ووهله، آن تردې چې پر عراق باندې یې د مستقیم یرغل لاره پیدا کړه. د ربدره یې کړ. هرڅه یې ورتبا کړه. د بې اتفاقي تخم یې د تل لپاره پکښې وشیندی. خو د تیلو زیرمې یې ښه ورته تشي کړلي. مګر ایران لا اوس هم د انتظار په حالت کې اوسي. خو د ډیر استعمال او یا د ډیر وخت په تیریدو سره اوس داسې ښکاري چې د خلیج تیل د لویدیځ لپاره د صادراتو د نه پوره کولو اندېښني پیدا

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړي اویالوړو نرخونو هغوی دوارخطایی سره لاس اوګریوان کړي آن چې دساینسپوهانو او د تیلو د ماهرینو په نظر له ۲۰۲۵څخه تر ۲۰۳۰زیږدیزکال پوري کیدای شي د خلیج تیل یوازي د خلیجې هېوادونو د اړتیا لپاره وکارول شي، او لویدیز ته به د صادراتو لپاره کافي نه وي. له همدې کبله باید د لویدیز د اړتیاوو لپاره نوي زیرمي ومونډل شي همدا علت کیدلای شي د ختیزو او لویدیزو هېوادونو د تیلو د کمپنیو چټکتیا او لیوالتیا د قزاقستان، ترکمنستان او افغانستان خواته ګړندۍ کړي وي. د ترکمنستان د صادراتو نل لیکه چې د هند تر سمندره یې د تېریدلو لاره کتلې شوي د افغانستان پر سهیل ډېره لګوي. دغه نل لیکه په ترکمنستان کي(۱۲۰) کیلو متره، په افغانستان کي (۱٦۳۰) کیلو متره او په پاکستان کي (۱۷۰) کیلو متره غځیږي. له هم هغه ځایه بیا د بېړیو د تم ځایونویا ګودرونو څخه د هند پر لور حرکت کوي. افغانستان په دغه پروژه کې له ګازو څخه پر استفاده سربېره د ټیکس وړیا ګټې په لاس راوړي او د ګازو د صادراتو آسانتیاوي او وړتیاوي هم ترلاسه کوي او د دې باوجود د ترانسپورتي عراده جاتو په کار لوېدل، ساختماني بوختیاوي، د کارګرو لپاره د کار فرصتونه هم رامنځ ته کیږي چې د افغانستان په اقتصاد کې مهم رول لوبوي، خو دا پروژه د دغو ګټو سره سره د خنډ او ځند لپاره لاملونه هم لري، چې هغه هم د جغرافیایې سیاست سره کړۍ اوځنځیرونه تشکیلوی، هغه کمپنۍ چې په دغو زیرمو کې پانګونه غواړي د ډېر لوی نفوذ درلودونکي دي چې عمدتاً په لویو حکومتونو او په څارګرو ادارو کې اعتبار لري .

د تیلو او ګازو تجارت که څه هم په اروپا او امریکا کې د شخصي شرکتونو تر نامه لاندې مخته بیول کیږي، خو په حقیقت کې حکومتونه په مستقیم ډول په دغه کاراوبارکې رول ترسره کوي. هغه څه چې د کمپنیو مطلب دی د استخباراتو او څارګرو ادارو په مرسته ورته د حکومتونو لخوا لاره هواریږي. د تیلو یا ګازو په نامه نه بلکي په یوه او بل نامه. په مستقیم اوغیرمستقیم ډول سره،کیدلای شي چې مصارف یې مستقیم د کمپنیو لخوا ورکول کیږي. د دغو هیوادونو په لویو تجارتي کمپنیو کې سیاسي قوت او اغیز په کامله توګه مطرح دی چې د قوي سیاسي قوت ملاتړي په بریالیتوب سره مطلب ته نژدي کیدلای شي. همداسبب دی چې پوځي قوتونه هم د دې کار او ګټې لپاره خوځیدلي دي.

په دغه سیاسي لوبه کې داسې معلومیږي چې اوس هم ځینو کمپنیو چې سیاسي ملاتړ یې کمزوری وي ماته منلي وي که څه هم تر اوسه د دې کار پایله معلومه نده ، خو اوس هغه څه ډېر زیات مهم دې چې د پردې شاته د سیمې د هیوادونو پټې اندیښني دي چې په درو مرموزو جالونوکې پټ غوندې نغښتي دي چې سپړل یې اسانه کارنه دی.

زه غواړم په مختصر او بې تفسیره ډول هغه ته ځغلنده نظرواچوم کیدای شي نور څیړونکي ورباندې ترماښه پوهیږي.

لومړی: د تجارت انحصار چې په سیاسي فشار سره منځ ته راځي .

دویم: درغلې کول چې په اصل کي له سیاست سره تړاو لري.

دریم: مذهبي او کلتوري پرمختګ ته زیان رسول.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



لومړی: په ټولوعربې هېوادونو کې په ځانګړې توګه په سعودي عربستان کې د تجارت د انحصار پر سر ډېري ناندريزي لوبې ترسره شوي، چې هر وخت د سياسي قوت څخه په استفادی د خلکو او شخصي تجارانو حقوق تر پښو لاندې شوي، د ملت او حکومت ترمنځ بې اعتمادي اوبې باوري پيدا شوې، د پردي شاته هغه څه روان دې چې نه يې حکومت اظهارکولای شي او نه يې خلك زغملای شي، مګر په ډېره چالاکۍ سره داسې کړنو ته د بغاوت يا شرارت ټکي اسانه الفاظ دې چې له قدرت او وخت نه پکې ګټه او بده استفاده کيږي.

دويم : درغلي کول: کېدای سي داسې ډيري بېلګي تر لاسه شوي وي. هغه کمپنۍ چې د تيلو د قراردادونو ذمه واري لري اوس مهال د کمپنيو پر ټولو عايداتي منابعو کنټرول لري، د صادراتو پر وخت د کنټرول ميټرونه د هغو په اختيار کې وي، د صادراتو کچه نه حکومت او نه هم خلکو ته معلوميږي. همدا ډول د تيلو د صادراتو پيسي له هغه هېواد څخه د باندي په بهرنيو بانکونو کې تحويليږي. ويل کيږي چې تر ډېره د دغو پيسو استعمال د حساب د واکمن په اختيار کې هم نه وي چې په عربي نړۍ کې د وروستيو تحولاتو د دې ثبوت لپاره په درځنونو اسناد را وسپړل.

همداسې د ځينو واکمنو په درغلۍ سره د هېواد د عامه عايداتو له پيسو څخه څه اندازه يا فيصدی د بډو(رشوت) په توګه شخصي حسابونو ته انتقاليږي، چې له همدې کبله د ځينو واکمنانو په بانکي حسابونو کې له هېواد څخه د باندې په مليارډونو ډالر يا په لسګونو مليارډونه ډالر جمع شوي وي. دغه زياتې پيسي چې بانکونه استفاده ځني کوي يوازې د دغه واکمن په حساب کې د هغه په نامه باندې وي. که چيري هغه وغواړي خپلې پيسي له دغوبانکونو څخه بل ځای ته انتقال کړي بيا هم بايد د هغه د مصرف او تاديګ لپاره لومړی پيشنهاد ورکړي. که دغه انتقال د هغو له نظر سره سمون درلود بيا به يو څه ورکوي او که يې سمون نه درلود بيا له حساب درلودونکي څخه د تحقيق امکان هم لرې چې د خپلو پيسو د لګښت پوره توضيحات ورکړي.

دريم: له ډېرو وختونو را په دې خوا په نړيواله کچه د غربي دموکراسۍ د پلي کولو هڅي رواني دي. غربی دموکراسي هغه نظام دی چې په حقيقت کې د مسلمانانو لپاره وژونکې زهرجنه دوا غونډي ده چې که يې د استعمال سره ډېر احتياط ونه شي پخپله وژونکی يادرمل کاروونکي هم ورسره وژلای شي. دغه تقليد شوې دموکراسي هغه يوازنی نظام دی چې د مسلمانانو په لاسونو باندې د اسلام جرړې باسي او د خدای پر ځمکه باندې د خدای نظام ناکافي او د اجتماعي ژوند د اړتيا وو سره ټکر تعبير وي.

دغه بې جلوه دموکراسي داسې يو نظام دی چې د فحش او منکراتو په تدريجي تعميم سره د اسلام سره مقابله کوي. هم دارنګه د داسې دموکراسۍ عاموالي او اعتياد د ځينو مسلمانانو لپاره د ارتداد او د اسلام سره د نه مينې او فاصلې سبب ګرځي. له ډېره وخته راپديخوا، د رسول الله ﷺ له زماني څخه تر اوس مهاله اسلام او مسلمانانو ته په يو او بل نامه سره د اسلام د مخ نيولو، بدنامولو، کمزوري کولو هڅې په زور، پيسو، تبليغ، شهوانيت او نورو وسيلو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره رواني وي او یا رواني دي. په هغو کې تر ټولو لوی سازش چې مثبته نتیجه یې ورکړې ده دغه ناولې نامقیده دموکراسي ده، چې د قومونو ملتونو او حکومتونو تر منځ د مذهبې درنو اختلافاتو سبب کیږي. په اوسني افغانستان او عراق کې د اشغال سبب هم په مسلمانانو کې د غربې دموکراسۍ د پلي کولو امتحاني دوره او کړکیچنه بېلګه ده چې د همدې هدف لپاره د ملتونو حکومتونه له منځه وړل کیږي، نظام او شتمنی له منځه ځي، پر کلتور، خاوره، نوامیسو باندي تیری کیږي، په لکونو انسانان په بمونو او باروتو وژل کیږی، زندانونو ته لیږل، توهینول خولاعادي خبره ده، خو د دې دموکراسۍ نتیجه هغه ناتار او غم شو چې جبیره یې ناشونې بریښي او نه کیږي.

څلورم) :د دغي صادرېدونکي دموکراسۍ غوښتونکي (غواړي چې دغه ډول ناولي دموکراسي په سعودی کې هم پلي کړي. دغه عناصر په ډیره بي صبری سره غواړي دغه هیواد ته چې د نړۍ د مسلمانانو مرکز دی د فحش او فساد لاره خلاصه کړي.

په ۱۹۹۰ میلادي کال کې د سعودي عربستان په هکله د غربي دموکراتانو سروي روانه وه، څو معلومه کړي چې څومره نفوس د غربې ناولي دموکراسی پلوي کوي، د سروي له مخي هغو څرګنده کړې وه چې په سل کې اویا فیصده خلك د سعودي د اوسني شاهي نظام سره مخالفت لري او ناراضه دي. نو د خلکو د حقوقو د ورکولو لپاره باید انتخابات وشي، مګر تر ډیره دا کار د سعودي د پخواني پاچا ملک فهد تر مرګه پوري وځنډول شو، ځکه چې هغه له امریکایي واکمنانو سره ډیري نژدې اړیکي درلودي. د امریکایې واکمنانو ګټه پدې کې وه چې باید د هغه له دغه ضعیفه حالت څخه چې کوما ته ورته حالت وو استفاده شوي وای.

په ۲۰۰٤ میلادې کال کې د دویم ځل لپاره بیاسروی وشوه. دویمه سروي ښیي چې د سعودی اوسیدونکي په سلو کې شپیته برخه د اسامه او د هغه د ورته نظر پلوي کوي. له همدی کبله دا سروي او په افغانستان او عراق کې د جنګونو او تربګنیو له کبله وځنډیده خو بیا هم د دی پروژې د پر مخ بیولو لپاره پانګونه روانه ده. دا چې کله به هغوی خپل هدف ته رسیږي والله تعالی اعلم .

پنځم: غربې دموکراسۍ اخلاقي فساد ته دومره وده ورکوي لکه

د پسرلي باران چې ښیرازي مځکي او کرلي کښت ته وده ورکوي، د اسلام د بشپړ چوکاټ د ماتولو لپاره دا ترهرڅه موثر انتخاب دی چې د بشر او بیان د آزادۍ په نامه منکرات او شهواني فواحش په قانوني توګه مروج کیدلای شي. له بلي خوا د الهي احکامو حدود چې د زنا، شرابو، لواطت، تبرج او داسې نورو د مخنیوي لپاره وضع شوي په بشپړه توګه له منځه وړلای شي.د دې ترڅنګ د نورو غیر اسلامي ادیانو لپاره د فعالیت لاره هوارولای شي، څو مسلمانان د عزت، مال او نورو امتیازونو په ورکولو سره ارتداد ته وبلل شي، چې د یهودیت او نصرانیت او نورو ادیانو شعائر په اسلامي هېوادونو کې په تدریجي ډول خپاره شي. د بشري او انساني حدودو څخه پر هغه لوري پرمختګ وکړي چې د هغو داوړدي مبارزی ستر هدف دی.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



څو ورځې وړاندې مې په یوه اخبار کې د یوه ځوان هلك کیسه ولوستله کوم چې د ایډز په ناولې ناروغي اخته سوی وو. هغه د خپل رنځ د وریپښیدو علت روښانه کوي او وايي چې ده په هغو دوو نجونو باندې باور کړي وو چې ده ته یې ګ اطمینان ورکړي وو چې ګواکې هغوی له ده نه پرته د بل چا سره جنسي علاقه نه لري. هغه وايې ما هغو ته زړه ورنژدي کړ او بې دریغه مې له هغو سره زنا کول، خو کله چې زه په دغه مهلکه ناروغي اخته شوم هغه وخت راته معلومه شوه چې دغه دوي نجوني بدلمني او فاحشي نجوني وي. همدغه د دوی کاربار وو. نو ځکه ده پر دې ناوړه کار ارمان کاوه او پیښمانه وو. خو د ده دغې پښیمانۍ هغه ته هیڅ ګټه نسوای رسولای.

په یوه بل اخبار کې مې څو مرکې د شرابو له معتادینو سره ولوستې چې هغوی څنګه په شرابو روږد شول، چیرې شراب پیدا او ومونډل شول او بالاخره اوس څه کیفیت ورته پیښ شوی وو. یو تن د عبدالهادي په نامه د خپل ځان کیسه روښانه کوې: د هغه په قول د ده پلار به هر وخت له ځانه سره یو بوتل راوړی.د هغه شربت به یې څښله، خو زه به یې د دغه بوتل څخه منع کولم. کله چې مې یوه ورځ په کور کې پلار او مور دواړه نه وه، ماله دغه غیابت څخه استفاده وکړه، هغه بوتل مې پیدا کړ او له هغه څخه مې څه شربت وڅښل، خو هغو شربتو زه دومره بې هوښه کړم چې په ځان باندې نه پوهېدم. کله چې پر هوښ راغلم په یوه کلینیك کې بستروم. زه تر روغتیا وروسته بیا د هغه بوتل په لټه کې شوم چې یو ځل بیا د هغو مزه وڅکم. هغه زیاته وي چې ما به تردې وروسته همیشه خپل پلار څاره چې له کومه ځایه شراب اخلي او په څه ډول یې تر لاسه کوي او د چا سره کښیني؟ په هر صورت د وخت په تیریدو سره مې د شرابو د پلورلوګ ځای پیدا کړ او اوس دادی دغسې معتادیم. له دې څخه ځرګنده سوه چې دده د روږدیدو علت د ده د پلاراعتیاد وو.

یوه بل کابلې ځوان د یوې مرکې په جواب کې ویلې وه، چې د ده په قول طالبان ډیر بد خلك وه. له موږ څخه یې آزادي سلب کړي وه، خو له کله څخه چې طالبان تللي دي د هغو د نظام په بدل کې د موکراسي راغلي او موږ ته خپل حق راکول شویدی. موږ اوس بشپړ آزاد یو د هیچا پروا نه لرو، زه اوس د خپلې انډیوالې یاګرل فرینډ سره پارك ته ځم. کله ناکله د هغې سره یو ځای پغمان، قرغې او د سالنګ لوري ته ځم، یو له بله مینه سره کوو، په میلو کې خوند سره اخلو، میلې او تماشې کوو. په دې توګه هغه په خپل دغه فاحش او منکر عمل خوښ وو.

داسې او دې ته ورته ډیر شیان د اوسنۍ دموکراسی له امله په افتخار سره په مطبوعاتو کې لیدل کیږي چې هم خلکو ته پر فساد، فحشا او منکراتو جرډت ورکوي او هم ناخبره خلك ورسره روږدیږي چې د داسې هر عمل سره مذهبې او دیني حیثیت ته تاوان رسیدلای شي. دلته چې اوس په خورا لوړه کچه د داسې قصدي اعمالو بیلګې ښکاره کیږي وړاندې وهم اوشك یقین ته رسوي چې په نتیجه کې له داسې عمل څخه یوه مغلقه او لا ینحله ستونزه جوړیږي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دویم: دا چې په غربې نظامونو کې دموکراسۍ له هغه څه سره مطلق توپیر موندلی دی چې په اوسنیو اسلامي هېوادونو کې نوي اوتازه راټوکیدلې ده. د بشر ازادي په منجمد انحصار کې راغلي، په انتخاباتو کې درغلي کیږي خلك په پیسو رانیول کیږي، هغه څوك چې د غرب د نظریاتو تایید کوي د پیسو په زور او یا په کمو رایو سره بریالی کېدلای شي او هغه څوك چې د غربې نظرونو سره مخالفت لري یا په انتخاباتو کې حق نه ورکول کیږي یا که چاته حق هم ورکول شي، نو د هغه د بریالیتوب چانس به ډیر کم وي، دموکراسي چې د خپلو پالونکو لخوا د بشپړي ازادۍ په شعار سره بدرگه کیږي تر ډیره د غربې نظریاتو تابع ده. که ضرورت پیدا کیږي نو د معصومو انسانانو وژل او ترورول هم دهغو د تعریف له مخي د آزادۍ مانا لري او د هغو په اند یوه مباحه لاره بلل کیږي. اوس چې ناوړه او ناروا دموکراسي د غربې نظریې د پلي کولو لپاره د افغانانو د وینو په بهیدلو عملې کیږي، هره ورځ د دغه نظام د راوستلو لپاره په سلگونو مسلمانان وژل کیږي، په جوپو جوپو نور مسلمانان د وطن پریښیودلو ته مجبوره کیږي. د داسي امریکایې دموکراسۍ به څه مانا او څه به یې گټه وي؟؟

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## باندنی او کورني سیاستونه او پالیسۍ

له بده مرغه ویلای سو چې د افغانستان کورني او بهرني سیاستونه ډېر وخت متضاد سیاستونه وي. په ډېرو مواردو کې د تفریط او افراط سیاستونه روښانه کوي. تر ډېره بهرنی سیاست د افغانستان په اوږده تاریخ کې د مختلفو اشخاصو لخوا منحصر تاریخ لري، ځکه چې د بهرنیو مستکبرو امپراتوریو له مزاج سره په سترتوب کې د لیوالتیا او بشپړتیا په سبب د حریت چانس ډېرکم لري، یو معتدل سیاست چې د افغانستان د ټولو حقوقو رعایت په نظر کې ونیسي ډېر کم تر سترګو کیدلای شي. که څه هم په لومړي او دویم نړیوال جنګ کې د افغانستان بهرني سیاست پر عدل او انصاف ولاړ او مستقله پالیسي یې درلودله، مګر تر ډېره دغه دریځ په اعتدال پاتي نشو.

د دې کار یو عمده او لوی دلیل د افغانانو بې حده او بې اندازې خوشباوري ګڼلای شو چې هر وخت د افراط خوا تعقیبوي. کله چې یو افغان که څه هم د لوړو زده کړو او تجربو درلودونکی وي یا له لوی مسلك سره اشنا یا د افغانستان د یوه لوی پوستې مسږولیت لري. بدبختانه کله چې د بهرنیو هیوادونو په سیاست کې ورښکیل شي له دومړي خوشباورۍ څخه کار اخلي چې نژدې د یوه هیواد له رسمي پالیسی سره په ټکر کې را شي او که چیري د یوه بهرني هیواد په ښو روابطو کې ورداخلیږي نو د روابطو په وړاندی چې متقابل احترام دی د دوستی په وړاندې ډېر ښوییږي ان تردې چې دیوه هیواد په ښو اړیکو کې خپل توازن له لاسه ورکړي. داسې بې اندازې خوشباوري او خوږتیا چې بالاخره یېګ د خوړلو سبب ګرځي او ګرځیدلي، داسې خوشباوري او خواخوږې چې د خپلو هیوادوالو د ارادو او هیلو پرخلاف د پردیو رضا لټوي ، داسې خوشباوري او خوږتیا چې هغه دوست یېګ په دې لټه کې شي چې پر هیواد او خلکو یې د یرغل لاره هواره کړي.ګ

که د افغانستان پر اوږده تاریخ ځغلنده نظر واچوو بیاهم په نژدې تاریخونو کې د لیري تاریخونو بېلګې او تیروتنې موندلای شو چې لا تر اوسه پوري زموږ هیواد او هیوادوال یوازې نه چې د تیروتنو جبران نشي کولای، بلکي تر اوسه پوري یې د قربانۍ هدف ګرځیدلي دي د مثال په توګه انګریزان د افغانستان تر پولو پوري په ګرندي بریالیتوب سره راورسیدل د خلکو په وینو کې یې د خپل غرور بیړۍ د هدف تر ساحله په چټکتیا سره روانه وساتله، دلته د ملتونو اراده، د جهاد او استقامت په لوري ښه ننګونه وه چې دري ځلي یې د خپلي مبارکي ارادې په اظهارولو سره خپلواکې ونه بایلله، حکومت په بشپړه وفادارۍ د افغانستان د ځمکني بشپړتیا او استقلال په هیله په نه ستړي کیدونکي توګه قرباني ورکړه. له خپل هیواده یې دفاع وکړه، په خپلو وعدو او وظائفو کې رشتیني پاته شول، انګریزان یېګ د درنو تلفاتو په ورکولو سره مات او وشړل. شرمیدلې یې له خپله هیواده وایستل. مګر بدبختانه د حکومت د بهرني سیاست واکمنو دشهیدانو مبارکي ویني هدر او په اوبو لاهو کړي، په لږ رشوت او بډویېګ چې د هغه ١٢ لکو تر ١٤ لکو کلدارو پوري ورکول سوي دافغانانو په وینو ګټلي افغانستان یي یوځل بیا د انګریزانو په واك کې ورکړ، د

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



انگریزانو د ناوړو ارادو او قوي ښکار په دام کې ولوېدل، هر څه يې پر ځانونو ومنل هرڅه يې له لاسه ورکړل. ترڅو د محدود وخت لپاره د قدرت او فحاشۍ په هوس او نوش کې مست اوسي، شراب او کباب تر کومې تير کړي، له ډيرو او ښايستو ښځو خوند واخلي، په عياشۍ ژوند وکړي، د شهيدانو قرباني، د خلکو کلکه اراده، د کونډو او يتيمانو کړاوونه هير کړي.

دويم مثال د بېلګي په توګه د کمونستي ښامار په منګولو کې ښکيلتياده، کله چې امان الله د خپل پلار تر مرګ وروسته د افغانستان د استقلال د استرداد دعوه وکړه د هغه په دغه ميړانه سره افغانانو ګڼله چې هغه د استقلال او خپلواکۍ په ګټلو سره د دغه هيواد د خلکو او شهيدانو ارزو پوره کړه او نور يې ګواکي افغانستان خپلواك هيواد کړ، له بده مرغه لږ وخت وروسته بياهم د مذهبې او کلتوري پلوه بې پروايۍ، غربې کلتور ته ګړندی رجحان د خلکو د ارادو سپکاوي د هغه د قدرت ټغر هم ورټول کړ. بهرنی سياست د خلکو له احساساتو سره په ټکر کې راغی، چې په تدريجي ډول يې لويو غميزو ته لاره پرانستل.د بهرنی سياست مانا او مفهوم څه دی؟ دلته د دغه سياست په کولوسره پنځه عمده څيزونه د بنسټونو په توګه په نظر کې نيول کيږي.

لومړی: د ګاونډيو هيوادونو سره ښې اړيکي او متقابل احترام ،

دويم د بهرنيو ستونزو له معيارونو څخه پوهاوی او خبرتيا ده ترڅو ټول ملت ويښ او باخبره وساتل شي.

دريم: د نړۍ د نوو او زړو انکشافاتو څخه په بشپړه توګه استفاده کول.

څلورم. په بهرنی سويه باندي د خپل هيواد د استقلال له ساتلو سره سره د کلتور او مذهب سالميت ته پوره پاملرنه.

پنځم: په بهرنيو هيوادونو کې د خپلو اتباعو د حقوقو دفاع او

د هغو د سر او مال ضمانت کول، داسي نور جزئيات چې په تجارت، قرارداد، تعليم او تربيه،کدري روزنه، قرضه او کمك، پوځي عسکري روزنه او لاس ته راوړنه ټول تر يوه قانوني چتر لاندې په هغو پنځه څيزونو کې همږغي ده، دا او دې ته ورته سياست او پاليسي د هر هيواد لپاره اړينه ده چې پري ملامتيا نشي ويل کيدلای، دلته دا خبره ډيره ضروري ده چې د هر بهرني تماس په ترڅ کی ټول کورني ملحوظات او ارزښتونه په پام کی ونيول شي تر ټولو ضروري داخلي همفکري اوننګونه ده چې ټوله هيواد له هغه سره په بدمرغي اوښتلای شي، په ټولو بهرنيو پاليسيو کې دومره احتياط پکار دی چې له هري کړني سره د اولس اراده په نظر کې ونيول شي ترڅو ښه پاکه لاره په وړاندې صفا وبريښي هم هغه تګلاره عملي کړای شي مګر زموږ په بهرني سياست کې څو عمده مشکلات دی چې موږ يې هميشه قرباني ګرځيدلي يو:

لومړی: ښوونه او روزنه

دويم : د بهرنيو سازمانونو رنګ او ډول

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دریم: د هیواد دننه د بهرني کلتور وده

څلورم: د مسرولو اشخاصو خوشباوري

پنځم: د ښو اړیکو په خاطر له یوه بل هیواد سره په کلتوري شکل نارښتیني چلند .

لومړی: تعلیم او تربیه تر ټولو مهم عنصر دی چې په هر وخت کې د هیواد او نوي نسل مستقبل ورباندې ولاړ وي او د ښه او سوکاله ژوند لپاره غوره پرمختګ ورباندې کیدلای شي، د تیر څه په تعقیب د راتلونکي لاره ښه څارلای شي او دا تر ټولو ضروري ده چې د یوه ښه بنسټ سره نوي انکشاف بې خطره رامنځته شي، د تعلیم او تربیې ننني ستونزي مو په لومړي څپرکې کې ذکر کړي. د یادوني وړده چې بهرني هیوادونوته د زده کونکو د لیږلو ستونزه یوه عمده ستونزه ده دا ستونزه کیدای شي لائقو استاذانو یا د عصري او نوو تجهیزاتو د نشتوالي له کبله وي. د نویو تجهیزاتو په بشپړتیا سره د لوړوزدکړو دپوهنتونو نیمګړتیابشپړه کولای شي دغه نیمګړتیازده کونکوداړتیا لاره پیدا کوي چې شاګردان یا زده کوونکي دلوړوزده کړو لپاره خپل هېواد ته د خدمت په موخه نورو هېوادونو ته په رسمي یا غیر رسمي ډول استول کیږي چې د افغانستان اساسي ستونزي له همدې ځایه راولاړیږي. د وخت په تیریدوسره پاړسوب پیداکوي.

دغه ستونزي څو برخي لري. زه دلته غواړم د هغو دري برخي راوسپړم: لومړی هغه ځوان زده کونکی چې په اسلامي روزنه سره پوره نه وي روزل شوي هغه خالي ذهن وي په لږ وخت کې د خپل ځان لپاره د بل هېواد مفکوره او د ښوونکي عکس خپلوي زده کونکی په دغه تقلید سره له اسلامي مفکوري سره نور په واټن کې راځي.

دویم: زده کونکی تر ډیره د هغو مفکورو سره اشنایې پیدا کوي چې اسلام ورسره ټکر لري. هغه به د بهرنیو سازمانونو له مېلمستیاوو څخه خوند اخلي بالاخره هیواد ته د راستنیدو سره سم یونا اشنا فکر ته کارپیل کوي. البته موږ د داسې ډیرو بیلګو شاهدان یو.

دریم: هغه زده کونکي چې د بهرني تعلیم وس او توان نلري په خپل ځان کي د مایوسۍ اوکمی احساس کوي که څه هم د هغه لیاقت ترهغه بل ډیرښه وي.

د تعلیم او تربېې جرړې (ریښې) خو لا تر هغه څه پوري ډیره ځانګړتیا لري چې د هغه هیواد د مفاداتو او کلتور وده په نظرکې ونیسي. په بهرنیو هیوادونو کې په لویه پیمانه د شتمنو کورنیو زده کوونکي روزل کیږي یا د لویو منصبونو د درلودونکو اولادونه وي، طبعاً د داسې اشخاصو اولادونه په سیاسي زده کړو کې ډیره برخه اخلي یا د هغو پلرونه او میندي هغو ته دغه انتخاب کوي یا د میراث په ډول د هغوی لیوالتیا د سیاست سره وي. په هرصورت کله چې په بهرنیو هیوادونو کې د بریالي سیاست په لټه کې شي، نو د ټولو سازمانونو سیاستونه مطالعه کوي. د هغو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ایډیالوژي یې په دماغ کې ځاي نیسي، یا د کوربه هیواد له روان سیاست نه رنګ اخلي چې په همدي توګه د خپل مستقبل لپاره د خپلي خوښي انتخاب کوي،

د مثال په توګه که یو زده کوونکی په روسیه کې زده کړه کړي وي هغه د ځان او هیواد لپاره کمونستي ایډیالوژي انتخابوي، که چا په چین کې زده کړه کړي وي هغه د ځان او هیواد لپاره د کمونستۍ نظام بل ډول انتخابوي،که چا په اروپا یا په نورو لویدیزو هیوادونوکې زده کړه کړي وي هغه د ځان او هیواد لپاره پانګوالي، نړیوالي او کپیټالستي یا غربې دموکراسۍ انتخاب کړي وي او که چا په یوه اسلامي هیواد کي او په یوه اسلامي چاپیریال کي زده کړه کړي وي هغه بیا د ځان اوهیواد لپاره اسلامي نظام انتخاب کړی وی چي د دغو مختلفو مفکورو بیلوالی یو لیدلای هم نه سي او ترکیب یي بیابیلي ستونزي لري.

دویم: د مسرولو اشخاصو نژدیوالی یا دوستي ده چې په ټاکلي ډول نتیجه له ځانه سره راوړي، خو د ناکافي تجربې او د کمي پوهني له امله د هیواد د ټولو وګړو، کلتور او عنعناتو اهمیت یې له نظره غورځولی وي چې په همدي توګه د توپیر خوځنده بهیر لا پسي اوږدیږي.

د بهرني کلتور وده او پایښت، لکه څنګه چې مو وړاندي د هغه ارزښت په نظر کې نیولی دلته بایدووایوچي د نړۍ هر هیواد د خپل کلتور د ودي لپاره په نه ستړي کیدونکي توګه کار کوي په نورو هیوادونو کي خپل کلتور خپروي او هغه ته رشد ورکوي، خو له بده مرغه چې زموږ خپل کلتور د ځینو خپلو خلکو لپاره شرم او عار بلل کیږي. د دې پر ځای چې خپل کلتور رسم او رواج ته وده ورکول شي هغه شاته غورځوي. د دې دوه مثاله زه د یوه شاهد په توګه په ګوتو کولای سم. یو دا چې ما خپل زوی مکتب ته د زده کړي لپاره په خپلو کلتوري او ملي جامو کې استاوه، خو د ښوونکي لخوا په څو ځله د اخطار په ډول ورته ویل شوي چې پتلون او نیکټایې د زده کونکي لپاره اجباري کار دی. که نه نو له مکتب نه به یې اخراج کړي، دلته د کلتور پر ضد عمل کول په رسمي چوکاټ کې کیږي. د دي سره سره چې نیکټایې او پتلون اصلاً د هیڅ مسلمان او افغانانو اصلې کلتور ندی چې دومره ټینګار ورباندې وشي چې یو زده کونکی یي له کبله د زده کړي له نعمت څخه محروم پاته شي دا خو لا بیل سوال دی چې افغانستان د مسلمانانو کور دی.

دریم : د اوسني جمهوري ریاست ادارۀ امور ته یو چا د دندي غوښتنلیك ورکړي وو. هغه نفر ښه لیاقت درلود، په اقتصادی زده کړو کې یې ماسټري درلوده. د دي سره سره هغه ته ویل شوي وه چې دلته پتلون او غربي لباس اجباري دی، که نه نو د ده لپاره په افغاني کلتوري لباس کې ځای نشته. ځکه هغه سړي مسنونه ږیره اوسنتي جامي اغوستي وې. دا د چارو په اداره کې د افغانستان د جمهوري ریاست لپاره مرکزي حیثیت لري.

داسې ډېر مثالونه شته چې د ږیري خریل، د بوغرې یا حجاب لیري کول او نور داسې غیر شرعي افعال پکښې حتمي بلل شوي دي. همدي ته ورته اعمال او افعال د بهرني کلتور برخه ده چې زموږ په هېواد کې زموږ کلتور ته صدمه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



رسوي او له بهرني کلتور نه رنګ اخلي. له بده مرغه چې زموږ د غربي کلتور پلوي افغانان يې په نه ستړي کيدونکي او نابللې چوپړ کې ځانونه په کلتوري نيواک کې اچوي.

د مسؤلو اشخاصو خوشباوري : لکه څنګه چې مو مخکي د دې خوشباورۍ تفصيل د عامو افغانانو لپاره ياد کړ، همدا خوشباوري په افغاني خواصو کې هم سته چې ډير خطرناکه عواقب لري، د عامو خلکو خوشباوري تر چارواکو او مسؤلو اشخاصو پوري محدوده او ليوالتيايې هم دومره مهمه وه. مثلاً ظاهرشاه چې اوسني اساسي قانون ورته د ملت د بابا لقب ورکړی دی. د ده تر شخصيت پوري داوو چې ظاهرشاه پر ځمکه د خدای د رحمت سيوري دی يا دا چې هغه د اووه وليانو مرتبه لري. د هغه اطاعت فرض او مخالفت يې ګناه ده، سره د دې چې هغه ته د ملت د بابا لقب هم ورکول شو مګر هغه د مرګ تر وخته پوري د الله جل جلاله فرض حج ته هم زړه ښه نه کړ .

د کابل په ښار کې يې تر مسجدونو سينماوو ته ښه خدمت کړی د هېواد تر نورو ودانيو يې د عياشۍ حوضونه د خپلي عياشۍ لپاره ډير جوړ کړي وه او په مساجدو کې لکه د پل خشتي په مرکزي جامع کي د اوداسه د اوبو انتظام هم نه وو داچې ده غريب خپله د لمانځه سره څومره ليوالتيادرلوده دادده ذاتي مسؤليت وو. همداسې نور مثالونه ډير سته. مګر د خواصو خوشباوري بيا داسې نده د هغو خوشباورې ډيري خطرناکي پايلي لري لکه د تره کي، کارمل او کرزې غوندې کړني چې هيواد او ټولنه يې له نه جبرانېدونکو ستونزو سره مخامخ کړه، بهرنيانو ته دومره ورنژدې شول چې د هيواد د يوه وګړي وژل يايه تورو زندانونو کې د هغو اچول د هغو حق بولي. له مغرورو، ظالمو، سرټمبه وو او وژونکو بهرنيانو څخه د توقيف يا څيړنو حق هم د افغانانو په واک کې نسته. د دغو بې وارثو مظلومو افغانانو ويني ورته مباح ګڼل شوي. دومره خوشباوري چې په هغه چا باندې باور وکړي چې څو ځله يې افغانستان له ورکاوي اونابودۍ سره مخامخ کړي او لوی افغانستان يې په کوچني کهول بدل کړی، دومره بياهم پرهغه چا باندې خوشباوره شي چې د افغانستان پر بدن يې د قصاب غوندې د پريکيدلو تيره چاړه په لاس کې نيولې ده دومره خوشباوره شي چې د ديني او تاريخي دښمنانو لانور هم په هيوادکې زياتوالي او دايمي اډې غواړي، دومره خوشباوري چې د الله له لاري پرته غواړي پر بله لاره ثواب ته ځان ورسوي، هسي خوشباوري چې ناروا وو ته په اسلامي ټولنه کې قانوني بڼه ورکړي، داسې خوشباوري چې د خپلو خلکو ارادې په نظر کې ونه نيسي د پرديو ارادو ته د لومړيتوب حق ورکوي.

پنځم: د ښو اړيکو په خاطر له يو بل هيواد سره په کلتوري بڼه نا رښتين چلند کول:

د دې اړيکو بيلګي اوس هم ډيري دي او ډيري وړاندې تيري شويدي چې ډير پراخ تفصيل ته اړتيا لري، زه دلته د لږو بيلګو په په راوړلو اکتفا کوم، دلته په ناسمه توګه بهرنيان تشويقول او هغو ته اطمينان ورکول يوه غولونه ده، چې خپل هيواد پکښې راښکيل کړي او يا دا چې د ملت د وګړو له اعتماد څخه ناوړه استفاده او يا معامله کول چې د ملت وګړي ترې ناخبره اوسي، د مثال په توګه له بهرنيانو سره تړون کول، خپلې خاوري ته راوستل، يا رابلل د هغو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په جزئیاتو هیوادوال نه پوهول، یو ناسم او نارښتین عمل دی. یا دا چې بهرني یرغلگر تشویقول هغو ته اطمنان ورکول چې د هیواد وگړي د دوی د راتگ خنډ نه گرځي. یا دا چې د دغه هیواد اوسیدونکې وربانديې خوشحالیږي. یا دا چې ټول هیوادوال د دوی د راتگ غوښتونکي دي، دا هم یوه ناسمه او نا رښتینې کړنه ده چې په نتیجه کې د ملت ارادې ته په ډېره سپکه او بې احترامۍ کتل کیږي، د خلکو عزت او کلتور پکښې پایمالیږي یا دا چې خلکو ته په دې سره اطمینان ورکول چې گواکې بهرنیان د دوي د ارادې، مذهب او کلتور درناوی کوي، دلته د یوه مستامن په صفت اوسیږي، د هیواد په کورنیو او بهرنیو کړنو او پالیسیو کې لاسوهنه او مداخله نه کوي، یوازې د هېواد د اساسي قانون په چوکاټ کې د حکومت په چارو کې ورسره مرسته کوي، د حکومت پریکړو او د اولس ارادی ته په بشپړه توگه احترام کوي، په اصطلاح د افغانستان د اساسي قانون په چوکاټ کې عمل کوي ، داهم یو ناسم او نا رښتینی عمل دی چې د شبهاتو او شکونو په تولید کې ښه زیات والی راولي، یا دا چې په اقتصادي او پوځي تړونونو کې د انحصار په شکل درغلي کوي یا داچې خپل ولس تري ناخبره ساتي یا دا چې قرضي او پورونه همداراز مرستې اوکومکونه دهېواد د ابادۍ په نوم اخلي بیا هغه پر نورو بې درکه مدارکو لگوي او بار او حساب یې پر اولس اچوي. دا هغه څه دي چې په حقیقت کې ناسمي او نارښتيې کړنې بلل کیږي. د دې یوه بله نژدې بېلگه د کمونستانو ناروا پالیسۍ وې چې پخواني شوروي اتحادته په خورالوړه کچه خوشباوري وه، کمونستان چې شمېر یې تر ۱۵۰۰۰پوري رسیدلي وو په نابره توگه په ۱۳۵۷کال د ثور پر اوومه د کودتا په ډول قدرت ته ورسیدل دا چې څومره وخت دغه چرگونې د افغانستان په غیږ کې د بل په ایډیالوژي ستر شویوه هغه به تاریخ ته پریږدو، دلته به ددغي کودتا منفي ټکو ته ورشو.

لومړۍ داچې کمونستانو په داسي وخت کې کودتا وکړه چې هیواد نسبتا د پرمختگ پر لورې گامونه اوچت کړي وه. په اقتصادي لحاظ د دغه هیواد په تاریخ کې ډیر ښه پلانونه جوړسوي وه هیواد او هیوادوالو په سوله او سوکالی کي ژوندکاوه همداوخت د افغانستان د خپلواکۍ بیرغ ښه رپانده وو. که څه هم هغه وخت په نظام کې ډیري نیمگړتیاوي موجودوي وې او د هغو اصلاح پکاروه. ځکه په نظام کې هغه ایډیالوژۍ ننوتلي وې چې د ځینو خلکو یاشخصیتونو احساسات یې راپارولي وه. دغه نیمگړتیاوي په اسلامي افکارو باندې پوره کیدلای شوې، خو په یوه کفري او غیراسلامي نظریه او فکر سره د نظام راپرځول یوه لویه فاجعه او نه جبرانیدونکی جرم وو چې په هیڅ توگه د دغي خونړۍ او ناروا کودتا ضرورت نه وو.

کمونستانو د خپلې واکمنۍ د ساتني لپاره له پخواني شوروي اتحاد څخه د مداخلي غوښتنه وکړه چې د دوی ریږدیدلي او کړپیدلي پښې د هغو په متو ټینگي کړي، څو د دوی قدرت ته بقا ورکړي او د افغانستان د مسلمان ولس د پاڅون سره خپلي ناروا دښمنۍ ته پیاوړتیا ورکړي. دلته کمونستانو دوه څیزونه چې بیخي ډیر مهم وه له نظره غورځولي وه: لومړی د مذهبي علمای کرامو او مذهبي چارو اهمیت او ارزښت وو دویم د ملت د وگړو اراده: ځکه هر واکمن ته پکار ده چې تر ټولو وړاندې د خپلو خلکو اراده په نظر کې ونیسي او د هغو سره د ډیرو لویو او

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



مهمو اقداماتو په اړه سلا مشوره وکړي او د هیواد د سترو لارښوونکو هم فکري او همکاري را جلب کړي او د هغو نظرونه په غور سره مطالعه کړي. خو کمونستانو د دې پروا ونکړه او په ډېره بې پروایۍ سره یې د مذهب او د خلکو د ارادې سپکاوی وکړ.

افغاني کمونستانو په دوو ناسمو او نارښتینو ټکو بهرني یرغلګر وغولول، لومړی د کمونستۍ بدمرغ نظام سره د افغانستان د وګړو مینه اولیوالتیا. دویم: د هغو د راتګ په اړه د افغانستان د خلکو د اکثریت توافق. د مثال په توګه هغو کریملین او برژنیف ته ډاډ ورکړی وو چې د افغانستان خلك له کمونستي نظام سره مخالفت نه لري. خلک ټوله د شاهي کورنۍ له انحصار څخه تنګ شوي دي، په ځانګړې توګه بې وزلي او غریبه طبقه خلک لکه بزګر، کوچیان او داسي نوري کورنۍ. د همدغو څو ګوډاګیو په مرسته د کمونستي نظام د ټینګولو لپاره د پخواني شوروي اتحاد زورځواکو سرو لښکرو په ډېره بې رحمۍ پر افغانستان باندې یرغل وکړ د دغو ناولو اشخاصو مفکوره په دغه یرغل کي مهم او مثبت رول درلود. د دې پوچ مغزو په نظر له یوه نه ماتیدونکي ځواك سره زیاته مرسته کول د افغانانو هیله ده او ډیر افغانان د شوروي اتحاد د سرو پوځونو له راتګ سره مخالفت نه لري. په همداسې بلنه کې ناسم او نارښتین ویلو عمل وشو ځکه نو د سرو لښکرو راتګ او د هغو یرغل په دغه اسلامي اوسنتي هیواد کي ښه استقبال نه شو او نه خلکو ته د قبول وړ عمل وو چې کمونستانو پري اقدام وکړ چې په نتیجه کې هم دوی او هم سري نړۍ خوري لښکري په غم واوښتي. استکباري قوت یې ټوټه ټوټه سو. په شرمونووشرمیدل زموږ ښکلی افغانستان یې هم د ویرونو او غمونو په سیلابونو لاهو کړ.

دویم مثال د افغانستان د اسلامي امارت دوره ده. د افغانستان اسلامي امارت د افغانانو لخوا ښه استقبال شو، پیاوړی شو اوسترتوب ته ورسید، که څه هم واکمن د ناسم او نارښتین بهیر مصداق نشي کیدلای، خو په بهرنی سیاست کي یې نمیګړتیا ډیره وه. په عامه توګه خوشباوري چې په ټولو افغانانو کې ډېره ده، په دغه نظام کې هم د صداقت باوجود ډیره وه، چې هغه د یوه لوی مشکل سبب وګرځیده. دلته دوه لوی عاملونه باید تر څیړني لاندي ونیسم. لومړی خوشباوري د اسامه بن لادن او د هغه د شبکې(نیټ ورك) په هکله وه. دویم د ګاونډي هیواد پاکستان او نورو مسلمانانو په هکله. اسامه بن لادن که څه هم د رباني صاحب د حکومت په وخت کې افغانستان ته رادعوت سوي او راغلی وو، خو طالبانو ته یې‌ګ د ورنژدي کیدو پر وخت یو ښه باوري ټاټوبی خپل کړ. ښه کوربه ورته په خپل کورکي د میلمه پالني ټېټر پرانستی، که څه هم اسامه مجاهد مسلمان او د افغانستان د خلکو میلمه وو؛ خو تر ډیره یې د افغانستان د خلکو، په تیره د اسلامي امارت د محترم زعیم له خوشباورۍ او خوا خوږۍ څخه استفاده وکړه.

پاکستان که څه هم د افغانانو لپاره د هجرت د دویم کور مانا درلوده، په سخت مشکل او ډیر بد حالت کې یې د هغو لاس نیوی کړی وو، خو بیا هم پر افغانستان باندي د انحصار په لټه کې وو. پاکستان نه غوښتل چې افغانستان د یوه معتدل سیاست په رڼا کې له نړۍ سره سترګي وجنګوي. پاکستان په ډیر زیات زیار سره هڅه کوله چې د

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغانستان اسلامي امارت اړیکي د نوري نړۍ سره د پاکستان له لارې ترسره سي. په همدغه چوکاټ کي یې له افغانستان سره دوستي او همکاري دواړه ښودل. افغانستان هم د ګاونډي او اسلامي هیواد په توګه تر ډېره وربانديې ښه باور درلود. دویم مذهبي علمای کرامو او نورو تنظیمونو چې په افغاني معتدل نظام کې یې د سر ننه ایستلو هڅي کولي، په افغانستان کې هغه څه غوښتل چې په پاکستان کې یې ګ نه غوښتل او یا ورسره دومره حساسیت نه ښیي. چې د غه ډول پالیسیو هم د افغانستان په وړاندی د ډیري خوشباوری انګیرنه درلودله. له بلې خوا د پاکستان هغه حکومت چې د مشرف خبیث په مشري یې د افغانستان د اسلامي امارت د له منځه وړلو لپاره د مسلمانانو په وركړه او خرڅولو هم صرفه ونکړه، د پاکستان حکومت خپلي اډې د افغانانو او افغانستان پر ضد د امریکا په واك کې ورکړي. په حسن ابدال، تربیله ډیم، جیکب آباد او ډالبندین کي یې هوایي فضا د هغو په اختیار کي ورکړه ان تر دې لیکلو پوري چې په۲۰۱۰کي بشپړه سوه د امریکایانو ټول بمونه، ټانکونه، ګولۍ او د وژلو او ژوبلولو نور څه هم د پاکستان له لاري افغانستان ته د مسلمانانو د وژلو لپاره راځي چې تر اوسه پکښي تر یو سل او دېرش زره کسان په همدغو موادو په شهادت رسیدلي دي. داچي څومره کورونه او کلي وران سوي دي دا لا بېله خبره ده. هر هغه څه یې وکړه چې مسلمان افغانان ووژني، هیواد یې خراب شي، خلك یې بې عزته شي بیا هم وربانديې د یوي ذري اعتماد کول دخوشباورۍ مانا در لوده؟؟.

دریم مثال د غربي دموکراسی روان دوردی.

د اوسنۍ غربي دموکراسۍ په څواکمني کي هم د ناسم او نارښتین سلوک اعمال لیدل کیږي. د لته هم ډېري ډېري منفوري بېلګي ترسترګو کیږي. غواړم څو بېلګي د مثال په توګه راوسپړم: لومړی د دموکراسۍ سره د خلکو مذهبي او ملي لیوالتیا او مناسب وخت. دویم له بهرنیو یرغلګرو قواوو سره د خلکو توافق. دریم بهرنۍ نړۍ ته د باور اطمینان او د ستونزو له منځه تلل.

لومړی: دابه څومره حقیقیت وي چې د افغانستان هغه ولس چې

د اسلامي سپېڅلي شریعت او اسماني نظام په هیله یې په میلیونونو انسانان او ښکلي ځوانان قرباني ورکړیدي، هجرت یې کړي او د خپل ښکلی هېواد ټولي شتمنۍ یې قرباني کړي، موافق وي چې د هغو د ټولو هیلو پر خلاف غربي ډول دموکراسي پلي شي، که څه هم افغانان له مشروع ازادی سره تاریخي لیوالتیا لري، خو د اسلام د سپیڅلي مذهب په وړاندي هیڅ ډول قانون ته لیواله نه دي. اوس به د دموکراسۍ نظام ته راشو. که په ښه غور سره وکتل شي چې د اسلام چوکاټ د احاطي په توګه درزمن اوداغي نشي نو بیا هرڅه مباح دي هیڅ مشکل نشته چې د مباحاتو پر پرانستې لاره ځانته لاسته راوړنه ولري، خو که د دې په خلاف کاروشي نو بیا به بدبختي رابخښي، هر هغه نظام چې امنیت پکښي تامینیږي، د خلکو حقوق پکښي ساتل کیږي، شرعي نیمګړتیا ونلري، په اصولو کې له اسلام سره ټکر ونلري هغه ته شرعي صبغه ورکول کیږي. که د دموکراسۍ ماناداوي چې حکومت د ولس په عامه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



انتخاب سره وټاکل شي هم دا قانون په اسلام کې د ډېره اوږده مهاله پلي شویدی، خلفای راشدین رضوان الله تعالی علیهم اجمعین د صحابهٔ کرامو رضوان الله علیهم اجمعین په انتخاب سره د اسلام د لوی خلافت دندې ترلاسه کړیدي. مگر ښکاره فرق یې دا دی چې د غرا محمدی شریعت سره به د بدعت او یا منهي او منکر ښکارندوی نه وي. اسلام په حقیقت کې د نصرانیت او یهودیت له ادیانو سره توپیر لري. ځکه په تورات او انجیل کې له احکامو او ابلاغو پرته د یوه حکومتي نظام قانون وجود نلري، نو له همدې کبله په غربې نړۍ کې حکومت او مذهب بېل ساتل شوي، مگر اسلام د انسانانو اجتماعي او شخصي ژوند ټول احاطه کړي او د ژوند د ټولو چارو لپاره که حکومت وي او که تجارت، دعوی وي که د بشر حقوق کافي تګلاره لري. نو په داسې شرائطو او امتیازاتو کې د دې ضرورت نشته او نه هم مذهبي علمای کرام د دې اجازه ورکوي چې د سیکولر نظام په ډول حکومت او مذهب بیل وساتل شي.

بیا هم راځو امریکایې تقلید ته.

دغه امریکایې میتود یا دموکراسي په هېواد کې په داسې نوم معرفي شوه، چې ګواکې د هرچا حق، د بشر حق، مذهبې حق، کلتوري حق، د ښځې او نر حق پکښې خوندي ساتل شویدي، په نهایې شکل سره به د عدل او انصاف فیصلې کیږي، هیواد ته به امنیت راځي، پر هیچا به ظلم او تیری نه کیږي. بهرني یرغلګرقوتونه به له خلکو سره د افغانستان په ابادۍ کې مرسته کوي، مذهبې او کلتوري عنعناتو ته به پوره درناوی کوي، خو دغه ژمني د عمل په ډګر کې هیڅ پلي نه شوي. دلته بیا هم د ناسم او نارښتیا ویلو عمل شوی دی. البته دا د دې لپاره چې بهرنیان دېته لیواله شي چې افغانستان د اسلام ضدغربې دموکراسۍ لپاره په لیوالتیاسره اماده ګي لري او یا دا چې خلکو ته په بې مفهومه تبلیغ ذهنیت ورکول شوي چې دغه دودیزه غربي دموکراسي له اسلامي او ملي کلتور سره هیڅ تضاد نه لري. یو بل علت داهم کېدلای سي چې له بهرنیو یرغلګرو قوتونو سره له ډېره وخته د افغانانو حساسیت موجود دی او موجود به وي همدارنګه زاړه زخمونه لاهم تراوسه د وینو بوی ورکوي. په داسي شرائطو کې بهرنی یرغلګر تشویقول چې ګواکي د هیواد اکثریت وګړي دوی ته خوشبین او لیواله دي او هیچا ته به اجازه ور نه کړي چې د بهرنیو یرغلګرو په وړاندې لاس، پښه او خوله وخوځوي، داهم د نه رښتیا او ناسمو ویلو ناکامه پالیسي وه چې د ملت د ارادې په مخالفت کې لټول شوي وه.اړینه ده چې دلته دا متل هم وویل شې (زورغونډېږي هواره وي).

یو بل کار چي اوس تازه کمپاین ورته پیل سوی دی هغه د امریکا د وینو خوړونکو یرغلګرو دایمي اډې دي ، څنګه چي دا اوسنی قدرت د بهرنیو کمپنیو او انجوګانو د پخوانیو کارمندانو او شمالي ټلوالي سره دي چي اکثریت بهرني تابعیتونه لري غواړي د دغه قدرت د ساتلو او بقا لپاره د امریکا د یرغلګرو د دایمي پاته کېدو لپاره کمپاین وکړي . مطبوعات چي تر ډېره د غربیانو په پنډ او پیسو چلیږي هم دې خبري ته داسي کسان د تبصرو لپاره را غواړي چي همدغه نظریات تایید کړي داسي هم امکان لري چي د لويي جرګې په نامه یو څو معلوم کسان د بډو او پیسو په زور راولي او د ملت د نماینده ګانو نوم ورکړي او دغه ناروا پروژه ورباندي پاس کړي او بیا د امریکایانو دایمي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



اړوته چي د دايمي ستونزي په معنا دي قانوني بڼه ورکړي. دا هم د ناسمو کړنو او ويلو ناکامه پروسې دي چي د خلکو په اوسنيو شرايطو کي موږ د خلکو هيڅ واقعي نماينده ګان نه لرو ، نه په پارلمان کي ، نه په جرګه کي ، نه په کابينه کي او نه هم جمهور رئيس د خلکو واقعي نماينده دی. ځکه چي هيواد عملاً اشغال دی . هر څه د يرغلګرو په خوښه اوړي او را اوړي. جمهور رئيس غريب د ناوسیۍ له امله په عام محضر کي ژاړي . په هيواد کي سراسري جنګ روان دی د خلکو او حکومت تر منځ فاصله د مځکي او آسمان غوندي ده. نو څنګه ممکنه ده چي د هيواد په نماينده ګي د چا سره قرارداد وکړي . ښه به داوي چي همدا اوس يوازي په ورځنيو کارونو او اړتياوو باندي اکتفا وکړي او د داسي طولاني او اوږدو قراردادونو څخه ځان وساتي کوم چي د افغانستان د مستقبل سره تړلي دي تر څو په افغانستان کي پوره امن او رشتياني او حقيقي نماينده حکومت راځي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# کورنی سیاست

د افغانستان کورنی سیاست له ډېرو اوږدو زمانو څخه ترینګلتیا او پیچلتیا لري او په تحمل باندې نه ولاړه پالیسي د دغه ترینګلتیا کلکه جرړه ده. د انحصار او میراث یا په قومي توپیرونو کې ځان ځاني لټول شوي، د ډېرو رکنونو په مجاز کې پاینښت په ناسم او نارشتین شکل سره شوي دی دلته هم ډېر څېزونه علتونه او بیلګي لیدل کیږي چې د دغو پیچلتیاوواسباب جوړوي، مګر زه هغه نکتې څېړل غواړم چې زما فکریې زما د لنډ عمر په لړ کې ادراك کړیدی. هغه اته علتونه دي چې مایې تر ډېره په څېړنه کې لاس ته راوړنه او بریا موندلې ده.

لومړی د قدرت انحصار، دویم د تحمل کمښت، دریم د ضوابطو پر ځاي روابطو ته ترجیح ورکول، څلورم تعصب ته وده ورکول، پنځم اداري نیمګړتیا، شپږم د اشخاصو په رجحان سره بهرنی سیاست، اووم د قدرت د ټینګښت لپاره د اشخاصو ضایع کول،اتم د قضایې قوي نه ناپیلتوب.

په قدرت کې انحصار یا د قدرت انحصار په افغانستان کې یو عمده علت دی چې تل یې د خلکو احساسات راپارولي یازخمي کړي دي. کله د یوې کورنۍ لخوا او کله د یوه تنظیم لخوا او کله د یوه سمت لخوا کله په یوه ایډیالوژي اوکله په بله ایډیالوژي سره، خو دا ټول انحصارونه که په انحصار کې انحصار وي او که په یوڅه پراخوالي کې انحصار وي،د دغه هیواد لپاره ښه پایلي نلري، د انحصار مرض تر ډېره وخته پوري او له ډېره وخت نه په افغانانو کې یو ساري او مهلك مرض دی چې په هیواد کې یې د قابلیت او حقیقت رکن شنډ کړي او خنثی کوي یې چې په دې سره دخلکو مشروع حقوق له منځه وړي د عدل او انصاف تله کښته کیږي او یا له منځه ځي، که موږ د دې مثالونه وګورو او بیا پرې بې پرې قضاوت وکړو، نو له ۱۸۰۰زیږدیز کال څخه راپدیخوا بیا تر اوسه پوري په هر نظام کې دا مرض موجود وو اوس هم موجود دی بیاهم کیدای سي وده وکړي او کیدای شي بیا هم جرړې وکړي.

کله چې یو شخص په دې مانا چې کافي تجربه او پوهه لري، د علم په نعمت سره منور دی له اسلامي او ملي کلتور سره یې پوره روږدوالی ثابت شي، نو له همدې کبله خلك ورته د اعتماد سپارنه کوي او په هغه سره بسنه کوي، خو کله چې هغه د مسرولیت پیتې پر څټ واچوي بیا یې خپل حق وګڼي، د ګټلو لپاره یې خلك وژني، بندیانوي او بې عزته کوي یې. مشروع او نامشروع واړه ځانته مشروع ګڼي، منګولي په درانه پیتې او قدرت پسې لا مضبوطي او ښه ښخي کړي، آن تردې چې ورپوري ښریښ غوندې شي، روا نا روا ښه او بد ټوله شاته وغورځوي یادا چې د حکومتونو سمتونو انډول په هغه چا باندې سمبالوی او ساتي چې په قومي شکل ریښې سره ولري او په دې ډول په غلوونکي شکل سره انحصار وساتي یا دا چې یو واکمن ټولي چارې او یا ډېرې مهمې چارې خپله سرته رسوي بل چاته په کې د مداخلې حق هم نه ورکوي، یا دا چې ورسپارل سوي شخص ته په خپله دنده کې صلاحیت نه ورکوي، یا دا چې د اداري په چوکاټ کې د مسرول انتخاب د صلاحیت په نه درلودلو انحصار کیږي، د مثال په توګه یو شخص په

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



وزيرسره نومول کيږي خو د وزارت په چارو کې دومره واك نه لري چې څومره دهغه مقام صلاحيت وي او په نامه وزير صاحب بلل کيږي. همدارنګه معين، رئيس او امثال يې دي چې په لاندې او کښته توګه نومول کيږي، تري بده استفاده کيږي په همدې ناوړو کارونوسره د خلکو صبر او زغم تر کنټرول وزي چې کله نا کله د انقلابونو زيږنده فکرونه توليدوي.

د تحمل کمښت، تحمل، حلم زغم او صبر دا تر ټولو غوره صفتونه دي چې په چاکې دغه غوره صفت موجود وي بې له شکه چې بې ساري نعمت دی، دنيا د تحمل او زغم يو ښه ځانګړي درس تر شا پرې ايښي دی. زغم او صبر د الله له صفاتو څخه يو عظيم صفت دی چې په مبارکو اسماء الحسنى کې هغه د ځان لپاره يو اسم انتخاب کړيدی، په قرآنکريم کې دغه د حليم مبارک نوم په ډيرو مواردو کې ذکر شوی دی، چې پروردګار د خپلو د ښمنانو په موردکې هم زيات استعمال کړيدی. همدارنګه زموږ د ستر لارښود محمدرسول الله صلى الله عليه وسلم په صفاتو کې د حلم او زغم صفات ډير زيات دي، که د حضرت محمد مصطفى صلى الله عليه وسلم په مناقبو کې فکر وکړو نو ډير ځله به په ډيرو مواردوکې له زغم او صبرنه کار اخستل شويوي، داسې ډيري بيلګې شته چې رسول الله صلى الله عليه وسلم زغم او تحمل کړيدی. همدارنګه صحابه کرامو د دې لاري پيروې کړيده.

داسې ډيري بيلګې سته په ډيرو مواردو کې به د رسول الله په مخ کې صحابه کرام  په يو کار کې د زغم ياد نه تحمل په وجه ولاړيدل او د رسول الله نه به يې اجازه غوښتله چې مداخله وکړي لکه د حديبيې په سوله کې چې کوم د تړون او توافق ليك ليکل کيدی په هغه ليکښې د محمد رسول الله له نامه څخه (د رسول الله) الفاظ لري کړای شول چې پدې سره حضرت علي او نورو صحابه وو زغم نه شواي کولای، خو رسول الله هم خپله زغم کاوه او هم يې صحابه کرامو  ته د زغم او صبر توصيه کوله. د عبدالله بن ابې منافق يوه واقعه وه، چې په ډيرو مواردو کې يې‌ګ کفارو ته جاسوسي کوله، په مسلمانانو پسي به يې تبليغ کاوه، حتی دغه مبارك ايت د ده له خولې، د ده پر منافقت شاهدي ورکوي، چې:

]المنافقون:٨[

ژباړه: که چيرته موږ سالم او جوړ له جنګه مديني منوري ته ستانه سولو نووبه ګرځوو عزت مند د دغي مديني منوري ذليله اوخوار .

چې مطلب يې رسول الله وو. د ده په نفاق ټوله صحابه پوهيدل، حضرت عمر  او ډيرو صحابهٔ کرامو  د ده د زوی په شمول له رسول الله نه اجازه غوښتله چې هغه ووژني، خو رسول الله د دې لپاره چې کفار ونه وايې چې رسول الله ګواکېاوس خپل ملګري وژني، له زغمه کار اخيست او هغه ته يې څه نه ويل؛ حتی د هغه د ښخيدلو په وخت کې د هغه د زوی په غوښتنه د هغه جنازې ته ورغلې او لمونځ يې ورباندې وکړ.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



يوه بله واقعه : کله چې حَاطِبِ بْنِ دَبِي بَلْتَعَی د مکي معظمي مشرکينو ته خط واستاوه او هغو ته يې د رسول الله د پلان په اړه معلومات ليکلي وه، وروسته د وحي په ذريعه کشف او ونيول شول، ډيرو صحابهٔ کرامو  غوښتل چې سريې ځني ووهي، خو بيا هم رسول الله  خپل زغم وښود او هم يې صحابهٔ کرام دهغه له وژلو کړل.

دلته داسي معلوميږي چې د زغم نه کول هغه څه له لاسه ورکوي چې د انسان او ټولني لپاره پکښي ډيري ګټي نغښتي وي، زموږ په ټولنه کې د تاوتريخوالي ډير اړخونه د نه زغم له کبله راخوټيدلي او ستر شويدي چې ډير نژدي او ساده مثال يې په افغانستان کې د کمونست نظام تر نسکوريدو وروسته د مجاهدينو تر منځ نه تحمل او نه زغم دی. مجاهدينو هغه وياړ په ډيره قرباني او ښه ميړانه وګاټه چې نړۍ ورته له حيرته ګوته په غاښ وه. مجاهدينو هغه وياړ وګاټه چې د نړۍ مسلمانانو يې ګ له ډيره وخته انتظار کاوه. مجاهدينو هغه وياړ وګاټه، چې دري ميليونو شهيدانو يې په قبرونو کې، زرګونو کونډو او يتيمانو يې په کورونوکې او د وطن په ميليونونو مهاجرينو يې په پرديو ليري او نږدي هيوادونو کې هيله درلوده، خو دا ګټه څه شوه،دا وياړونه ولي په خړو اوبوباندې لاهوسوه، جواب دادی چې دا هر څه د نه تحمل او نه زغم په وجه درهم برهم شول. جهاد بدنام سو، هيواد خراب او خلك نور هم په کړاوونو او ستونزو اخته سول چې تر اوسه هم دويم نسل پکښي زيږي، لوييږي او بيا پنا کيږي. خونه په تدبير، نه په زور او نه په پوهه ورته د حل لاره ومونډل شوه، دلته به يوازې د حکمتيار او مسعود، د خود خواهۍ، تکبر، تنګ نظرۍ او په اسلام کې دنه زغم هغه بدي پايلي وګورو چې هيواد ته يې څه ناورينونه راوړل، د هغو په نتيجه کې دوی ته څه پيښ شوه، د جهاد تر برياليتوب وروسته د حکمتيار او مسعود په منځ کې څه موجود وو، دواړو په ظاهره د جهاد، اسلام او وطن د ګټو او ازادۍ دعوه کوله .

دا مشترکات ترټولومهم وه. د دې دعوی ورته ښه زمينه برابره سوه د هر څه امکانات لاس ته ورغله، که هغو زغم او تحمل کړي وای او خبره يې بيرته د لږو او وړو اختلافاتو په خاطر خدای او رسول ته سپارلي وای، نو بيا به افغانستان په نړۍ کې يو خپلواك، تاريخي او قهرمان هيواد وای. خلکو به يې په سوکالي کي له درناوي ډک ژوند کولای. همدا ډول دويم مثال د طالبانو او شمالي ټلوالي تر منځ د نه تحمل او نه زغم خبره وه. که په هغه وخت کې بيا هم په دې مبارك آيت سره په اخلاص عمل شوي وای چې:

]النساء : 59[

ژباړه: که په څه کي مو شخړه سوه ، نو الله او رسول ته يې ور وګرځوئ ، که (رشتيا) تاسي پر الله او د آخرت پر ورځ ايمان لرئ. دا غوره او په انجام کي ډېره ښه ده .

نو بيا به ولي هغه څه منځ ته راتلای چې راغله او د هغو نتيجه مو وليده. که اوس هم پردغه لاره فکر وشي ګټه رسولای شي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر ضوابطو روابطو ته ترجیح ورکول : دا مسئله یوازي په اهلیت پوري نشي تړل کیدلای په دې مسئله کې د قوم پالني ، سیمي پالني او انډیوالۍ علایم ډیر لیدل کیږي. د دي مشکل ډیر تفصیل ته ضرورت نه لیدل کیږي ځکه چې دا بدیهیات دي. ټول خلك په پوهیدلي او وربانديې پوهیږي. دغه رنځ د پخوا څخه جرړي کړیدي، مګر اوس یې نوره هم وده کړي. که څه هم له ځینو بې عمله خولو څخه اوریدل کیږي چې د ملي جوړښت په نامه کار اهل کارو ته ورسپارل کیږي، مګر داټولي د حال خبري دي. په حقیقت کې بیا همهغه څه کیږي چې کیدل او یا نور ډیر رمزونه ورسره مله شوي دي.

تعصب ته وده ورکول: تعصب یوه ګرمه او پټه ماده ده چې په هر انسان کې وجود لري او هر سړی له دې مادې څخه څه ناڅه څکه کوي خو په ځینو خلکو کې بیا دعادې شکل په مقایسه ډیر قوت لري، که څه هم دایو مهلك او نه جوړیدونکي مرض دی، خو بیا هم دعلاج لپاره ضرور دوا لري. خو اړینه خبره داده چې څوك په دې سره قناعت وکړي چې دی په دغه ناوړه رنځ مبتلا دی او د هغه درمل کولو ته زړه ښه کړي. په افغانستان کې د تعصب ماده له ډیره وخته پالل شوي، وده ورکول شوی او کار تري اخستل شویدی خو دعلاج لپاره یې کمه او ناکافي هڅه شویده. په افغانې ټولنه کې دا ماده پلني جرړي لري مګر بل تري ګټه اخستي، مذهبې، ژبني، منطقوي، قومي، کلتوري عوامل د تعصب اساسي جرړي دي. موږ د دې شاهدان یو چې دا ټولي مادي د دغه هیواد په لنډ تاریخ کې ازمویل شویدي چې دا هم ډیر تفصیل ته اړتیا نلري. یوازي بوی یې زموږ لپارهکفایت کوي. زه نه غواړم چې د دغو بیلګو مثالونه زیات روښانه کړم ځکه چې دا مثالونه ښه روښانه دی فقط دومره ورته ګوته نیسم چې تعصب په ډول ډول بڼو یو له هغو رنځونوڅخه دی چې په موږ کې خپور شوي خو علاج یې پکار دی.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اداري نيمګړتيا

اداري نيمګړتيا تر ډيره د هيواد تر نظامونو پوري اړه لري. په هيواد کي يو نظام تربل نظامه پوري توپير لري خو څه ناڅه نيمګړتيا په هر نظام او هر چا کې وجود لري، اداره که څه هم ډيرو اړخونو ته په پام سره ډيره اړتيا لري دايو مثبت حقيقت دی خو نيمګړتيا د هري اداري اکثره تر ښه علم ، پوهي او کاری تجربي پوري اړه لري، لکه څنګه چې وړاندي وويل شوه د ملت او وګړو چاري تر ډيره تر اداري پوري موقوفي دي. که په اداره کې نيمګړتيا وجود ولري نو مانا يې داده چې دغه نيمګړتيا د هيوادوالو پر ټولو چارو باندې منفي تاثير غورځوي، مثلا په اداره کې تعصب کول، رشوت اخستل، ظلم کول اويا د ظالم او ظلم پلوي کول، څلور واړه هغه څه دي چې په خلکو کې ستونزي پيدا کوي، دغه ستونزي د وخت په تيريدو سره نفرت زيږوي په نتيجه کې د دغه نفرت په قوت سره يوه فاصله رامنځته کيږي. دلته ددغو څلورو ټکو او علتونو په پام کې نيول ډير اړين دي چې په پوره پاملرنه ددغه پرمختګ لاره ډب کړای شي.

د اشخاصو په رجحان سره بهرنی سياست:

بهرنی سياست د کورني سياست عمده جز دی چې په سياسي، اقتصادي او امنيتي چاروکې مثبت او عمده نقش لري. له همدي کبله چې د هيوادوالو برخليك په څو برخو کې د بهرني سياست او پاليسيو سره تړلی دی چې هغه د ژوند بوختيا ، ليوالتيا او بشپړتيا تشکيلوي له همدې کبله پکار ده چې په دغه عمده عنصرکې ډير ژور تحقيق وشي ترڅو د هيواد جغرافيايې او کلتوري ارزښت په نظر کې ونيول شي، مذهبي مقدسات او سپڅلتيا د چوکاټ په توګه اساس وګڼل سي، ملي منافعو ته پوره پاملرنه وشي، امنيتي، اقتصادی مشترکات وڅيړل شي او بيا د هغه په رڼا کې بريالی تګلاره جوړه شي، مګر په خواشينی سره ويلای سو چې په افغانستان کې بهرني سياست د ملي منافعو پر ځای شخصي منافعو په واك کې اخستي او تري بيځايه استفاده سويده، که موږ د دې ډيري بيلګي وګورو ډير ځله مونډلای شوچې منفي پايلي يې څومره ژوري ستونزي راټوکوي. پري پوهيدلي شو چي په راتلونکې کې تري ښه تجربه اخستلای شو خو مهمه داده چې په ځير او حقيقت سره ورته وګورو يا وکتلای شي، د دې ښه اولنۍ مثال دکمونستانو د واکمنۍ په وخت دافغانستان منفي سياست وو چې له پخواني شوروي اتحاد سره څومره نژدي شوي وو، د هغو ټول شرائط يې منلي وه. د هغوی راتګ ته يې ګ په مينه او محبت سره ښه راغلاست ويلي وو. د هغو توجه يې ځانونو ته راجلب کړي وه، مګر دا ټوله د اشخاصو د سياست لاره ، تګلاره او کړنلاره وه، نه د ملت صلاح مشوره او نه د حکومت ټولواکي پکښې نغښتيوه.

له بده مرغه تر هغه وروسته رباني صاحب د خپلي واکمنۍ په وخت کې د هغه ترخه پړاو په ليدوسره يوځلي بيا د روسانو په غيږکې ملت وروغورځاوه. د ټوله هيواد د خرابيو ورانيو د خلکو پر پت او عزت د لوبوکولو، د دريو ميلونو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



شهیدانو وینو، د یو نیم میلیون معیوبینو پري شوي لاسونه او پښې او د هغو وتلي سترګي د اووه میلیونوافغانانو د هجرت ناخوالي روسانو ته بخښل، هغوی بیګناه ګڼل، د دوستۍ لاس ورکول بیا هم دافغانانو ملي سیاست نه وو، بلکي د اشخاصو د سیاست تګلاره وه.

هم دارنګه د اسلامي امارت په دور کې د اسامه مغلق او سخت مشکل چې تر پایه ورته د حل لاره پیدا نشوه، افغانستان ورسره په حیرانوونکي، دردوونکي، ویرانوونکي برخلیك اخته شو د اشخاصو د سیاست تګلاره وه، همدارنګه د کرزي په دوران کې غربې دموکراسي راوستل، کفارو ته په افغانستان کې بې حده او بې سرحده واکمني او اختیار ورکول. دقوم معزز علما او معزز خلك توهینول او بندي کول، د هیواد کلي اوکورونو بمبارول په زرګونو معصوم افغانان وژل او بالاخره د دې زمینه برابرول چې په دې سپېڅلي هیواد کې د دوی ناولي قدمونه ثابت پاته سي او دایمي اډې ولري هم د یوڅو اشخاصو د سیاست تګلاره ده د افغانانو د سیاست تګلاره په تاریخي لحاظ د داسې تګلاري تصورهم نسي کولای، همداسې په روان بحران کې د ګاونډیو هیوادونو په دښمنۍ کې ګرمیدل، سختیدل، او بالاخره دهغو د دفاع نه کولو کمزوري یاناوسي هم د اشخاصو د سیاست تګلاره ده، داسې ډیرې نموني لیدل کیږي چې یو واکمن د څو اشخاصو د خوشحاله کولو او د هغوی د ضرر د دفع کولو لپاره په یوه بې طرفه، معقول، او معتدل سیاست باندي استقامت نه کوي، هغه لاره چې د ملي امنیت ملي ګټو د خوندیتوب دوامي تقاضا کوي له نظره غورځوي، که څه هم په لنډ مهالې تګلاره کې په تدریجي شکل سره نوري ناخوالي راوړي .

اووم: د اشخاصو تلفول وژل یا د لاسه ورکول:

د نړۍ په هرهیواد کې با تجربه، روښن فکره، مدققین علما ، په هره زمانه کې د هیواد لپاره یوه ښه او ګټوره هسته بلل کیږي، په ټوله نړۍ کې د داسې هستۍ لپاره په ډیره دقیقه توګه هڅې کیږي چې داسې هستي په ډیره ښه او محترمه توګه وساتل شي، پرته له دې چې هغه شخص د حکومت له کړو سره موافق دی او که مخالف دی. دایوه طبعي خبره ده چې د هر هیواد وګړي له خپل هیواد سره مینه او محبت لري. همدارنګه په ځینو هیوادنوکې په ځانګړي ډول په اسلامي هېوادونوکې مذهبې امور هم د پام وړدي خو په مجموع کې له مذهب، وطن او کلتور سره د خلکو مینه او محبت موجود وي، کېدای سي یوازي توپیر په دې کې وي چې څوك دین او مذهب، څوك ملي منافعو او څوك کلتوري عنعناتو ته یو پر بل ترجیح ورکوي، خو اصلي مینه تر ډیره پر ځای پاتي وي.که موږ دقیق وګورو دلته دا اساسونو څېړنه ډېر څه را برسیره کوي چې په هغه کې د خلکو احساسات توپیر لري، د چاسره یوازي د دین احساس وي او له چا سره یوازي د وطن احساس وي، له چا سره د شخصي ګټو احساس وي، دلته دوه احساسه وجود لري چې یوازي د دین او یوازي د شخصي ګټو،که دغه منفرد احساسات د وطن له احساساتو سره یوځای نه وي ډیرځله پریوه پیچلي لور پرمختګ کوي چې په نتیجه کې د احساساتوتدخل نه راځي همدغه یوپیرکیدای شي دستونزو بنیادجوړسي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیرته به اشخاصو ته راشو، دلته تر ډېره د خلکو توپیر په احساساتو پوري اړه لري خو په ژوند کې هر چا د خپل ځان لپاره یوه ګوښه اختیار کړیده په هغه کې یو اجتماعي فکر لري،هرڅوک یا په مخالفت کې ګڼه لټوي او یا په موافقت کې دا چې څوك په ثواب او څوك په خطا کي دی له دې نه بیا تحلیل کوونکي، تجزیه کوونکي اوعوام خلک ګټه اخلي.

دلته به په یوه لنډ مثال سره اکتفا وکړو، مثلا که د یوه سړي سره یوازې د وطن احساس وي هغه یوازې د وطن جوړول، ودانول او پرمخ تلل په نظر کې نیولي وي، د دی لپاره هره لاره لټوي چې تري ګټه واخلي، پیسې پیدا کوي او ملاتړ ډیروي، خو د مذهب او کلتور ارزښت یې په نظر کې پوره نه وي نیولي او نه د هغه په اهمیت پوهیږي هغه پر هر چا باندې د ځان فکرکوي، څکه نو د ملي ګټو د پرمختګ لپاره له کفارو سره راشه درشه، معامله او ادغام ورته ښه کار ښکاري، مګر بالعکس یو بل شخص چې یوازې د دین احساس ورسره وي یا د دین او وطن دواړو احساس ورسره وي هغه بیا کفري معامله او ادغام د وطن او دین د ګټو په تاوان بولي، د ځان په وینو یې مقابله کوي او دا د ځان حق بولي ترڅو ټول امکانات په کار واچوي، خو که دلته یو احساس وځیږو هغه له وطن سره د میني او محبت احساس دی چې په دواړو کې وجود لري، که دلته دواړه احساسه سره یو شي او یا تجزیه کوونکي تري کوچ وباسي، نو مثبته نتیجه تري اخیستلای شي، د دی پر ځای چې د داسي فکر څښتن بندي، تبعید یا ووژل شي. څکه دغه احساسات په مهارت یوکېدلای سي نه په زوراو وژنه سره، لکه څنګه چې د احساس د توپیر یادونه وشو دلته باید ومنو چې د هیواد او سیمي ټول شخصیتونه په یوه نظر نه شي راتلای او نه په یوه فکر سره موافق کیدلای شي، البته د یوه ښه تفاهم په رڼا کې یوې ملي او ګډې نکتي ته ورنژدې کیدلای شي، د هر چا ګټه او شخصیت تر ډیره په خپل ځان کې ډېراهمیت لري، خو د کاري تجربې ګټه یې په هر وخت کې یوې ملي خزانې ته ورته ده چې څه ناڅه هرڅوک ګټه تري اخیستلای شي، اما وهل، بندي کول، تبعیدول یې یوازې دانه چې هیواد له یوې ستري هستۍ نه محروم کړي، بلکې ډېري نوري ستونزې زیږوي، موږ د خپلي لنډې تیري زماني په مختلفو اړخونو کې ولیدل چې د ملي شخصیتونو، روحانیونو، علمای کرامو او سیاسي څیرو په له لاسه ورکولو سره هیواد د یوه بې سرپرسته یتیم په څیر د جهالت او نه تجربې له کبله په ګړنګونو کې ولوېد، لوټ شو، تالا شو او هري بدرنګۍ ورته رامخه کړه، که څه هم د شخصیتونو ترمنځ د نظر سر سري یا ژور اختلاف وجود ولري مګر د دې ټولو پر کړنو قضاوت خلکو ته پاتیږي.

له بده مرغه په افغانستان کې چې هر نظام په واک منګولي ښخي کړي تر ډېره یې د ملي مطرحو اشخاصو د نابودولو هڅه کړي، په یوه او بل نامه سره یېګ ورته د بدنامۍ لاره لټولي. د دې باوجود ډېرو واکمنو بیا د دغوڅیرو په مرګ صرفه نده کړې. د دې لپاره چې د هغه د نظام په وړاندی خنډ ونه ګرځي او د هغو د کړنو منفي اړخونه ورته په ګوته نه کړي یا ورباندې نور خلك ونه پوهوي، داڅکه چې د هر نظام واکمنان داسې فکر کوي چې د هغو نظام به تلپاته نظام وي او دوی به دلته تل تر تله واکمنان وي، نو د دې لپاره د علمي او ملي شخصیتونو شتون د خپلې بقا

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په وړاندي خنډ په نظر ورځي که څه هم د ده دغه ناسم نظر د نورو خلکو د تایید وړنه وي، خو هغه په دې فکر کې کله هم نه وي چې دغه وګړي او شخصیتونه د خلکو لپاره د پیشوایانو مانا لري، خلك ورته احترام لري، له ښې تجربې او علم څخه یې هیوادوال ګټه اخلي، که څه هم له ده سره د نظر بېلوالی لري.

اتم: د قضایي نظام نیمګړتیااو نه ناپېیلتوب:

په هر هیوادکې قضائیه قوه د مستقل واک لرونکې وي. د دغي قوې ټولي فیصلې یوازي په عدل اوانصاف باندي ولاړې وي. همدغه ناپېیلتوب د دي لامل کیږي چې خلک دغه مرجع د ځان د برخلیک لپاره یوازنۍ مرجع بولي. خوکه دا مرجع خپل استقلال ونه ساتي اویا دسیاسي افکارو تر تاثیرلاندې راشي په دغه صورت کي هغه خپل طبعي اهمیت او ارزښت له لاسه ورکوي کوم چې د خلکو د اعتماد او تقاضا په نتیجه کې راغلی دی.

که موږ په ناپیلتوب سره په افغانستان کي د څولسیزو راپدیخوا د قضایې سیستم جریانات وګورو دا نتیجه ترلاسه کولای سو چې زموږ قضایې سیستم دسیاسې افکارو ترسیوري لاندي راغلی دی هغه ناپیلتوب چې دغې قوې ته پکاروو څه ناڅه له لاسه ورکړي. د دې زیږنده نتیجه به داسې چې د هغو خلکو لپاره چې د عدل تقاضا او هیله لري خو د قضا د ناپیلتوب څخه مطمئن نه وي پرځای د دي چې دغه مرجع ته مراجعه وکړي خپل حق په خپل زورسره غواړي.

کله چې دغه قوه د سیاسي افکارو لپاره قرباني کیږي په نتیجه کې یې دوې مهمې ستونزې راولاړیږي یو د هیوادوالو بې اعتمادي. دویم دبې عدالتی لمن پراخېدل چې بر عکس به د ظلم تغر پر ملت سیوری کوي. دا هغه بد حالت دی چې ناتوانه اوبې وسه خلک به د محرومیت احساس کوي هغوی به د خپل برخلیک په اړه داسې فکرکوې چې ګواکې د دوی د ږغونو د اورېدلو لپاره هیڅ مرجع نسته. له همدې کبله هغه چاته ښه فرصت پلاس ورځي چې د موقع څخه استفاده وکړي.

دابه کیدای شې هغه حالت وي چې د هیواد ډیری وګړي شایدپه دې عقیده وي چې دغه قوه د یوې متخاصمي اداري بڼه لري نه د یوه قضایې قوې حیثیت. په همداسې پالیسۍ به خامخا خلک د مایوسۍ احساس پیداکوې، که څه هم چي داداري فساد او بډي اخستني یوه بله لویه ستونزه ده چي هغه بیل اړخ لري.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# کرغېړنه غربي د موکراسي

لومړی باید په دي سره پوه شو چې اساسي دموکراسي څه ته وايې؟ دویم دا د چا نظام دی؟ دریم څومره سابقه لري؟ څلورم دا د چاپدیده ده او د څه مطلب لپاره ورته وده ورکول کيږي؟ پنځم د چا په مرسته پالل کيږي او مخ ته ځي؟ په اخیر کې زموږ د هیواد لپاره څومره اغیزمنه تامېدلای شي؟ دلته هغه شیږ مطالب ډېر ضروري دي چې په ځیر سره وڅیړل شي نه دا چې د بل چا له ډول او سرنا سره وناڅو او وایو چې ( شك دی بچی شك دی ) د بل نظام په پټو سترګو تقلید اوبدرګه شي. اوس تر هرڅه وړاندي دا مهمه ده چي سړی په دې باندي پوه شې چې افغانستان کوم هیواد دی، د کوم کلتور پالونکي او ملګری دی، څنګه فکراو نظام په ګړندیتوب سره وده پکښي کولای شي.

په همدې پوهه سره موږ د ډیرو هغو سوالونو جوابونو ته ځان نژدې کولای سو، چې د آخرنی اسلامي خلافت په مرکز ترکیه کښی وجود لری. کوم چې د اسلامي خلافت وروستی تاټوبی او د هغه د ختمولو مرکز دی. که څه هم په دې موضوع کي د غربې هیوادونو ډیر اشتباهات تر سترګو کیږي چې دغه زړه ته یې د مکروب لاره ورکړه، یا دا چې د عرب او عجم زهرجن الفاظ یې د تعصب په توګه پکې وشیندل شول بالاخره یې اسلام او مسلمانانو ته د نفاق، شقاق او پراګندګۍ لاره پرانستله چې دیکتاتور اتاتورك یېګ نوره هم فاصله زیاته کړه، دا یوازنی علت نه دی چې کفایت ورباندې وشي که څه هم د تمرکز سترګي په ډیر زور سره دغه لورته کړي شویدي ترڅو هم مړ او هم پړ په یوه چوکاټ کې ځاي شي، خو بې طرفه تواریخ هغه څه په خپله ځولۍ کې رانغاړي چې علتونه یې په ګوته شي وڅیړل شي، وشربل شي او کوچ تري راوایستل شي، ګومان کوم چې په راتلونکي یا روان مضمون کې به ورته بربنډتیا ورکړو .

دموکراسي څه ته وايي موږ پخپله اصطلاح د دموکراسۍ د لفظ لپاره څنګه لغات کارولی شو؟

دموکراسي د عربې، پښتو او فارسي کلمه نه ده. دا یو انګریزی لفظ دی چې د ډموکراسۍ طلبو اذهانو په زیاریې په نړۍ کې عام والی خپل کړی دی. خو زموږ په ژبه کې له خلکو نه جوړشوي حکومت ته وایې کوم چې بشپړه ازادي ولري، د خلکو د اکثریت رایه په کښي مطلقه مطرح ده، مانایې دا چې په لس کې نه تر شپږو پوري که د یوي یوي پریکړي پلوي وکړي نو هغه پریکړه به د یوه قانون په څیر بڼه خپلوی، په دې کې اصلاً د شریعت او مذهب دخل نشته بلکي دموکراسي د مذهب او حکومت په منځ کې بېلتون ته ښه پام کړي په دې پدیده کې ډیرکار سوي چې د هغو د ربط تار هم پکښي له منځه وړل شوی یا شلیدلی دی. دموکراسي د انسان د کرامت لپاره یوازي او یوازي ازادۍ ته لاره ورخپله کړي چې په نړۍ کې هر څوك کولای شي له خپلې ازادۍ نه د یوي وسیلي په توګه کار واخلي، یوازې یوازي دوه شیان پکښي مراعات او مطرح شوي چې یو ملي امنیت ته خطر نه وي او بل د ملي احساس پارول پکښي په ځغرده تبلیغ نشي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دموکراسۍ یو بل تعریف دادی چې حکومت د خلکو د رایو په اکثریت سره انتخاب شي، اساسي قانون چې د ملك چاري په وړاندی بیایې هم د خلکو د ګډ نظر بیا د اکثریت او ډیر والی په صورت کې جوړیدلای شي. د یته مقننه قوه ویل کیږي چې په هغه سره به د تنفیذ په شکل قضائیه او اجرائیه قواوي د ملت او حکومت چاري پر مخ بیایې. اوس به دې مطلب ته راشو چې دموکراسي څه ته وایې؟ یو تعریف چې مخکې مو ورته اشاره وکړه د خلکو حکومت دی. دویم تعریف دا چې له مذهب نه بېل د خلکو د نظرونو حکومت دی چې زموږ په ټولنه کې په سیکولر یا لامذهبه نظام پیژندل کیږي چې دین، مذهب او حکومت سره بیل وساتي. د داسې قانون پلوی کول د هغو خلکو لپاره ګټه رسوي چې د مذهب فکر ورسره مطرح نه وي یوازي د مدني ژوند، ازادۍ، او خپلسری څرنګوالي په نظر کې نیسي. د نړۍ په دموکراتیکو حکومتونو کې پارلمان (اولسې جرګه) دمقننه قوې په نامه واك لري چې د پریکړي عملي کول یې په قضاییه او اجرائیه قواوو پوري اړه لري. پارلمان چې د دولتونو په تناسب توپیر لري د خلکو له غوره کړی شویو استازو له ترکیب څخه جوړیږي، د پارلمان پریکړې د خکو د رایو په اکثریت سره منل کیږي چې په ښکاره ډول د شریعت دین او مذهب ورسره هیڅ تړاو نشته، که څه هم په افغانستان کې د اساسي قانون د جوړولو لپاره د لویې جرګي جوړول یوه ځانګړتیا ده مګر داچې ځیني خلک دموکراسۍ ته د اسلامي دموکراسۍ نوم اورنګ ورکوي هیڅ بیخ او بنیاد نه لري.

دموکراسي د چا نظام دی؟ که څه هم دموکراسي په خپل ذات کې یو اوږد فکري تاریخ لري خو عمده څرنګوالی یې په اروپا کې د فیوډالي او مورثي حکومتونو پر ضد د ازادۍ بڼه واخستله، په تیر تاریخ کې چې له نولسمي پېړۍ څخه وړاندي تیرشوي په اروپا کې داسې حکومتونه موجود وه چې ملك (پاچا) او د هغه ښځه ملکه یې په مځکه کې د خدای نائبان نومول کیدل، ځکه چې د ډیرو یهودي او نصراني راهبانو انحرافاتو دوی ته دا لقب وربخښلی وو، چې ملك پر مځکه باندې د خدای  نائب دی. هغه چې څه کول وغواړي نو هغه ګواکې د خدای غوښتنه ده. په اطاعت کولوسره یې وګړي هرومرو مکلف دی. د مثال په توګه که بالفرض د ملك رضا او خوښه وي

د انسان وژل، له وطنه تبعیدول، مرییې ګرځول او بندي کول ټول بې له کوم دلیله ورته مباح دي. دهغه وخت پاچاهانو هم دغه د تکبر فکر منلی وو او دایې خپل مذهبې او دیني حق باله د وخت راهبانو یې هم دا حق د خدای دورکړي په توګه تاییداوه.

یو بل علت داهم موجود وو چې په نصرانیت او یهودیت کې د حکومتي چارو نظام وجود نه درلود ځکه به نو همیشه د مذهب په نامه شخصي چاري پر مخ بیول کیدلي او مذهب به د وسیلي په ډول کارېدی.

یو بل عمده علت داهم وو چې په یهودي او نصراني ادیانو کې د هغه عصر د راهبانو انحرافات ترحد ډېر شوي وه چې پر ډېرو توکمیزو، سیمه ییزو، ژبنیو توپیرونو باندې ولاړ وه دا یوه بله ستونزه وه چې مذهب یې پکښې ورك کړی یاپاشلی وو. له همدې امله د ډېرو اختلافونو جنګونو وینو تویولو هنګامه یې په دغه سیمه کې ګرمه ساتلې وه. نژدی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر راهب ځان د خلکو پلار باله او د پلار لقب ورته کارول کېده او هغه څه چې به پلار غوښتل هغه به د زامنو لپاره جدي فريضه وه چې ترسره کولای به یې. د بېلګي په توګه په غرناطه کې د زيمينس کړني او ناروا وې چې په نتيجه کې يې ګ د ډېرو مذهبونو د پيروانو او د لامذهبو او مختلفو مذاهبو ترمنځ تاوتريخوالي ته دغه لاره غوره شوه لکه دموکراسي چې هر سړی بايد د خپل نفس واك ولري، د ځان لپاره وکيل انتخاب کړي او د هغه وکيل له لاري حکومت وټاکل شي مذهب د دولت د اداري او د ژوند له چارو بېل وساتل شي، د ژوند د چارو لپاره پارلمان تصميم ونيسي اجرائيه او قضائيه قواوي يې د تطبيق چاري پر مخ بوځي، هم دا لاره کولای شي خلکو ته د محدوديت او مسړوليت حلقه بي ماناوښيي .

له نولسمي پيړۍ راپډي خوا دموکراسۍ په اروپا او امريکا کې پوره وده وکړه چې په تيره شلمه پيړی کې يې اسلامي هيوادونو ته هم لاره پيداکړه، که څه هم د عثماني خلافت تر ړنګيدو وروسته چې د عبدالحميد خليفه د بي کفا يتی له امله پای ته ورسيد. په ترکيه کې يوې ديکتاتوري سرټمبه ګۍ دغې دموکراسۍ ته د اسلامي نظام پر ضدلاره پرانيسته. دغه راز دموکراسي د يهوديت، نصرانيت او الحاد خلاصه شوي او طرحه شوي ژوند لاره ده چې نن يې په زور او مهارت سره په اسلامي هيوادونو کې جرړي ځغلولې دي.

دموکراسي څومره سابقه لري؟ د ځينو تاريخ پوهانو په نظر د دغه نظام بنسټ اېښودونکی يو يوناني مشهور عالم او فليسوف افلاطون وو چې په منځنيو پيړيو کې يې نړۍ ته سترګي رڼي کړي او پټي کړي دي. د هغه ترمرګ وروسته د يوې غوره مفکورې په توګه ترځيړونو لاندی شربل کيدله ترڅوېې د يوه نازك تخم په څير د استالين د شاګردانو له لاري دهګۍ مثال واخست، همدارنګه په اتلسمه پيړۍ کې د اروپايي پوهانو لخوا نوره هم وشربل شوه چې د منځنيو پيړيو په پای کې يې له هګۍ نه سر راوايست. تردي وروسته په نولسمه پيړۍ کې د ځوانۍ مرحلي ته ورسيده. په شلمه او يوويشتمه پيړۍ کې معلوميږي چې د اوج پر لاره روانه ده چې د ډيرو پوهانو په اند په دوه ويشتمه او درويشتمه پيړۍ کې به خپل پاخه سن ته ځان ورسوي بياکيدای سي ترديې وروسته له منځه ولاړه شي چې ځاي به يې ګ ان شاء الله د اسلام مضبوط او اسماني قانون ونيسي.

د دموکراسۍ د مفکورې دويم مشهور بنسټپال پريکليس دی چې په يونان کې د يوه ښارچې اتن نوميدی پاچا وو او له ٤٢٢م څخه تر ٤٤٩م پورې د هغه ښار واکمن و. د ده په وخت کې يونان پر مختلفو ښارونو ويشل شوی وو، قومي، نژادي، فرقوي، منطقوي، فرهنګي او مذهبې توپيرونه پکښي ښه زيات وه، جنګونه او وژنو پکښي ډېر پاخه تاداونه درلودل. درنو کورنيو او شتمنو خلکو به د نورو خوارانو او بيوزلو خلکو پر حقوقو خيټي اچولي وي. هغوی به يې د غلامانو په توګه استعمالول. په همدې وخت کې پريکليس د دې ابتکار ګټونکی شو چې خلکو ته پوره او مساوي حقوق ورکړي او په حکومت کې بيوزلو او غريبو خلکو ته د شموليت لار هواره کړي. همدارنګه په اقتصادي او صنعتي کارونو کې هغو ته د خپلي خوښي د کار چانس برابر کړي. د دې سره سره د ده ځينو افکارو کمونستي بڼه درلوده لکه خوارو او بيوزلو خلکو ته د فيوډالانو يا شتمنو خلکو مځکي ورکول همدا ډول تر ډېره وخته د خلکو په

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټول ژوند کې مساوي ساتل چې دا بیا د شتمنو او زیارکښو خلکو پرسر یو گوزارغوندي وو. مگر وروسته په پنځمه اوشپږمه پیړۍ کې په همدغه ښار کې د سولون، کلستین، انالیست او نورو واکمنانو لخوا په کې د پام وړ ترمیم وشو.

دا چې دموکراسي د څه هدف لپاره پر مخ بیول کیږي؟ د دې اهداف تر ډېره معلوم دی، موږ له وړاندي یادونه و کړه چې په یونان او نورو اروپایې هیوادونو کې ډیرو فکرونو او مذهبونو وجود درلود چې هغه ځیني اسماني او ځیني غیر اسماني مذاهب وه، له دې نه علاوه الحاد او لادینۍ پکښي ډیر رسوخ درلود، د تور، سپین، غنم رنگه، نژادې مسئله یوه بیله ستونزه وه چې ان تر اوسه هم په امریکا او اروپا کې دغه تبعیضونه وجود لري، د دغو ستونزو له منځه وړلو لپاره دموکراسي نظام ته ښه پام شوی او وده ورکول شوې وه چې د شلمي پیړۍ په وروستیو او د یویشتمي په پیل کې یې ډیري ښلگې په گوتو کولای شو چې هغه د اروپایې مختلفو دولتونو، مختلفو ژبو او قومونو یو کول دي. هغوی د یوي ستراتیژۍ په جوړولو کې توافق ته رسیدلي دي چې هغه د حدودو له منځه وړل د مروجو اسعارو یووالی او پوځي اتحاد دی، چې واقعاً د هغو لپاره یو قوي او مثبت گام دی داچې د دې اړینتوب ترشاڅه باعث سته دابیا بله خبره ده.

که څه هم په پنځمه پیړۍ کښي د یونان حکومت دموکراتیك پړاو ته سر ورننه ایستلی وو خو په هیواد کې یې چې داتن ښار یې مرکز وو د دموکراسۍ نوم نه وو خپل کړی دا د هغوی لپاره د یوه غوره فکر پدیده وه، د یونان په تاریخ کې د دموکراسۍ ابتکار د هغواختلافاتو له مینځه وړل وو چې د خلکو ورځنی ژوند یې گواښاوه او د هغو کارونه یېله خنډ سره مخامخ کړي وه.

دویم په یونان کې هغو کسانو ته ازادي ورپه برخه کول وو چې دغلامۍ او یا هغه ته ورته ژوند یې دشتمنو او اشرافو د جاه طلبی، خوښی او خوشامندی لپاره تیراوه، مگر دغې دموکراسی بیاپه نورو پیړیو کې چې د امپراتوریو د واك پراخیدل یې غوښتل بله بڼه درلوده، په ځانگړي توگه د رومانیانو، اسکندریانو او پارسیانو په خونړیو واکمینو کې. مگر د دې پدیدې سره سره په اوومه پیړۍ کې بیا د اسلام د سپیڅلي دین په وړاندی یو بل دریځ خپل شو.

اسلام یو هغه سپیڅلي قانون وو چې د هر چا لپاره یې خپل حق ورکړی وو. اسلام د بشر درناوی، د ظلم او استبداد مخنیوی، د نارینه وو او ښځو د حقوقو درناوی او د هغو لپاره حق ورکول، فرهنگي، اقتصادی او اجتماعي ژوند ته وده ورکول او بیا د اتفاق او اتحاد پر لار د خلکو سمول او برابرول، په نړۍ کې د نژادي، فرقوي، قومي، منطقوي توپیرونو مخه نیول وه چې ټولو ځپلو طبقو یې په ښه ورین توب سره هر کلي وکړ او په لږ وخت کې په افریقا، اسیا او ځینو اروپایې سیمو کې خلك د اسلام په مبارك دین مشرف شول؛ مگر داچې په اروپا کې د عیسویت او یهودیت لړۍ ډیرهگرمه روانه وه د دغو مذهبونو راهبانو او پادریانو د اسلام د خپریدو مخه ونیوله د دې لپاره چې د اسلامې نظام د راتلو مخه ونیسی د دموکراسۍ نظام ته یې یو بل رنگ ورکړ.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کڅه هم په نړۍ کې اوس دایو معلومات یا علم دی چې سړی د دموکراسۍ په تاریخ پوه شي، خو مهمه خبره داده چې موږ ټول باید په دې باندې پوه شو چې د دموکراسۍ نظام زموږ د ټولنې او خلکو لپاره څه حیثیت لري او څومره ستونزې مو کمولای شي، څومره ورسره زموږ د ملت وګړي لیوالتیا لري او ولې غربې هیوادونه غواړي چې د دغه نظام د تطبیق لپاره دېګ زموږ هیواد قرباني کړي یادوی خپله قرباني ورکوي او ولې دغه نظام چې د خوښې او آزادۍ په نوم بدرګه کېږي اسلامي هیوادونو ته د B 52 الوتکو او کروزو توغندیو یاخونړیو انقلابونو په بدرګه راځي، داچې هر څه دې ګټه ده که تاوان دی، ښه دی که بد دی دابه شاته پرېږدو. دابه وڅېړو چې زموږ برخلیك به ورسره څنګه وي؟ زموږ مشکلات به ډېر کړي که به یې کم کړي؟ زموږ خلك ورسره لیوالتیا لري او که نه؟ زموږ له ټولنې سره سمون لري او که ټکر؟ دا هغه څه دي چې موږ باید وربانديې حتماً پوه شو.

اول: زما او بیا له ډېرو مسلمانانو سره به دا سوال وي چې په اسلامي نظام کې د بشر، نر او ښځې، لوی او کوچني، مسلم او نا مسلم، ګاونډي او عام، مسافر او مقیم همداسې .... نورو پوره حقوق قوانین او لارښوني پکښې معلومې شوي، د نړیوالو اړیکیو امنیت، اقتصاد، سیاست او همکارۍ ټول اړخونه پکې په بشپړه توګه ښودل شوي، د مډرن تکنالوجۍ، ښوونې اوزده کړې، او خود کفائي سره خلکو ته امر کوي، لنډه دا چې د انسان د ټولو احتیاجاتو لپاره پکښې هیڅ ډول نیمګرتیا نشته، سره له دیګ چې د هیواد ټول وګړي سل په سل کې مسلمانان دي څه ضرورت سته چې نظام یېګ د اسلامي نظام پر ځای یو غربې نظام خپل کړي او په اسلام کې د مسلمان لپاره کومه نیمګړتیا شته چې د غربې ډموکراسۍ نظام یې ځاي ونیسي او یاپې بشپړه کړي؟

دویم په افغانستان کې څومره وګړي موجود دې چې د اسلامي نظام له شتون سره موافق نه دي او د دغه نظام د بدلون په لټه کې دي اوس مانا دا چې څو فیصده وګړي د دغي مفکوري او عقیدي درلودونکي دي ؟

دریم: په اوسنۍ عصري نړۍ کې چې اقتصادی، سیاسي، تکنالوجي او تعلیمي بهیر ګړندی روان دی په اسلام کې د دغه پرمختګ لپاره څه موانع شته چې د دغه ګړندیتوب په وړاندې لاره ډب کړېده کیدای شې دیته ورته ډېر سوالونه وجود ولري چې زما په عقیده هیڅ مسلمان یې د قناعت وړ ځواب نشي ویلای.

ځیني وګړي به دا استدلال کوي چې دغه غربي دموکراسي له اسلام سره ټکر نلري او یا دا چې د اسلامي دموکراسۍ نوم ورته کاروي. له هم دې کبله ورته مباح وایې او دا د ځان لپاره د خلاصون لاره بولي، ځیني نور دموکراسي پلوه خلك بیا دموکراسي له نړۍ سره د تړاو او ربط ذریعه او وسیله بولي خو پر هغه څه چې د اسلام له منل شوي مذهب سره ټکر لري سترګې پټې شوي دي یا په داسي دلایلوباندي ځان ته لاره پرانستي چې هیڅ مقنع نه وي، په هر صورت باید هغه څه ته ورشو چې زموږ ټولنه ورسره لاس او ګریوان شوي ده.

دغه غربي دموکراسي پر اسلامي ایډیالوجۍ څومره منفي اثر پري باسي او څومره د اسلام له نظام سره ټکر لري؟

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دی به کیدای شي ډېر خلك پوهیدلي وي خو زه غواړم هغه ټکو ته ورشم چې د اختلاف او ټکر ټکي دي او په راتلونکو نسلونوکې او یا هم سمدستي ژوند کې د بدبختۍ سبب کیږي:

لومړی: لکه څنګه چې مو وړاندي یادونه وکړه چې دموکراسي یو لوېدیز نظام دی. لوېدیز هیوادونه یې د پلي کولو لپاره په ټوله اسلامي نړۍ کې په سیاسي، اقتصادي، فرهنګي، فکري اوعملي جنګ بوخت دي. د دغه نظام یافکر د ټینګولو لپاره په ملیاردونو ډالرمصرفوي. په نه ستړیدونکي ډول یې په رسنیو (میډیا) کې د تبلیغاتو لپاره پیسي او خلک په کار اچولي دي. په ټوله نړۍ کې یې یو ناپایه جنګ پر لار اچولي،څو په ټوله اسلامي نړۍ کې وده ورکړي او بري ته یې ورسوي چې دا خپله د سوال، شك او اندیښني خبره ده.

دویم چون په دموکراسي نظام کې بشپړې آزادی ته لاره ورکول شوي که هغه د مذهب آزادي وي که د بیان آزادي وي او که د اخلاقو او افعالو آزادي وي، خو اسلام بیا د انسان د ټولو آزادیو لپاره حدود او چوکاټ لري. د مثال په ډول زنا، شراب، سود او ارتداد ټوله په دغو آزادیوکي راځي او همدا د اسلام او دموکراسی تر منځ د ټکر خبره ده.

که د اسلامي قوانینو مراعات په نظرکې نیسو ځینو مطلقو آزادیو ته زیان رسیږي. که د دموکراسۍ په موډ او نظر ځان او نظام عیار شي نو اسلام ته زیان رسیږي. که د اسلام حدود په بشپړه توګه په نظر کې نیول کیږي په هغه صورت کې دموکراسي نیمګړې پاته کیږي د لوېدیځوالو داعتراض او ناراضۍ سبب ګرځي چې د هغه لپاره ښه دلیل د عبدالرحمن مرتد مسئله ده. په اسلام کې د مرتد حکم بیرته اسلام ته ګرځیدل او یا د انکار په صورت کې وژل دي. د عبدالرحمن په مسئله کې د غربي دموکراسۍ او اسلام کلکه مقابله راغله چې بالاخره اسلام شاته وغورځول شو دموکراسۍ د خپلو بادارانو لخوا بریالیتوب وموند. که څه هم اسلام پالو پر دې ټینګار کاوه چې دا د مسلمانانو ملك دی د اسلام په قانون سره به محاکمه کیږي او مرتد ته به د اسلام د قانون له مخي سزا ورکول کیږي، خو د لوېدیځوالو استدلال داوو چې په افغانستان کې دموکراسي نظام اعلان شوی، موږ له هغه نظام سره مالي او ځاني مرستي کوو. په دموکراسۍ کې انسان د بشپړي آزادۍ واك لري، نو له همدې کبله عبدالرحمن مرتد د دموکراسۍ په چوکاټ کې له آزادۍ څخه استفاده کړې. له همدې کبله ورته سزا نشي ورکول کیدلای ځکه چې داسې سزا ورکول د دموکراسۍ په وړاندی جنایت دی او جنایت بلل کیږي. همداسې وشوه چې د بوش په یوه ټلیفون اسلام، شریعت، کلتور او خپلواکې ټول تر پښو لاندی شول، دموکراسي پلي شوه، اوس به څوك د دی دفاع وکړای شي چې دموکراسي د لوېدیزیانو نظام نه دی او یا له اسلام سره ټکر نه لري.

څلورم: د آزادۍ په چوکاټ کې ځیني جنایتونه دي چې له غربې لیده ورته جنایت نه ویل کیږي. د مثال په ډول لکه زنا په داسې حال کې چې دواړه فاعلین راضي وي ، لکه شراب څښل، مذهب بدلول، د یوه نارینه له بل نارینه سره نکاح کول، د ښځو همجنس بازي او داسې نور. کله چې د داسې جنایتونو په وړاندی سزا په دموکراسي نظام

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې نا مشروع شي نو معلومه خبره ده چې د دموکراسۍ د ملاتړو قوت تر اسلام پالو په اوسنۍ نړۍ کې څو ځله قوي دی چې په نتيجه کي د اسلام حدود بيرته شاته پاته کيږي .

څلورم: يوه بله لانجمنه مسئله چې د بشري حقوقو موضوع ده چې په اصولو کې بيرته له غربې دموکراسۍ سره مشترکات لري او افغانستان هم په دغه لومه کې سر ورننه ايستلی دی. د هغو سره يې موافقه لاسليک کړېده، د بشري قوانينو په اوسني منشور کې قصاص، رجم او لاس پرې کول ممنوع اعلان شوي. د بشري حقونو موسسات دا د بشر پر ضد ناروا عمل بولي، خو اسلام دا حدود په ټولنه کې د اصلاح لپاره ټاکلي دی. اوس دا مشکله مسئله ده چې د دواړو قراردادونو مراعات وشي چې يو اسلام دی چې د فطرت څخه افغانانو پر ځان منلي او بل د بشري حقوقو په نامه غربې قانون دی. که چيرته دموکراسۍ ته ورسو نو ښکاره خبره ده چې بايد د هغه څه مراعات په نظر کې ونيسو چې غربيان يې په لټه کې دي او هغه څه به شا ته غورځول کيږي چې الله او د هغه رسول يې پر مونږ د تطبيق مطلق امر کوي.

هم داسې د بې سترۍ، نا مشروع يعني غير شرعي طلاق، بې له محرمه د ښځو تګ او سفر، په جهاني المپيک کي د ښځو برخه اخيستل يا په عام محضرکي منډې، تجارت او د نورو خواهشاتو لاره خلاصول دا ټول هغه څه دي چې د اسلام د بيخ ايستلو لپاره په کار اچول شوي او په قانوني شکل اسلام ته ګوزار ورکوي او په تدريجي شکل يې له منځه وړي.

پنځم: تر ټولو مهمه داده چې په يوه هيواد کي دوه قانونه په يوه وخت کي نه سي چلېدلای او نه د ټولو قوانينو په ډول يو په بل کې تداخل کېدلای شي. له همدې کبله بايديوه قانون ته ترجيح ورکول شي ځکه چې په دين کې هيچاته د تصرف اجازه نسته چې څه پکښې کم او يا زيات کړي.

سوال: که څوک په دی نظروي چې دموکراسي نظام د اوسني عصر ضرورت دی او په هغه سره هيواد او ملك په وړاندی ځي او رقابت کولای شي او خلکو ته روزګار پيدا کيږي، بشپړه آزادي پکښې ساتل کيږي، د نړۍ له توجه څخه برخمن کيږي او نور داسې څيزونه؟

ځواب: دلته خبره داده چې اسلام له دغو څيزونو سره چې مباحات دي هيڅ ټکر نه لري، هغه څه چې د اسلام سره مخالفت ونه لري اسلام ورته اجازه ورکوي چې وشي او خلک تري استفاده وکړي دا چې

د دموکراسۍ تر عنوان لاندي وړاندي بيول کيږي، ولي د اسلام او شريعت تر عنوان لاندې تر سره نه سي؟ داسي ليدل کيږي چې ځيني کسان چې په هغو کې ځيني علما هم راځي په دې عقيده دي چې اسلامي دموکراسي يا محلي دموکراسي يا دا چې انسان او خپل عمل، نو له همدي کبله دموکراسي د اسلام په وړاندې ډب کيدلای نه شي، مثلا که څوک لمونځ کوي، که څوک روژه نيسي، که څوک حج ته ځي، که څوک زکات ورکوي، که څوک تعليم او تبليغ کوي، نوهرڅوک داکارونه کولای شياو داسې نور؟

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



جواب: په اسلامي ټولنه کې اکثره علمای کرام په دې عقیده دي چې دموکراسي په اسلام کې نشته ځکه اسلام کامل دین اوکامل نظام دی. د دموکراسۍ لفظ په اسلام کې نه شي استعمالیدلای، اماکوم مشترکات چې لیدل کیږي هغه باید په اسلامي نامه سره تعریف کړای شي، نه په بل لفظ (یعني دموکراسي) باندي، د مثال په ډول بشري درناوی او د خلکو یا د بشر احترام د شریعت په چوکاټ کي،ګ آزادي، تعلیم او تکنالوجي او داسې نور... دې ته اسلام تر ټولو دروند حق ورکړی، هر انسان ته په دي سره امر کوي چې د ښو اخلاقو، ښه کمال او ښه علم خاوند وي او د خلکو په چوپړ کې همیشه اوسي، دا او دې ته ورته اعمال، افعال او کمالات دا مانا نه لري چې په دموکراسۍ سره تعبیر شي، ځکه اسلام دهغه له پاره قانون وضع کړی باید اسلامي قانون ورته وویل شي.

زه د غربیانو د دموکراسۍ نظام ته بد نه وایم او نه هغه ته ناکامه نظام وایم، خو د څیړني مطلب مي دادی چې څومره زموږ ستونزي په حلیدلای شي او څومره زموږ ټولنه ورته چمتو ده چې د دغه ډول دموکراسۍ په چاپیریال کې ژوند کولای شي؟ او بالعکس څومره موږ ته ستونزي پیدا کولای شي؟ مطلب مي هم هغه دی لکه څنګه چې مي مخ کې وړاندیینه وکړه چې دموکراسي د اسلامي حدودو د ماتولو او د اسلام د دین او نظام د کمزوري کولو لپاره د غربیانو تر ټولو ښه او بریالی وسیله ده، له بلي خوا په ټولنه کې د نورو بدبختیو زیږنده هم ده. په ځانګړي توګه زموږ د ټولني لپاره د افغانستان مثال یې پارلمان دی. که په پارلمان کې په سلو کې د یو پنځوس یا د ٤٩ په مقابل کې دوه فیصده په دې فیصله وکړي چې بهرني ځواکونه دې په افغانستان کې پاته شي او یا دې ورته اوږد مهالي یا همیشنۍ اډې ورکول شي په دموکراسي نظام کې داکار مشروع دی. نور شل فیصده ددې حق نه لري چې له فیصلي څخه سر وغړوي، خو په اسلام یاشریعت کې دا شنیع او ناروا عمل بلل کیږي. هیڅ وخت د تطبیق او تنفیذ وړ نه شي بلل کیدلای، نو دلته به ټولنه او هیواد د دوولورو قرباني کیږي چې تر اوسه پوري هم دا قرباني دوام لري، داسې او دې ته ورته ستونزي به ښایې ډیري پکښې راولاړي شي چې په لږ مهالي بهیر کې نه د ټولنې او نه د افرادو په ګټه وي، په هر صورت دموکراسي د افغانستان لپاره هغه نظام دی چې ښايي په سلو کې شل، دېرش موافقین ولري خو په یقین سره ویلای شو چې په سلو کي اویا او یا تر دې زیات افغانان یې مخالف دي او اسلام هغه نظام دی چې ښايي په سل کې لس فیصده مخالفین ونه لري. اوس دلته ویلای شو که د خلکو رایه معتبره وي نو هم باید اسلام او د هغه قانون حاکم اوسي او که چاپیریال او ټولنه معتبره وي نو هم باید اسلام وي، که د الله  او د هغه د رسول مکلفیت معتبر وي نو هم باید اسلام حاکم شي او که خدای مه کړه څوك په دی عقیده وي چې په اسلام کې سختي او تشدد دی نو دا انتخاب یې خپله کړي دی، بل دا چې اسلام د اعتدال نظام دی. په دې نظام ګ کې نه تفریط او نه افراط وجود لري، بلکي یو معتدل نظام دی.

خلاصه دا چې زما په نظر افغانستان په غربي دموکراسي نظام سره نه شي جوړیدلای او نه هم دموکراسي پکښې آرامي راوستلای شي، ځکه چې د دموکراسۍ په وړاندې داسې مخالفتونه شته چې په داخل کې قوي او پخې جرړې لري. اسلام په خپلو ټولو حدودو کې چې په عملي طور دهر وخت واکمنو ته د یوي سالمې ټولنې جوړولو امر

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوي نر او ښځې ته د پاك لمنۍ تحفه ورکوي. له فحش او بې حیایۍ څخه نجات ورکوي چې انسانان په یوه داسې ټولنه یا چاپیریال کې ستر شي چې له اخلاقي پلوه یو با ادبه، با عمله، پاك او سالم انسان وي. که څه هم اسلام د آزادۍ له بریده د اوښتو مخنیوي کوي، هغه د لوی خدای د حکمت او د اسلام د معجز دین ښه نتیجه ده چې ورو ورو یې تجربه کار او با علمه شخصیتونه په حکمتونو پوهېږي او ساینس پوهان یې په عصري تجهیزاتو سره کشف کوي. غربې مقلدین باید په دې پوه شي چې د دوی تقلید موږ ته او زموږ گران هیواد ته په گټه نه، بلکې په ضرر تمامیږي، لکه وړاندې چې د هغه مثال وینو له غربې تقلید سره ښایې زموږ ټولنه او خلك دمادیاتو له پلوه پرمختگ وکړي، خو له بل پلوه یې معنویات هغه معنویات چې په مادیاتو او پیسو نه پلورل کیږي او نه پیدا کیږي له منځه ځي، هغه معنویات چې زموږ د دودیزې ټولنې لپاره د لویو نیکمرغیو سبب کیږي.

اوس تر ټولو مهمه داده که د غربې مقلدینو د تقلید مقصد تمدن او پرمختگ وي، تعلیم او تربیه، ساینس او تکنالوجي وي، نو اسلام خو له هغه سره په هیڅ شکل ټکر نه لري او نه ورسره کوم مشکل سته. که د هغو موخه د دوی د کلتور، غربي قانون ، د دموکراتیکو بي جلوه آزادیو، بشري حقوقو یا د نر او ښځې د بشپړې آزادۍ تقلید وي؟؟؟ نو دا خو دافغان مسلمان هیواد لپاره د بد مرغۍ ورونه پرانیزي، که لږ کوچنی مثال د غربې تمدن د واکمنو د یوه سالار امریکا را واخلو او بیا د هغه نتایج راوسپړو نو څه به ومومو لاندې جدول د هغه څه لږ تحفه راښیي:

١ .په امریکا کې د همدېگ دموکراسۍ په رڼاکې هره ورځ ٢٥٣ کسان په مخدره توکو روږدیږي. سره له دې چې شراب څښل له دې نشي څخه مستثنی دي.

٢ .هره ورځ د ١٨٠ ښځو پرېټ باندې په زوره تېری کیږي.

٣ .هره ورځ ٥٥ تنه د غلو او بد معاشانو لخوا وژل کیږي.

٤ .هره ورځ دغلا ٢٦٢٠ پیښې د پولیسو سره ثبتیږي.

٥ .هره ورځ ١٢٨٣ارموني یابې پلاره زامن له زنا څخه پیدا کیږي.

٦ .هره ورځ ٢٩٨٦ ښځې په خپله طلاق اخلي او یا د مړو لخوا طلاقیږي، چې له دې کبله اوس په سلو کې اویا خلك ودونو ته زړه نه ښه کوي او په زناباندې ژوند تیروي.

٧ .هره ورځ نوي میلیونه بوتله مختلف شراب څښل کیږي.

٨ .هره ورځ ٢٧٤٠ زنا کاري نجوني ځکه له زنا څخه حمل اخلي چې تر زنا وړاندې واده ته له دې امله غاړه نه ږدي چې نر د څو نجونو او ښځه د څو هلکانو خوندونه وگوري.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



۹ .په سوونو ځوانان او ځوانانې د ايډز او سفليس په ناعلاجه مرضونو اخته کيږي، چې تر ټولو لوی علت يې زنا او لواطت دی. سره له دې چې د دغو ناروغيو لپاره په ډېره لوړه کچه روغتونونه کار کوي. دا چې دغه ټول امراض له غربې کلتور او پرمختيا څخه سرچينه اخلي زنا او لواطت هم په تمدن کې راولي. د حيواناتو سره هم جنسي اړيکي دوی (Beastiality) ياله محرم سره نکاح کول هم د تمدن يوه برخه ده. زه فکر نه کوم چې مسلمان افغان بچی دې له داسې کلتور سره مينه ولري که څه همگ فقر او غربت او د واکمنو او چارواکو خيانت او لا اباليتوب د لويې بې اعتمادۍ فضا رامنځ ته کړيده ترڅو زموږ خلك ديته اړ او مجبور شي چې د مرستي او کمك لپاره لاس غرب ته اوږد کړي. زموږ د مجبورۍ له امله د ايډز او سفليس تحفه اوس زموږ هيواد ته د غربې زنا کاروسره يوځای راغلې او مخ پر ډېرېدوګړندۍ روانه ده.

اسلام او اسلامي نظام يې د مشکلاتو علاج کولای شي ځکه چې د هغه په وړاندی کورنی مخالفت يا تاوتريخوالی په نشت شمارل کيږي. د هر کور د جوړولو لپاره داخلي توافق تر بهرني امتيازاتو او تر ټولو اړين دی.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ډیورنډکرښه

لکه څنګه چې مي وړاندي یادونه وکړه د ډیورنډ ناولې کرښه د افغانستان لپاره د ناسور د زخم حیثیت لري خو دا ناسور د مشکل په توګه هغه چا افغانستان ته ور ډالۍ کړی دی چې همدااوس اوس د مرستي او بشري خواخوږۍ په نامه زموږ ورونه، خویندي ښځي او ماشومان تر مردکو او ګولیو تیره وي، هره ورځ د مځکي غیږي ته د افغانانو په لسګونو مړي او جنازي وراستوي، کلي او کورونه په بمونو، لویو لویو توپونو او غټو توغندیو د خاورو سره خاوري کوي، د دیموکراسي نظام د پلي کولو لپاره یې د وژلو او تبلیغ ټول اسباب په کار اچولي دي. دغه سره بلا یوځلي بیا غواړي چې د دغه ناسور زخم وسپړي او پر زړو زخمونو باندې تازه مالګي وشیندي، دا چې څه به کیږي، هغه به هغه وخت ته پریږدو، مګر موږ باید د دغه ناسور د زخم اسباب په غورسره وڅیړو:

که د افغانانو پخوا ته ځغلند نظروکړو وبه وینوچې د نړۍ په تاریخ کې افغانانو له خپلواکۍ سره د مینې یو ښه تاریخ درلود، د آسیا په زړه کې دغه ملت د زړه مراندي او واکي سره نښولي دي، خو د افغانستان عزت او وقار یې او چت ساتلی دی، مګر له بده مرغه چې له تیرو څو پیړیو راپدیخوا د نړۍ د یرغلونو ښکار ګرځیدلی دی، چې تر ډېره یې د نړۍ ژوندي تاریخونهـ دعکس او تصویر ښکارندوي او شاهدان دي دا چې ولي نړۍ خوړونکو او حریصو بلاګانو ورته خولي وازي نیولیدي مختلف علتونه لري چې یو عمده علت یې د افغانانو د زعماوو خودخواهي او جاه طلبي په ګوتو شوې ده، چې البته په تدریجي توګه د افغاني مختلفو قومونو د فرقوي، تفرقي او انشعاب سبب ګرځیدلي، چې په نتیجه کې یې د افغان او اسلام د ښمنو نړۍ خوړونکو لیوانو لپاره د یرغل زمینه برابره کړې ده .

د دې مثالونه ډیر زیات دي او نتایج یې چې منفي اړخ لري ټولو خلکو ته بربنډ شوي دي. موږ کولای سوګ هغه ښلګي له بیخه راوسپړو چې د ډیورنډ منحوسه لانجه یې له دی یوولسو لسیزو راپدیخوا لاینحله پرې ایښې ده، احمدشاه ابدالی  له هغو تاریخي اتلانو څخه یو اتل دی چې په یاد او نامه سره یې تر اوسه پوري موږ افغانان ویاړو او په نامه یې د غلیمانو د ماتي یادونه کوو، احمدشاه بابا د زیړو، خړو او ساده پښتنو په ټاټوبې کندهارکې دنیا ته سترګي راسپړلي وې. هلته ستر شوي او هلته بیرته خاورو ته سپارل شوي دی. احمدشاه بابا د یوه لوی افغانستان د جوړیدلو ابتکار په اسلامي نظام سره کړي چې هغه وخت یې د هیواد حدود د مشهد، بخارا او بیا د هند تر نیمایې پوري رسیدلی دی. احمدشاه بابا په خپله واکمني کې اسلام او اتحاد ته په نه ستړي کېدونکي توګه خدمت کړی. د اتحاد او اتفاق په مټ یې د غلیمانو ټولو دسیسو ته معقول ځواب ویلي دی.

کله چې لوی احمدشاه ابدالي  په ۱۷۷۳ میلادي کال له دنیا څخه سترګي پټي کړي دهغه پرتاریخي میراث دهغه زوی او لمسي ټېر ولګاوه، چې تر یو څه وخته یې د پلار میراث په نیمګړتیا سره وساته خو د هند ځیني برخي یې له لاسه ووتي. هند ته چې د انکریزانو د استعمار لاس په تجارتي، اقتصادی او بشري نومونو باندې را اوږد شو، په

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدې وخت کې د افغانستان په وړاندی د شیطانت او دسیسو لاسونه دننه راوغځیدل، چې د افغانستان دننه یې د دراني قومونو په بې اتفاقۍ کې پوره نقش ولوباوه، د بارك کهول یې د سدو د کهول په وړاندې چې په حکومت کې یې ښه اعتبار درلود په قومي نامه راوپاراوه دهغه په نتیجه کې د افغاني قومونو ترمنځ خونړي جنگونه پیل شوه. په پنجاب، سند، کشمیر او د ډیلي په شا وخوا کې د سیکانو او مسلمانانو تر منځ خونړي جنگونه تاوده شول، برتانوي شیطانانو به ورته له ورایه د گرمیدو لمن وهله، د تیمورشاه تر مرگ وروسته دده 33 زامن چې د بیلابیلو میندو څخه وه هریوه یې د سلطنت غوښتنه کوله؛ نوري هم دنفاق جرړي قوي کړي او د قدرت سیمه یې تر خپلو قیادتونو پوري محدوده کړه، بالاخره په ۱۸۱۹ میلادې کال کې د سدو کهول خپل واك له لاسه ورکړ. د پاینده خان تر بیرحمه وژني وروسته د هغه زامنو د زمانشاه په وړاندې بغاوت پیل کړ چې جمله۲۳ تنه وه د هغو د هڅو په نتیجه کې د پاینده خان مقاومت د هندپه وړاندې ډیر ضعیف سو. له ځانه څخه یې دفاع نه سوای کولای چې تر ډېر تدریجي مقاومت وروسته د سدو کهول د حکومت په کارکې پاته راغی.. د بارک کهول ته ښه زمینه برابره سوه چې له موقع څخه استفاده وکړي. د وخت په تیریدو سره د زمان شاه کورنۍ هدف ته ورسیدل. هغو د پاینده اوسدو د کورنۍ په وړاندې ډیر سخت عکس العمل وښود، حتی د سدو کهول یې د خپل پلرني ټاټوبې (کندهار) څخه هم وشاړه چې د هند په سیمو کې تیت وپرك شول. چي تر اوسه هم د هغو اولادونه د خان او پټان په نامه هلته خال خال لیدل کیږي . ژبې یې گرځېدلي دي ، خو د قبیلې نوم لا یو څه ورته پاته دی. څه وخت وروسته د بارکزو کهول هم د بې اتفاقۍ په رنځ اخته شول، لوی افغانستان یې پر وړو وړو ټوټو سره وویشی. هر ورور یې ځان د یوي سیمي امیر او واکمن وټاکه، چې د دوی په دې احمقانه کار سره د برتاپې یرغل ته ښه زمینه برابره شوه. برتانوي واکمنانو د هند سکهان دې ته چمتو کړل چې د سیمي د آزادولو لپاره جنگ وکړي چې د هغه په نتیجه کې د بارکزو واکمنۍ د هند ډیري سیمي د کشمیر تر پولو پوري له لاسه ورکړې. که څه هم امیر دوست محمد خان د یوه امیر په حیث پیژندل کیدی؛ خو د هغه په مقابل کې ډیرو شخصي امارتونو وجود درلودی چې ټول په بارکزي قوم پوري تړلي وه .

د سکهانو له اختلاف سره سره شاه شجاع چې د سدوزو د پښې او د پوپل د قوم د مشرۍ دعوه یې کوله په هند کې د برتانیې د امپراتورۍ دمرستي په هیله شپي سباکولي، دلته دافغانستان د واك پر سر خونړي خپل منځي جنگونه گرمیدله. ورځ په ورځ د واکمنو د واك واگي سستیدلي چې د هري ورځي په تیریدو سره یې د برتانیې حرص ورژوندی کاوه، په ۱۸۳۸ کال کې برتانیه دې نتیجې ته ورسیده چې نور نو د افغانستان د خوړلو وخت دی. د شاه شجاع غوندي گوډاگی یې د دې ورځي لپاره نور هم ساتلي وو. شاه شجاع چې د افغانستان په نیولو کې یې د برتانیېگ مرستې ته سترگي نیولي د هغو د مرستو په بدل کې یېگ هرڅه پر ځان منلي وه. پر افغانستان باندې تر حملي وړاندی د شاه شجاع او برتانیې ترمنځ ځیني قراردادونه په هند کې لاسلیك شوه، چې د هغو له مخي کشمیر، پیښور، بنو، وزیرستان، ډیره اسماعیل خان او نوري سیمي د برتانیې واکمنو سکهانو ته ور بخښلې وې. قرارداد یې ورسره لاسلیك کړی وو څو شاه شجاع په محدود افغانستان کې محدود قدرت ته ورسیږي. په قرارداد کې د

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغانستان بهرني او کورني سیاستونه هم محدود شوي وه. همداسې ډیر د غلامي ټکي پکښې لاسلیك شوي وه. که څه هم شاه شجاع د کرزي په شان د احمد شاه ابدالي 

د وراثت دعوه کوله خو دې ته ښه متوجه نه وو، چې احمد شاه بابا ابدالي څه کول او څه یې ګټل او دوی څه کول او څه یې بایلل؟ په هر صورت شاه شجاع د انګریزانو بدغوني لښکري د افغانستان پر مقدس حریم باندې راورمولي په ۱۸۳۹میلادې کال کندهار ته د انګریزانو پر اسونو سپور راغی. د انګرېزانو په مرسته یې هلته د پاچاهۍ اعلان وکړ چې په لنډ وخت کې یې کابل هم د امیر دوست محمد خان له لاسه وایست .

د کابل د دنګوغرونو په منځ کې یې د قدرت پر تخت تکیه ووهله ، خپل ارمان ته د برتانوي عسکرو په مټو ورسید. که څه هم امیر شاه شجاع له ډیرو امیدونو سره هیواد ته راغی او هدف ته ورسید، مګر لږ وخت وروسته هغه د دې کار په هکله خپله مایوسي او پښیماني وښودله ځکه چې انګریزانو د اوسنیو متحدو انګریزانو په څیر خپلسري کوله. د افغانستان د خلکو د زغم کاسه یې تر څوکو پوري ورسوله چې له کبله یې د جهاد لپاره افغاني مجاهدینو پر انګریزي یرغلګرو حملي پیل کړي. لږ وخته وروسته انګریزي یرغلګر د شاه شجاع د غلام حکومت په شمول د سختي وارخطایی سره مخامخ شول، امنیتي ګډوډۍ زیاتي شوې هرځای پر هغو باندې حملي جاري او ورځ په ورځ زیاتیدلي چې په نتیجه کې یې بالاخره په ۴۲ـ ۱۸۴۲ کال کې انګریزانو ماته وخوړه، د کابل او نورو سیمو پریښودلو ته اړ شول، همدا د انګریزانو لومړنۍ ماته وه چې له درنو تلفاتو سره مل وه، له کابل څخه تر جلال آباده پوري یې اوولس زره عسکر د مجاهدینو تر ګولیو تیر شول، یوازي یو عکسر چې (ډاکټر برایډن) نومیدی ژوندی پریښودل شو ، څو د نورو یرغلګرو له حالاتو څخه برتانویان خبر کړي، خو برتانویانو دا ماته یو تصادف باله او حقیقي ماته یې نه منله، همدا سبب وو چې د شاه شجاع د موافقي سره سم د دویم ځل لپاره یې بیا د افغانستان خوړلو ته زړه ښه کړ، په ۱۸۸۸میلادې کال انګریزان د دویم ځل لپاره بیا د کابل د هسکو غرونوڅوکو ته ورسیدل او د وخت واکمن امیر شیر علي خان یې له واکه ګوښه کړ.

امیر شیر علي خان تر خپلي ماتي او تیښتي وروسته په مزارکې د روسانو د وعدي د پوره کولو په تمه د هغو د کمك انتظار کاوه د هغه زوی محمد یعقوب خان یې په وراثت پاته وو، مګر روسانو پر خپلو وعدو هیڅ وفا ونکړه. شیر علي خان د روسانو له وعدو د نهیلۍ په وجه زړه چاودی په مزارکې مړ شو.

انګریزان یوځلي بیا د څه وخت لپاره پر افغانستان واکمن پاته شول. د شیرعلي خان ځای ناستی امیر محمد یعقوب خان یې د اسیر په توګه له ځان سره وساته. د امیر د اسارت په وخت یاموده کې بیا هم انګریزانو څو قراردادونه په زوره په هغه باندې لاسلیك کړل چې دهغه له مخي کورمه، مردان، پیښور، کوټه او ځیني نوري سیمي انګریزانو ته وبخښل شوي، خو د قرارداد متن د موقت وخت یالفظ یادیدو په ډول لیکل شوي وو، دا قرارداد د ګندمك عنوان درلود، مګر د دوی له داسې کړنوسره سره هم له انګریزانو سره مقاومت دوام پیدا کړ هغوی یې دې ته مجبور کړل

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې افغانستان تر لرو تلفاتو وروسته پرېږدي؛ خو د امیر عبدالرحمن په مرېې ډوله توافق انګریزان له کابل نه پر شا شول، چې له درنو تلفاتو سره د هند او افغانستان د پولي پر منځ دځه وخت لپاره تم سول. د عبدالرحمن تر قرارداد وروسته په اصرار او دوام سره انګریزانو غوښتل چې د افغانستان ډیري سیمي له افغانستانه بیلي کړي چې لوی کندهار هم د دغه قرارداد یوه برخه وه، چې وروسته افغانانو له میوند او کندهارڅخه انګریزان د دیارلسو زرو عسکرو په له لاسه ورکولو تیښتي ته مجبور کړه، خو د ډیورنډ تر پولي اخوا سیمي چې اوسنی پاکستان یې د ځان لپاره سرحد بولي هم داسې په مقاومت کې پاته شول. همدارنګه د ډیورنډ کرښي پر هغه بله خوا به همیشه له انګریزانو سره پوره مقاومت کیدی. انګریزان به یې نه پریښودل چې پر آرامه واوسي. دا مشکلات به ډیر ځله افغانستان ته راتلل او د افغانستان د خلکو دود به یې پاراوه. انګریزانو به د خلکو پر کورونو بمباری کولي او مسلمانان به یې شهیدانول، همداسې د مسلمانانو جهاد او مقاومت د دوي په وړاندی دوام درلود، تر ۱۸۹۳ کال پوري همداسې مشکلات روان وه چې د افغانستان او هند تر مینځ کومه پوله او پانډل وجود نه درلود، که څه هم برتانویانو عبدالرحمن ته د بډو یا کمك په نامه دوولس لکه هندی کالداري ورکولي چې وروسته یې کچه اتلسو لکو ته لوړه شوه.

کله چې انګریزانو دا ومنله چې دوی په زور سره پر افغانانو حکومت نه شي کولای او نه د دوی یرغل پر افغانستان باندې مثبتي پایلي لرلاي شي، نو له همدی کبله یې د سیمي د ارامولو او د خپل اجتماعي شکست د مخنیوي لپاره بله د شیطانت لاره په کار واچول چې د یوه سرحد په شکل د افغانستان د نفوذ مخنیوی وکړي. په همدي خاطر یې سر هېنري مورټېمر ډیورنډ (Sir Henry Mortimer Durand) دیوه هیئت په مشري کابل ته واستاوه چې هغه طرحه یا پلان په عبدالرحمن باندې په پټه او بډو لاسلیك کړي چې دوی د خپلي خوښي سره سم په یو اړخیزه توګه جوړ کړي وو. همدې طرحي د یوه قرارداد بڼه درلوده چې باید د ملت په توافق سره امضا شوي وای، په قرارداد کې د ډیورند کرښه د افغانستان او هند تر منځ کرښه بلل شوي وه خو تردې زیاته نا ارامه سیمه چې د سرحد هغه بله خوا وه مستقله یا آزاده سیمه بلل شوي وه.

ویل کیږي چې عبدالرحمن په داسې وخت کې قرارداد لاسلیك کړ چې د دې لپاره یو ډیر مکرجن محفل جوړ شوی وو چې په هغه کې برتانوي ښکلي پیغلي جوړي شوي وي. د نشي یا مستۍ لپاره ډول ډول شراب تیار شوي وه، ګومان کیږي چې عبدالرحمن دغه قرارداد د شهوت یا بیهوښۍ او نشي په حالت کې لاسلیك کړي وي خو ښکاره دلائل د انګریزانو زور او فشار ګڼل سوی دی.

وړاندی مو وویل چې په دې محفل کې پنځه ماده ییزه قرارداد لاسلیك شوي وو. همدغه قرارداد په یوه پټ ځای او پټه خوله سره لاسلیك شوی وو، چې د ملت ټول وګړي ورباندې ناخبره او د ډیورنډ د کرښي دواړي غاړي له دې ترون څخه ناخبري ساتل شوي وې، کله چې د دغه مرموز قرارداد خبر خپور شو ټولو افغانانو په یوه خوله دغه د غدارۍ قرارداد یو غلط او ناقانونه کار وباله چې دیوه قوم پر زړه د پولادو چاړه راکاږي او دوې ټوټې کوي یې. افغان

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولس دا د انگریزانو مکر وباله د ټول هیواد لخوا یې یوه غیر رسمي کرښه اعلان کړه، خو بیا هم انگریزانو له زور، زبردستۍ او بډو څخه کار واخست. له بله پلوه د افغانستان د واکمنانو د غلامی او سستی علت هم وو چې سیمه د انگریزانو تر نیمه واك لاندې تر ډېره وخته پاته شوه. کله چې انگریزان دویم نړیوال جنگ وځپل تر هغه وروسته په ۱۹٤۷ م کې له هند څخه پر شا کیدل. د مسلمانانو په نامه یې پاکستان د هند او افغانستان د مشترکي خاوري په ترکیب کې رامنځته کړ. که څه هم د پاکستان جوړېدل او له هند څخه جلا کیدل چې اوسنی بنگله دیش یې هم جز وو یو قانوني حیثیت د اکثرو خلکو په رضایت خپل کړ مگر پښتنو او بلوڅو ته پکې د برخلیك حق ورنه کول شو. فقط د اسلام په نامه د پاکستان په څنگ کې معلق پاتي شوه چې تردی دمه هم دا مغلقه معضله د بې خاونده مړي یا جنازي غوندې بې سرنوشته پاته ده، دا چې د دې کرښې قانوني او حقوقي اعتبار څه دی؟ دا یوه بیله مسئله ده. دا چې د افغانستان د امنیت او جوړېدلو لپاره فوق العاده خنډ گرځیدلې دا بله مسئله ده چې هره مسله یې بېل تفصیل غواړي.

د حقوقي پلوه دغه قرارداد یو اړخیز شکل درلود. همدارنگه امرعبدالرحمن خان یو داسي امیر وو چې د برتانیي د غلامۍ او شرایطو د قبلولو په نتیجه کې قدرت ته رسیدلی وو. دغه مرموزه او له زهرو ډکه پریکړه یالایحه د افغانستان مېشتو قومونو او خلکو ته که د ډیورنډ پر هغه غاړه که پر دې غاړه پراته وه د قبول وړ نه وه. کله چې یو قرارداد یو اړخیز شکل ولري او بیا د زور او فشار په صورت کې منځ ته راغلی وي هیڅ قانوني حیثیت او اعتبار نه لري.

دویم: په نړیواله توگه د ملگرو ملتونو په قانون کې داسې ماده سته چې کله د قرارداد یا تړون یو اړخ له منځه ځي نو د تړون متن یا اهمیت هم ورسره ختمیږي. له همدې کبله چې برتانیي د مځکي د کرې پر نیمایي برخه خیته اچولې وه هند او د افغانستان ځیني سیمي یې په خپل واك کې راوستلي وي، د انگریزانو دغه واکمني په ۱۹٤۷م کې پای ته ورسیده. په نتیجه کې یې هند آزادي واخستله همهغه وخت په کار وه چې د افغانستان مستعمره سیمو هم آزادي اخستي وای. هغو ته د آزادۍ فرصت ورکول شوی وای چې د خپل راتلونکي برخلیك یې روښانه کړي وای، لکه پنجاب، سند، بنگله دیش، سریلانکا او د هند نورو سیموته چې ته فرصت ورکول سوی وو، ځکه چې د قرارداد او استعمار اهمیت د دوی له واکمنۍ سره تړلی وو.

دریم: په ملگروملتونو کې په ۱۹٦۸ م کال کې یوه ماده تصویب شوه چې د قرار له مخي یې هغه ټول تړونونه بې اعتباره گڼل شوي چې د زور له لاري تصویب شوي وه، څنگه چې استعماري قوتونه هر څه په زور او فشار تر سره کوي همدا رنگه یې د افغانستان ډیري سیمي په زور سره جلا کړي وي ځکه نو دغه تړون د ملگرو ملتو د پورتني پرېکړي او منشور له مخې بې اعتباره بلل کیږي، په حقوقي ډول دغه دري مثبت دلائل وجود لري چې د ډیورنډ کرښه یو ظالمانه او بې انصافه کرښه ثابتوي چې په هیڅ ډول قانوني او حقوقي ارزښت نه لري افغانستان او افغانان یې ټولهٔ په رسمیت نه پیژني که څه هم د پاکستان واکمنو د وخت څخه په استفاده په افغانستان کي گله هر

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



واکمن څخه د هغي کرښي د مراعات او رسميت غوښتنه کړيده پاکستان په تکرار سره غوښتي دي چي د افغانستان له ضعف او کمزوري حالت څخه لکه برتانويان استفاده وکړي خوله نيکه مرغه ميړنيو افغانانو د شاه شجاع او عبدالرحمن غوندي هر څه ته زړه نه دی ښه کړی.

دا چي دا کرښه د افغانستان لپاره څومره ستونزه ده يا څومره ورته اهميت لري رښتيادواړه سته اوځانته بيلابيل دلايل لري :

لومړی: دا چي د پاکستان او افغانستان تر منځ په رسمي ډول حدود وجود نه لري. دا خپله يوه ستونزه ده؛ ځکه هر هېواد د خپلو حدودو د ساتلو مسؤوليت لري دلته به امنيتي مشکلات ترټولو ډير ستونزمن وي چي يواړخيز ډول مسؤوليت يې بايد د يوي واکمنۍ ياحکومت تر غاړه شي.

دويم: هغه سيمه ياسيمي چې په قانوني توګه په يوه اړخ پوري ونه ترل شي نو له هره طرفه د پامه غورځيدلي وي، دهغو اقتصادي او تعليمي چاري به کمزوري مخ ته ځي، کله به هم له پوره پاملرني څخه نه برخورداره کيږي ځکه د هغوی پرمختګ دسيمي تراهميت پوری اړه لري.

دريم:ددغي سيمي ياسيمي ته د نه پام لرني له کبله به د دواړو هيوادونو تر منځ کله هم د اعتماد فضا نه رامنيځ ته کيږي او نه به ديوه او بل هيواد دمداخلو مخه نيول کيږي. هميشه به د دښمنی او رقابت په موقف کې قرار لري چي دا پخپله د بې امنيتی او بې ثباتی لامل کيږي.

څلورم: د پولي د دواړو غاړو اوسيدونکي له يوه قوم او يوي کورنۍ سره ربط لري د دې سره سره دواړې غاړې دوستی او د پولي او پانډل شراکت لري، که هر وخت د پولي په يوه خوا کې ستونزي وي نو د يوه بدن په څير به هغه بل لوری ورسره اوتومات ستونزمن کيږي او سيمه به هم له دی کبله ورسره ستونزمنه وي.

پنځم: لکه څنګه چې مو وړاندې يادونه وکړه د دغه نه بېلېدونکي قوم بېلتون په شخصي ژوند کې هم ستونزي راولاړي کړي؛ ځکه چې دغه ورونه قومونه هميشه د يوه ګډ ژوند هيله لري او ګډ ژوند غواړي، د پولي په ويش دغه ګډ ژوند د ډيرو ستونزو سره مخامخ کيږي، بلکي مخه يې نيول کيږي.

شپږم: د پولي دواړو غاړو ته اوسيدونکي افغانان هر وخت

د داسي تومتونو قرباني کيږي چي اصلا بنياد او اساس نه لري همدارنګه د زيږنده ستونزو قرباني به د تل لپاره ټول وګړي وي.

اووم: تر ټولو غټه ستونزه داده چې بهرنيو دښمنانو لکه څنګه چي دا کرښه ستونزمنه پرې ايښي تري ناروا او بده استفاده کړي اوکوي به يې ترڅو د خلکو له سپيڅلي عقيدي، بې علمی، کمزوري سياسي دريځ نه ناوړه استفاده وکړي او هر وخت يې د دوو اسلامي هيوادونو تر مينځ د بې اعتمادۍ او نه باور سبب وګرځوي، هر وخت چې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



وغواړي چې د هغوی تر منځ نفاق او ستونزه راولاړه کړي هلته د نفاق کاڼي اونوکان جنګوي چې هم ګټه او هم خوند تري واخلي او هم د کوربه او غله ترمنځ منځګړ يتوب وکړي.

دا يوازنۍ ستونزه نه ده چې برتانوي شيطانانو د خپلي امپراتورۍ پر وخت افغانانو ته ډالۍ کړي، بلکي ورته ستونزي يې په چين، هند، کشمير، پاکستان، سريلانکا، تايوان، کوريا او نورو ځايونو کې هم تخليق کړي ترڅو سل يا دوه سوه کلونه وروسته هم تري استفاده وکړي. د ډيورنډ اوسنۍ لانجه چې يو ځلي بيا د بهرنيو يرغلګرو په موجوديت کې د هغوی په پارونه راپورته شوي د افغانستان لپاره يوه نوي ستونزه ده داچې موجوده ستونزي ته به ګټه وکړي هيڅ فکرنه کوم دا چې خپله به يوه نوي ستونزه توليد کړي د دې به انتظار وکړو. په هر صورت! داسې او دې ته ورته موضوعات بايد حتماً حل شي او دغه جنازه چې له ډېره وخته را په دې خوا د خلکو پر اوږو بار ده خلك تري ستومانه شوي بايد نوره دغه جنازه خاورو ته وسپارل شي او هيره کړای شي، خو دا چې څوك بايد دا ابتکار وکړي دا يو ډير مهم سوال دی چې يوه مثبت او قانع کوونکي جواب ته اړتيا لري او يو مناسب وخت غواړي. که دا کار د جرګو او مرکو له لاري کيږي او د سيمي د ميشتو افغانانو د عنعناتو په توګه کيږي دا وروستۍ خبري دې، دالوی مشکل په موجوده بحراني حالت کي نه د افغانستان حکومت حلولای شي نه پاکستان او نه په بهرنيو يرغلګرو پوري اړه لري، دا د هغو قومونو مسئله ده کوم چې پر زړونو يې همدغو يرغلګرو يوه پېرۍ وړاندي په بل نامه چاړه راکښلي وه، هم هغه په وينو سره چاړه او هم هغه قاتل چې نن په بل رنګ ورته لمن وهي اوغواړي چې په خپلو لاسپوڅو څيرو خپل هدف ته ځان ورسوي مشروع او مقبول نه دی.

زما مقصد دلته د ډيورنډ د فيصلي موضوع نده زما مطلب يوازي يوازي دادی چې ډيورنډ د افغانستان په بنسټيزو ستونزو کې يو جز دی چې دغه جز د ستونزي يو اړخيز حل نه مومي نو ډير يا نور مشکلات به وجود لري، خو دا چې د دی څه په کار دی؟ د افغانانو په وروستي تصميم پوري اړه لري چې څه بايد وکړي؟ په دې وخت کې د افغانانو هوښياري داده چې داسې موضوعاتو ته چې د بهرنيانو په پارونه ورته لمن وهل کيږي ګوتي ورنه وړي او د هغه پر ځای کورنيو ستونزو ته پام واړوي، په لوی لاس هغو غليمانو ته موقع په لاس ورنه کړي چې له ډيره وخته يې دغه تودي ښوروا ته خوله اوبه کوي چې دا اوس هم د بهرنيانو، پاکستان، هند او نورو هيوادونو لنګي غواوي لوشي پيسي او بډي په خيټو منډي چې په دی ترتيب هم ځانونه د سولي او ثبات پلويان وبولي، هم په پټه سودا خيټي ډکي کړي او هم پر دواړو غاړو پرتو محکومو ، مظلومو قومونو ته د پرديو په زور ټينګه لغته ورکړي .

که خدای مکره امريکايي يرغلګرو ته دايمي اډې ورکول سي ، نو دا به هم د ډيورند په توګه د بلې ناپايې ستونزي په څېر افغانستان ته پاته سي . زما مشوره د يوه افغان په توګه داده چي اوسنۍ اداره په ورځنيو اړينو چارو اکتفا وکړي اړ نوري لانجې راتلونکو نسلونو ته جوړي نه کړي . دغه قدرت چي دوی پکښې د بل په مټ ناست دي خامخا تلونکی دی او بيا پښېماني په درد نه خوري.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مخدر مواد

په دې کې شك نشته چې مخدره توکي زموږ په ټولنه کې دډېرو ستونزو لامل ګرځيدلي او ګرځي، په عمومي توګه دا کښت د افغانستان لپاره لويه ګټه نه لري، مګر بالعکس د سياسي او اقتصادی پلوه ټول ملت له بيلابيلوستونزو سره لاس او ګريوان کوي، دا چې زموږ د هيواد د څو تنو يا اشخاصو پکښې خومره وړې ولاړه ده څومره ګټه يې ده، د نورو خلکو لپاره عام کيدلای نه شي. دا چې د ټولنې لپاره يو جدی ګواښ او د هر حکومت لپاره لويه ننګونه بلل کيږي د ټولوهيوادوالو لپاره عام شکل لري، نو له دې کبله دا يوه عامه ستونزه بلل کيږي. که څه هم د ځينو خلکو به څېټونه ښه پکښې پلن شوي وي.

دا چې څوك دغه کار وبار کوي او څوك تري ګټه اخلي او څوك تري نشه اخلي دا ټول بهرنيان دی. هغوی په دي لړکې پوره زيار باسي او دغه تجارت ته ښه پراختيا اووده ورکوي.

دا چې څوك پکښې ستړي ستومانه کيږي، متهميږي، وژل کيږي، بنديانيږي هغوی خوار افغانان دی، پردي سربيره يې وطن په همدغه نامه اشغاليږي، اقتصاد يې شاته پاته کيږي، پر کور او مال باندې يې د سروخوګانو، بېرحمو يرغلګرو لخوا چاپي وهل کيږي، ګټه يې دومره محدوده ده چې په متې د يوه کال څخه تر بله کاله فقط ځانونه له مرګه وژغوري او بس.

اوس به وځيرو چې زموږ د ښکلي هيواد لپاره دغه بدرنګه تخم څومره ګټه لري، څومره تاوان يا ستونزه لريې.

لومړی : د هر هېواد د اقتصاد لپاره يوه تر ټولو مهمه سرچينه زراعت دی چې د يوه هيواد لومړني مواد او د خلکو اړتياوي لکه غنم، وريجې، جوار، وربشې، ميوې، سابه او نور پوره کوي، او دويم لاس مواد لکه غوړي، کالي، بوره او دې ته ورته نور مواد. که خدای مه کړه د هيواد اکثريت د مخدره موادو لکه ترياکو او بنګو له کښت سره بلد شي طبعي خبره ده چې د هيواد مهمه سرچينه (زراعت) به له منځه وړي چې په همدغه صورت کې به ټول هيواد دلومړنيو توکو په لاس ته راوړنه کې اړ او محتاج وي.

دويم: د دغه کښت په عامېدو کې اسانه ده چې خلکو ته نشيي مواد اسانه او په وړيا توګه پيدا شي، چې په نتيجه کې به يې دهيواد ډير وګړي په ځانګړې توګه ځوان نسل له دغه مهلك عمل سره روږدېږي. همدارنګه به دا کچه د هري ورځې په تيريدو سره لوړيږي.

دريم: هغه مواد اوميوه چې افغانان غواړي بهرنيو هيوادونو ته يې صادر کړي، له همدې امله چې له افغانستان نه پکښې مخدره مواد ليږل کيږي يا ونه ليږل شي، د تازه او وچو ميوو لکه انارو، انګورو، منو، انځرو، وچي ميوې او داسې نورو صادراتو مخه نيسي او هم يې بزګر او کروندګر د نرخ د ټيټ والي له کبله زيانمن کيږي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



څلورم: که لږ نور دقیق وګورو نو وبه وینو چې په ترکمنستان، ایران، ازبکستان، پاکستان، سعودی عربستان اونورو هیوادونو کې هره ورځ تر پنځه ویشت ډیر افغانان د دغه توکي د قاچاق له امله وژل کیږي یا اعدامیږي، همدا رنګه په سوونو نورافغانان په زندانونو کې لویږي، څوك ورکیږي چې د مرګ او ژوند برخلیك یې ټولې کورنۍ ته یو اوږد او دروند مشکل دی.

پنځم: په عمومي ډول د هر افغان تبعه لپاره چې کوم هیواد ته سفر کوي ستونزه راولاړوي. همدارنګه د افغانستان هویت او پیژند ته زیان رسوي چې دا هم دافغانانو د ځور سبب کیږي.

شپږم: په عمومي توګه د افغانستان ټول تجارت ته په هر جنس او نوع کې صدمه رسوي، په لوړه او که په کښته کچه وي، حتی هوایې الوتنې مځکنیو او هوایې ترانسپورت او ډیپلوماټیکي حقوقوته.

اوم: د ملت او حکومت تر منځ همیشه اختلافات بدګماني او ترینګلتیا زیږروي چې هم د اقتصادی پرمختیا مخه نیسي او هم په همآهنګۍ کې بېلتون ته نوره لاره پراخه وي چې همدغه اختلاف له یوه پلوه مسافه ډیروي. دویم د امنیتي ستونزو سبب کیږي او له بله پلوه د حکومت سیاسي موقف ته سخت تاوان رسوي، دا بېله خبره ده چې حکومت څنګه حکومت دی، اسلامي شرعي مستقل حکومت دی او که یې عکس؟

اتم: تر ټولو غټه ستونزه داده چې د بهرنیو هیوادونو د لویو اعتراضونو سبب ګرځیدلي چې بالاخره د وخت په تیریدو سره یې د هغو یرغل ته زمینه برابره کړه. لکه برتانیه چې په هلمند کې د تاریاکو د بندولو په نامه د خلکو د سرونو او اندامونو پریکولو بیرحمه قصابې شروع کړیده، چې په نتیجه کې یې ټوله سیمه په هغه بدرنګۍ اخته کړې چې وینو یې، دا لا خدای ته معلومه ده چې دوی د خپل انتقام، د اسلام د بیخ ایستلو، د افغانانو د وژلو، د همدې توکي د تجارت لپاره داسې ناتارجوړکړي او که د بل کوم هدف لپاره؟؟؟

خو اوس یې همدغه نوم د ځان لپاره د یرغل مجوز اعلان کړی دی، همداسې نوري ستونزي چې دي ته ورته ستونزي دی ټولي د افغانانو او افغانستان لپاره جوړیږي سره د دې چې په شریعت کې د دغه کښت د جواز یانه جواز یوه بله مغلقه مسئله ده چې دلته یې څیړلو ته اړتیا نسته.

اما فایده اوګټه یې څومره ده ؟ په عموم کې افغانستان، افغانانو او سیمي ته پرته له څو لویو قاچاقبرانو د نورو کروندګرو لپاره د تاریاکو او چرسو کښت په لویه پیمانه ګټه نه لري چې د هغوی خپله او د افغانستان د عمومي ستونزو لس فیصده دې ورسره مقایسه کړای شي چې سرې پرې ځان او ملت ته قناعت او ډاډینه ورکړي، که په دی باندې پوره تحقیق او څیړنه وسي چې د مخدرو توکو ګټه او تاوان سره مقایسه شي په سل کې اتیا فیصده تاوان او شل فیصده احتمالي ګټه لري چې هغه هم د افغانانو د کم مهارت، ستونزو او مجبوریت اړخ دی او بس. زما په نظر افغانان ټول په دې ګ ښه پوهیږي چې دغه کښت زموږ او زموږ د هیواد لپاره یوه مهمه ستونزه ده او ستونزه به هغه وخت حل کیږي چې دغه کښت په افغانستان کې په یوه بل کښت سره بدل شي، ترڅو خلکو ته د هغه د اړتیا

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



وو بسنه وکړي، د نړۍ هیوادونو هم دې ته ګوته نیولي چې تر بندېدو پورې په هڅو کې دي، نو دلته یو توافق وجود لري چې هغه پر ستونزو د نظر یو والي دی، مګر اوس یو توپیر وجود لري چې هغه دوې ستونزي دي: کرل، او نه کرل. کیدای شي همدا یوه مشترکه ستونزه وي چې ظاهراً یو اړخیزه معلومیږي، ځکه کرل یې لکه ماچې ورته وړاندي اشاره وکړه ډیر اړخونه لري او نه کرل یې هم یوه ستونزه ده چې هغه د افغانستان د بزګرو مجبوریت او په عموم کې د نړۍ والي مافیا او قاچاقبرانو تجارت دی.کیدای شي د هیواد د ننه او له هیواده بهر ډېر ځواکمن لاسونه پکې د خیل وي، دا حقیقت دی چې دا دواړه ستونزي دې خو اوس دا خبره مهمه ده چې سړی یې معلومه کړي چې دنه بندیدو عوامل بېګ څه دي او رښتیا هم بهرنیان غواړي چې د دغه کښت د بندیدلو په اړه اخلاص وکړي او که هسي سندري دي چې په لوړ آواز سره یې بدرګه کوي، دوی په دغه مورد کې چې بند یې کړي او بزګرو ته بدیل معیشت برابر کړي عاجز دی او که څنګه؟ دا یوي عمیقي څیړني ته اړتیا لري ترڅو مثبته نتیجه لاس ته راوړي.

لکه څنګه چې مي وړاندیګ ذکر کړل چې یوه ستونزه بین المللي تجارت دی چې امکان لري د مخدره توکو په بندیدو کې دې خنډ وي، دا چې د دغه بین المللي تجارت لوبغاړي او اصلي تجاران څوك دی دا هم یو مهم ټکي دي، دا چې د کوکنارو همدارنګه د چرسو کرونده ګر د ملګرو ملتونو د راپور له مخي په سل کې پنځوس بیا شپیته یا اتیا آن تر نوي فیصده پورې افغانی بزګران دي همدارنګه وړوکي تجاران او قاچاقبران هم افغانان دي چې مثال یې د لښتیو او وړو ویالو د کبانو دی نسبت د بحر او سمندر لویو کبانو ته همداسې مثال دی د افغاني وړو قاچاقبرانو نسبت و بهرني مافیا او قاچاق برانو ته، دلته دوه ټکي د پام وړ ټکي دی چې یو د رسمي منابعو دخالت او بل د غیر رسمي تجارانو غیر قانوني تجارت دی، ډېر خلك په دې نظر دي چې رسمي حلقي د دغو قاچاقو او تجارت یوه لویه برخه تشکیلوی چې امریکا بریتانیا او نور غربې هیوادونه پکښي مثبت رول لري هم دیته ورته هیوادونه په آسیا او اروپا کې شته اما کوچني هیوادونه په هغو کې لوړ مقامات د وزیرانو او جنرالانو په کچه دخیل بلل کیږي. کیدای شي دا کچه تر نومړیو وزیرانو پورې همداسې ترڅار ګرو ادارو پورې غځیدلای شي، که دا اټکل سم وخیژي نو د تاریاکو او بنګو بندول تر کرلو ډیر ستونزمن او سخت کار دی که څه هم ځیني هیوادونه ظاهراً د هغو د بندیدو لپاره چنده ورکوي او یا تبلیغاتي او نظامي امکانات کاروي، دلته بیا دوه اړخونه لري. ګمان ګیږي ځیني هیوادونه هم د بندیدو لپاره هم د کرلو لپاره په تجارت بوخت دي.

دویم اړخ یې د بندیدو په نامه تجارت شروع او روان دی. د دې تجارت په لومړۍ کټګورۍ کښې هغه هیوادونه بلل کیږي چې قوي او مضبوطي ریښې لري، دویم یې د نورو هیوادونو په مرسته متي مظبوطوي لکه ملګري ملتونه او له هغو سره تړلیادارات او نوري انجوګاني او موسسات چې هیڅکله نه غواړي د تاریاکو یا نورو نشیي توکوو تجارت دی په ټپه ودریږي، دا چې ملګري ملتونه او ترڅنګ یېګ انجوګاني نه غواړي دا خطرناکه کار ختم شي دوه دلیله دي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



لومړی: د مخدره توکو په نامه ملګري ملتونه د پیسو د پیدا کولو ښه مرجع پیدا کړي چې میلیونونه ډالر له نورو هیوادونوڅخه راټول او خپله تري استفاده وکړي.

دویم : د ملګرو ملتونو په چوکاټ کې کیدای شي په لسګونو زره کسان او په سلګونو اداربکار کوي چې د مخدره توکو د مخنیوي له فنډ څخه مصارف کوي او تري معاشونه اخلي همداسې ګمان کیږي چې څارګري اداري په همدغه سوري یاغار سرونه ننیستي دي.

همدارنګه د انجوګانو لپاره دغه دوه علته وجود لري چې دکوکنارو د بندیدو لپاره مهمه ستونزه ده، ځکه که د تاریاکو پلمه ودریږي نو کیدای شي هم فنډ او هم دفاتر بندشي او هم د ملګرو ملتونو انجوګانې، موسسات او کار کوونکي وزګاره شي، چې یو مثال یې د مخدره توکو پر ضد د افغانستان وزارت دی چې څومره بهرني مشاورین کار پکښې کوي او څومري ډېري او پلني تنخواګاني لري. کیدای سي په اروپا او امریکا کې به تر ټولو لوړ معاشونه وي اوعزت به یې د پرغلګرو له برکته تر هغو څو چنده اوچت وي. سره ددې چې ګومان کیږي دغه مشاورین هغه ترټولوبي استعداده خلک دي چې په غربي نړۍ کي دکاورتیانه لري.

د دې علت یو ښکاره ثبوت د اسلامي امارت وخت په ګوتوکولای سوګ چې کله په قطعي صورت تاریاك بند شول یو جریب هم په سیمه کې نه وه کرل شوي، نو د دی لپاره چې ملګري ملتونه په دېګ کار مطمئن او باوري شي او بیا نورو هیوادونو ته په دې اړهـ قناعت ورکړي چې تاریاك او چرس په کلي توګه بند شویدي د هغو هیئت ته اجازه ورکول شوه چې هغو سیمو ته ورشي چې وړاندی پکښې دغه کښت کرل کېدی ترڅو هغه سیمه په خپلوسترګووګوري. مګر د دې پر ځای چې نورو هیوادونو ته قناعت ورکړي او یا له بزګرو اوکروندګروسره بدیل کمك وکړي، ملګرو ملتونو او د هغو انجوګانو د امارت پر ضد منفي تبلیغات پیل کړل، بهرنیو هیوادونو ته به یې ویل چې د افغانستان اسلامي امارت د دی لپاره چې تاریاك ارزانه شوي دي دا کښت بند کړ. یاداچې د طالبانو چارواکو خپله ډیرتاریاک رانیولي او داسې نورخارجي منفي تبلیغات. همدا رنګه به یې د دې په ځای چې کروند ګرو ته د حوصلي، کمك او بدیل تخم معیشت خبري وکړي بالعکس یې د هغو په پارونه ګ لاس پوري کړ ترڅو د حکومت او خلکو تر مینځ اختلافات او ستونزي راولاړي شي. بزګرو ته به یې ویل چې تاسو به څه خورئ! دا ځمکي خو ستاسو د ژوند لپاره کفایت نه کوي، حکومت ستاسو مشکلات په نظر کې نه دې نیولي، په شریعت کې هم دا کښت جواز لري قطعي حرام نه دی. په ځانګړي توګه ستاسو لپاره چې بله دعوایدو لاره نسته او داسې نور...

زه خپله په دې باندې پوره باور لرم چې ملګري ملتونه اوغربي انجوګاني چې په دغه اړه کار کوي مطلق سوداګر دي چې خپل تجارت په وړاندې بیایې د خپلو ګټو لپاره کارکوي ، ملګري ملتونه موسسي حتی وزیر، معین، مشاورین، رئیسان ټول د دیګ ښي او په زړه پوري سوداګرۍ له ګټې څخه برخمن دی، ښه پلن څټونه یې پکښې وکړل د ښو ماڼیو اوشتمنیو خاوندان شول چې کله یې مور او پلار په خوب هم نه وه لیدلي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دويم اړخ يې سوداګريز ميکانيزم دی، په افغانستان کې د مخدره توکو تجارت په اوله کټه ګوري کې تر ډېره ترافغانانو پوري اړه لري چې ګټه يې ډېره کمه ده نسبت دويمي کټه ګوری ته، په دويمه کټګوري کې افغاني قاچاقبر او بهرني قاچاقبر ترخپل منځ مساوي شکل لري چې ګټه يې نسبت دريمي کټګورۍ ته ډېره کمه ده، دريمه کټګوري يواځې په بهرنی مافياوو قاچاقبرو پوري تړليده چې د افغاني قاچاقبرانو پکښې هيڅ دخل نشته چې ګټه يې نسبت تر ټولو لوړه ده همداسې څلورمه، پنځمه کټګوري ده. د مثال په ډول يو کيلو هيروئين د افغاني قاچاقبر په واك کې زر ډالره قيمت لري چې هغه لومړۍ کټګوري ده. داکټګوري ترډېره په افغانستان پوري محدوده ده، دويم لاس په ايران، پاکستان، ترکمنستان او نورو ګاونډيو هيوادونو کېده تخمين څلور زره، پنځه زره ډالره قيمت ولري چې افغانان او بهرنيان ددغي سيمي پکښې برخه لري، دريمه کټګوري چې اروپا امريکا اونورو لري هيوادونو ته ځي شايد له پنځه ويشت زره څخه تر پنځو سو زروپوري قيمت ولري چې دا کار ټول د بهرنيو قاچاقبرو، مافيا او حکومتونو له لاري کيږي. افغانان پکښې هيڅ برخه نه لري، دا چې حکومتونه څنګه پډېګ قاچاقو کې ونډه لري، دا ګرانه خبره ده چې کچه يې معلومه شي، خو ويل کيږي چې ډېر د لوړو منصبونو خاوندان په ډېره لوړه کچه پکښي ونډه لري. همدارنګه تر ډېره شك کيږي چې دا کار امريکا او برتانيه د مخکښانوپه توګه پر مخ بيايې.

د دې کارګ يو عمده دليل د کولمبيا د کوکاينوکيدای سي، په کولمبيا کې افغانستان ته ورته وضعيت دی چې په لوړه کچه

د چارواکو مافيا پکښې دخيله ده. هلته د امريکا په مرسته دکولبيا نظامي مصارف د کوکينو له عايداتو څخه بشپړه کيدل او دا د امريکايې نظامي مشاورينو په مرسته کيدل. همدا رنګه د امريکا د حکومتي چارواکو په مرسته جنوبې امريکا ته د کوکاينو صادرات لېږديدل ترڅو د ځينو لويو ښارونو وګړي ورباندي معتاد وساتي چې دسياست له ډګره بې برخې پاته شي.

يو بل دليل د افغانستان د اسلامي امارت پر مهال هغه تهمتونه دی چې ملګرو ملتونو، امريکا او برتانيې طالبان په دې تورمتهمول چې ګواکېد طالبانو حکومت په مخدره توکو او قاچاقو کې لاس لري او د قاچاقو کاروبار کوي په پيسويې وسلي او مهمات رانيسي جنګ پري کوي. د هغو دليل داوو چې د اسلامي امارت تر راتګ دمخه د تارياکو د کښت کچه په سل کې پنځوس وه. د طالبانو په واکمنۍ کې داکچه له پنځوسو نه شپته تر پنځه شپيته پوري پورته شوه. د دې دا ثبوت دی چې طالبانو دا کار کاوه په همدی خاطر دغه کچه لوړه وختله. که طالبانو دا کار نه کولای نو دا کچه به حتمي کښته تللای. سره د دې چې طالبانو په تدريجي شکل د درو کلونو په موده کې د تارياکو او بنګو کښت په کلي توګه بند کړ، تر پنځوسو ډيري يې د نشيې توکو د جوړولو فابريکي او په ټنونو چرس وسوځول، اوس چې د ناټو، ايساف، امريکا او برتانيې تر يوسل او پنځوس زره يرغلګر په افغانستان کې دې تريو سل او پنځوس زره زيات د افغانستان اردو او پوليس هم د دوی په چوپړ کې دې، د مخدره توکو د مخنيوي په نامه مستقل وزارت هم جوړ شوی دی، خو بيا هم د تارياکو او چرسو د توليد او کښت کچه تر نوي او پنځه نوي پوري لوړه ختلي ده.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو دا څه مانا لري؟ د دوي د دې ادعا پر اساس موږ په کلکه ویلای سو امریکا او برتانیه چې په بهرنیو یرغلګرو کې پوره واك او رول لري د دې کچي د لوړیدو مستقیم مسؤول ، ټیکداران اوکار کوونکي دي.

یو بل دلیل د افغانستان د اسلامي امارت په وخت کې د امارت د زعیم په فرمان په ټولو هغو سیمو کې چې د اسلامي امارت تر واکمنی او کنټرول لاندې وي د تریاکو او بنګو کښت په بشپړه توګه بند او په عملي توګه دا کار په ټوله هیوادکې پلی شو، خو برتانیې، امریکا او نورو هیوادونو د ملګرو ملتونو په شمول هیڅ عکس العمل ونه ښود او نه یې د هغه د بریالیتوب لپاره د کرونده ګرو او بزګرو سره څه مرسته اوکمك وکړ، آن تردې چې تش په وینا یې د دې کارهر کلی هم ونه کړ. سره له دې چې د افغانستان په تاریخ کې د مخدره توکي پر ضد دا تر ټولو لومړی ګړندی عملي ګام وو، چې نه یې له دوي څخه فوجونه، چمتووالي او الوتکي غوښتی او نه یې عسکر، یرغل اوجنې اونه یې د ځان او مسلمانانو مرګ ژوبله غوښته، یواځینی هیواد ګاوندی ایران وو چې په هلمند کې یې یوه کمکي پروژه جوړه کړه کیمیایې سره او د ځمکو د یوې کولو لپاره تراکتورونه به یېګ خلکو ته ورکول تر څو پروژه د تریاکو د کرونده ګرو سره مرسته وکړي چې بیرته د دغه توکي کرنې ته پام وانه ړوي، دا چې اوس په سوونو زره عسکر په زرګونو ټانګونه په سونو الوتکي اونور تجهیزات افغانستان ته په خاصه توګه هلمند ته راولي په زرګونه میلیونه پونډه اوډالر خاوري کوي. په لسګونو زره افغانان په شهادت رسوي کورونه کلي په الوتکو اوچولکو او ټانګونو له خاورو سره خاوري کوي دهري ورځې په تیریدو سره خپل یرغلګر عسکر د تریاکو دله منځه وړلو په پلمه له لاسه ورکوي، اخر څه مانا لري، زما په نظر دا اټکل به روغ وي چې په همدې سوداګری کې ستره ونډه لري مګرداسې مهارت او تجارت زیات عمیق بیخ لرې والله تعالی اعلم .

یو بل دلیل دادی چې موږ وینو چې د مخدره توکي پر ضد څومره تبلیغات کیږي، وزارتونه، ریاستونه، مدیریتونه په ټولو ولایتونو آن په ولسوالیو کې جوړ شوي، د خلکو لپاره چې په دغه کار و بارکې بوخت دې د افغانستان په دننه کې د سزا لپاره خاصه محکمه جوړه شوي، چې په ځانګړې توګه د امریکایانو لخوا روزل شوي قاضیان لري. د هغو لخو معاش خوري،د افغانستان بې خاونده غریبوخلکو ته د بند حتی د مرګ سزاګاني اوروي، خو له بله طرفه هغه لوی لوی کارو بار کوونکي چې ګومان کیږي په ټنونو کارو بار به کوي او په دیګ تور تورن دې چې له بهرنیو قواوو سره ښې نژدی اړیکي لري او یا په حکومت کې ښه غټ اعتبار او مقامونه لري. هم ددې هنداري یو بل مخ دی چې دځې لخوا ځان ښکار کوي.

یو بل دلیل دادی چې مخکي مو ذکر کړ. هغه دا چې اقلاً دا سوداګر یا کارو بار کوونکي په دري ډوله ویشل شوي دي چې په لومړی قطار کې افغانان راځي. هغه افغانان چې کروندګردي او د مجبوریت له کبله یې ورته زړه ښه کړی دی. دوهم ډول د افغاني قاچاقبرو او بهرنیو قاچاقبرو واړه ګروپونه دي. دریمه ډله د بهرنیانو نړیواله مافیا ده چې افغانان پکښې هیڅ ډول رول نه لري، تر ټولو غټ کاروبار چې لویو لاسونو، ډېرو پیسو او ټینګ امنیت ته اړتیا لري همداډله ده. دلته د سوال اوسرخلاصی خبره داده چې د دغه تولید لویه برخه په اروپا، استرالیا، امریکا او

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځينو آسيايي او افريقايېهيوادونو کې لګيږي، د هغو بازارونه په دغه توکي ګرم، ډك او په ميليونونو خلك يې پري معتاد دي. دا چې دلته اختصاصي محکمه جوړيږي افغانان چې ديوې، دوو تر لسو کيلو ګرامه په هيواد کې دننه او يا لږ تر لږه په نږدې کاونډيو هيوادونو کې د اختناق او مخمصي سره په مشابه وخت کې معامله کوي نيول کيږي، بنديان کيږي، وژل کيږي، په اعدام باندې محکوميږي، ولي هغه کسان چې دغه لوی کاروبار کوي په ټنونو مواد په کښتيو، الوتکو کې انتقالوي نه نيول کيږي او نه ورته ځانګړې محکمه جوړيږي؟؟؟

برتانيه، امريکا او نور غربي هيوادونه چې په ميليونونه خلك ويني چې معتاد دي په لارو، کوڅو او واټونو کې دغه مواداستعمالوي په دې باندې نه شي توانيدلای چې دغه مافيايې قوه درك کړي،هم دې ته متوجه شي چې دغه خلك دغه مواد له کومه او په څه طريقه پيداکوي او څوك يې ورته راوړي. آيا افغانان دي که د همدغو هيوادونو کارکونکي دي. د چا په مرسته د چا په الوتکو او کښتيو کې راوړل کيږي. دوی کولای شې چې په ډېر کښته مصرف او نه تلفاتو په دی کار سره موفق شي او هم يې مخ نيوی کولای شي، خو دا چې افغانستان ته راځي او بيا دلته د وينو په تويولو دا کار ترسره کوي څه مانا لري؟ والله تعالی اعلم .

دلته دا مهمه نده چې دا کار څوك کوي، څوك يې ګټه وړي، څوک ورباندې ځوريږي او څوک ورباندې مړيږي او پرسيږی. مهمه داده چې که دا اټکل سم وخيږي چې ملګري ملتونه نه غواړي چې دا کښت دی ختم شي، دننه او بهر لوی لاسونه او حکومتونه په دی کې دخيل وي، د بلې خوا ځيني هيوادونه او واکمنان غواړي چې دا مضر کښت له منځه ولاړ شي، نو دا يقيني او معلومه خبره ده چې داد افغانستان او افغانانو لپاره يوه غټه مغلقه ستونزه ده، کرل يې هم ګران کاردی بنديدل يې هم ورته ګران او مشکل کاردی، دا ځکه چې په دواړه صورته کې افغانستان له امنيتي،اقتصادې او سياسي کړاونو سره لاس او ګريوان کيږي چې په نتيجه کې افغانستان او افغانان له سخت اقتصادی کړاو سره مخ کيږي چې هغه خپله د زرګونو بد مرغيو سبب ګرځي. ګټه او خوند به بل او يا کم افغانان تري اخلي او قرباني به يې ټوله ولس او ملت پر غاړه اخلي، دا چې اوس افغانانو ته څه په کار دي خلک هيڅ نه پوهيږي. د مثال په ډول که محکمي ته ورسو چې پر ځينو غريبو خلکو يې د بند او اعدام حکم کړی دی له بلې خوا په ټول هيواد کې دغه کښت کرل کيږي. حکومت د بهرنيو يرغلګرو په شمول په دې کارکي پاته راغلي چې په زور يا د خلکوپه قناعت سره داکښت په بشپړه توګه بندکړي. په نورو خلکو باندې چې واسطه اوقوت نه لري فيصله کول هيڅ حقوقي او قانوني اړخ نه لري، يوازې دا چې پر خلکو به د ظلم مانا ولري ځکه چې داسې پردی قضاوت نور هم د خلکو د ځور سبب کيږي دا چې حل يې څه دی موږ به يې ان شاءالله څه ناڅه روښانه کړو.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نتیجه

هره څېړنه په تکرار سره د خلګولپاره مثبت انځور لري چې بالاخره ښه نتیجه ترې لاس ته راوستلای شي، یا دا چې په څېړنو سره د ډېرو مثبتو او منفي برخونو ارزښتناکې تجربېګ په وجود راولي په دغه شربلوسره کیدلای شي په نوره څېړنه او بشپړتیا سره ترې کوچ وایستل شي، خو دقت او حوصله او بې تبعیضه او تعصبه مطالعه او څېړنه به نوره ښه نتیجه ولري، په لوړه سرسري څېړنه کې ما په پنځو علتونو او یا پنځو اصولو کې ډېر علتونه څېړلي که په ښه ځیرتیا ورته د بل ښه مجرب عالم په هڅو کې نیمګرتیا په ګوته شي، یا ورسره نور علتونه او یا د نورو علتونو اصلونه په فهم کې راولي، ورسره ضمیمه کړای شي او نیمګړتیاېې په دقت سره بشپړه کړای شي زه باور لرم چې د یو اصل پر بنا به ترې ګټه واخستل شي.

زموږ ګران، ښکلي او لرغوني هیواد په پرله پسي ناورین کې راګیر شویدی لاتر اوسه هم د نورو ویرونو او کړاوونو بلاګانو خولي وازي نیولیدي. تر ډېره پوري ګټه تري بل اخلي او په اورکې موږ او زموږ هیواد سوځي. په نړیواله کچه مو اعتبار کمیږي، اقتصاد مو کمزوری کیږي او یاله منځه ځي، بې علمي او بې کسبي راپکښې جرړي ټینګوي ، د نړۍ په تیره د ګاونډیو هیوادونو له سیالۍ نه شاته پاتیږو، په غربت، هجرت او فقر کې به نورهم تر ډېره پاتې یو، په دغه وړه ډالۍ کې زه زما د تجربې په زیږنده فکر او د تیرو تیارو او د ژوندیو د قبرونو په دوران کې هغو ډېرو نیمګړتیاوو ته ځیر شوي یم، د فکر آس مي ورباندي ځغلولی دی، دماغ مي ښه ورباندي ستومانه کړیدی، خو هغه څه ته مي تلوسه کوله چې د اسلامي عنعناتو او ملي کلتور په رڼا کې رامنځ ته شي د هغه څه په وړاندي استقامت او مبارزه وسي چې زموږ هیواد، د هیوادوالو له لاسه د ډېري بیځایه خوشباورۍ له کبله د پردیو په مستقیمه مداخله د هغو د شومو او ناولو اهدافو قرباني شوي؛ لاتراوسه ورپسي قرباني کیږي، دا چې څوک بريالي شوي يا څوک شاته تللي او یاهغوی خپله په هغه اور کې سوي دا د هغو د تدبیر سرچپه نتیجه او د الله د تقدیر فیصله وه، خو په شروع کې هر څه په یوه تدبیر سره پلان شوي او بیا مخته تللي.

لومړی:زما په ټوله څېړنه کې د اسلام او کلتور ټکي هرځای کارول شوي، په ډېرو علتونو کې له هغو سره ربط ورکول شویدی دا ځکه چې هره اسلامي ټولنه په ځانګړي توګه په افغاني ټولنه کي دا تر ټولو یو مهم او ښکاره اهمیت دی، نوځکه چې په هغه سره ټینګار تر هرڅه ډېر په کار دی زما اوس هم فکر او نظر دادی: کومو افغانانو چې د رهبرۍ دعوه کړي یاورته د چارو واګي ور سپارل شویدي یایې ترشا د ملاتړي په توګه همکاري کوي د افغانستان د حل یا مشکل له اصل نه پر بل لور روان دی. هغه څه چې افغانان یې غواړي او افغانان پري اعتماد کوي افغانستان په جوړیږي اویا د افغانستان د ستونزو لپاره د حل لاره اواره وي شاته غورځولي. په هغه څه کې خپله ګټه لټوي چې له هغه علته څو ځله خراب شویدي، هغه چا ته دوست وایې چې د سرماغزه یې تري کښلي، هغه چاته یې د خپل زړه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بوخچه پرانیستي چې وړاندي دهغه د زړه رګونه ګ ور پريکړي، هغه چاته يې زړه ورنژدې کړي چې د قتل خنجر يې د هغه زړه د راکښلو لپاره له پولادوڅخه جوړ کړي، له هغه چا څخه يې د وطن د جوړيدلو هيله اوغوښته کړي چې په توپونو يې ورته وران کړي دی، خو بيا هم دغه کسان لاتراوسه په خپلو سرچپه کړو نه پوهيږي او نه ورباندې پوهيدلای شي، په دې تمه چې له هغو څخه مثبته نتيجه لاس ته راوړي. بالعکس په رواني او روحي امراضو اخته شول، بيا هم د يوه احساس په رهبري کې د زړه بداوي بيلګې ډيري ليدل کيږي.

بيرته به د څيړني پايلي ته ورشو، زما نظر دادی چې افغانستان يوازي د افغانانو په زيار او پوره اخلاص جوړيدلای شي. د حل لپاره به يې له هغو موثرو اصولو کار اخستل کيږي چې اسلامي او افغاني صبغه ولري. د تعصب مخه به په ډيره زيرکتياسره نيول کيږي، له زغم او تحمل څخه به کار اخستل کيږي، د افغانستان پر اصل او د افغان پر وجود به اعتماد کيږي، بهرنی فکر او د هغو مداخلي ته به نه ځای او نه اهميت ورکول کيږي، که څه هم تر ډيره دلته د بهرنی مداخلي قوت موثر ښکاري او ځيني افغانان په دې عقيده لري چې بيله بهرني تاثيره به د افغانانو شتون پياوړی بنسټ ونه لري او يا به تري ګټه وانه خستل شي، خو زه په دې عقيده يم چې د افغانستان په مستقله پريکړه او جرګه کې د بهرنيو شتون د هغو د منافعو نماينده ګي کوي، افغاني ستونزو ته د افغاني وقار کلتور او مذهب په رڼا کې د حل د لاري د موندلو لپاره خنډ ګرځي. د افغانستان هغو ستونزو ته چې د داخلي مسئلې په توګه د افغانانو تر منځ وجود لري او بهرنيان تري د ځانونو لپاره استفاده کوي، د سپين ږيرو، علمای کرامو،روحانيونو او منورينو په ملګرتيا د حل لاره پيدا کيدلای شي چې د خير او مصلحت لپاره پر ټولو ابعادو څيړنه وکړي، ټولو خواوو ته په افغاني دود قناعت ورکړي او يوه معقوله او مقبوله فيصله وکړي.

موږ دا منوچې دلته همدااوس د بهرنيو هيوادونو او بهرنيو قوتونو مفکوري له نظره نشي غورځيدلای، ځکه چې هغوی اوس په صحنه کې په اوتوماتيک ډول مطرح دي. که څه هم دوی زموږ د هيواد لپاره د زهرو او د ساري امراضو مثال لري، خو بيا هم يو ډول قناعت ورکول پکار دي ترڅو د هغوی شر دفع سي خو داسې نه چې هر څه چې هغوی غواړي بايد ومنل شي او هر څه يې پلي کړای شي، بلکې بايد تر اسلامي او ملي منافعو ورته په هيڅ شکل ترجيح ورنه کول شي، ځکه د دين او وطن پر سرمعامله د هيچا حق نه دی، زما نظر او ادراك دادی چې د بهرنيو قوتونو استمرار يا ډير پاته کيدل که څه هم د څو محدود اشخاصو د کنټرول ساتلو په نامه وي د افغانستان د ځمکنۍ بشپړتيا لپاره يوه لويه او خطرناکه پايله لري. د دې استمرار په نتيجه کې به داسې ستونزي راوخوټوي چې بيابه يې جبران ناشونی وي.

دلته يوه توصيه ليکم او دا چاته د عار او عيب او پيغور ورکولو خبره نده. که د طالبانو د واکمنۍ په وخت کې چې هم افغانان او هم مسلمانان وه دومره تحمل شوی وای لکه اوس چې له امريکايانو، برتانويانو او نوري کفري کړيو سره چې نه مو په دين مذهب، کلتور او ملت راسره شريکان دي، نه مو د ژبي او سيمي مشترکات سته، نه خدای او د هغه رسول د دوی دغه تقرب ته اجازه ورکوي، نو ولي به د داسې ستونزو سره مل کيدلای، ولي به مو د ورور

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په مقابل کې د پردیو د ناولو مفکورو تګلاره تعقیبولای، ولې به مو پر افغاني او اسلامي وقار ګوزارونه کیدلای، که تر طالبانو وړاندې د رباني صاحب د حکومت په وړاندې بیا هم د تحمل لاره تعقیب شوې وای زیات نه دومره تحمل چې دا اوس له یوه سرټمبه مغرور امریکایې سره کیږي، زه په دې باوریم چې هیڅ به پیښه شوي نه وای، زه بیاهم پر دې خبره ټینګار کوم چې د بهرنیو قوتونو قرباني که د پیسو ده که د سرونو ده د افغانستان او افغانانو لپاره نه ده، هر څوك چې وي او د هر دین سره چې تړاو ولري د افغانانو د یو کولو او اتحاد لپاره هڅه نه کوې بلکې پر عکس خپلې منافع د مسلمانانو او افغانانو په بې اتفاقی اوتوپیرونو کې لټوي. په ټوله نړۍ کې د مسلمانو له همدی بې اتفاقۍ نه خوند اخلي، یوله بله یې سره جنګوي، یو په بل یې سره وژني او نور پکښې د دښمنۍ او تعصب ریښې او جرړې غځوي.

دلته د غربیانو د سیسي جالونه اوهغه مخفي اوپټ رازونه په ګوته کوم چې دافغانانو د کمزورۍ او ناوسۍ لپاره ورباندې کار شوی او کار کیږي. هغه د غربیانو پوخ پلان په اسلامي نړۍ کې په مختلفو نومونو د ډیرو ټولیو او ګوندونو جوړول دي، د ډیرو ګوندونو او شوراګانو جوړېدل څه فایده لري؟ هغه دا چې په هر لور او هره سیمه کې مختلف احزاب او ګوندونه له مختلفو افکارو سره کار وکړي کوچنۍ ډلې او ګوندونه په خپلو کې سره اړم او مختلف اوسي، د خپلو منافعو یا بریالیتوب په لټه کې شي، یو بل ته د ماتې ورکولو تکل وکړي له همدې کبله د بهرنیو مدارکو څخه د پیسو او کمك غوښتنه کوي، د فقر لاس د مادیاتو د لاسته راوړلو په خاطرد خپل ورور سره په مقابله کې پردیو ته اوږد ساتي ، څو په داخل کې د خپلو ورونو په وړاندې رقابت ته دوام ورکړي، مګر په داسې احتیاج سره مجبورا هغه څه ومني او د هغه چا ومني چې ورته پیسي ورکوي. د همدې مرستي په بدل کې د دوی فکر ته وده ورکړي، دلته د سوال او جواب ډیر مشکل نشته خو موږ باید له داسې حالت نه تجربه واخلو او تیري نیمګړتیاوي جبران کړو. دانه چې د خپلو خطاګانو تسلسل وساتو، موږ د دې تسلسل ژوندي شاهدان یو د مقدس جهاد وخت موتراوسه ښه په یاد دي داچي د جهاد په وخت کې په پاکستان او ایران کې څه له پاسه ١٤ ګوندونو او افغاني تنظیمونو فعالیت کاوه، ښه وده یې وکړه او سیاسي مشرانو یې له یوه او بل سره نژدی اړیکي درلودي، له بده مرغه کوم چا چې د جهاد د پیروزي نه وړاندې د قدرت د نیولو لپاره د جهاد واګې ټینګې کړي هغوی د راتلونکي په فکر کې شوه، د سیاسي وړتیا لپاره یې بهرنیو مرستندویو ته نور هم د سوال لاسونه ور وړاندې کړه، د جهاد له بري او کابل ته د ننوتو سره سم په خپلو کې اړم شول او هغه څه یې وکړه چې باید نه یې وای کړي. هغوی د دې لپاره چې خپلو ورونوافغانانو ته چې همسنګري، هم مذهبې، هېوادوال او هم هدفه ملګري یې وه ماته ورکړي، هغه چاته د مرستي او کمک لاس وغځاوه چې تردې مهاله یې دښمن، په دین او ملت یې پردی وو، ان تردېګ چې د خپل مقام او قدرت د ساتلو لپاره یې د امیر عبدالرحمن په څیر د وطن ټوټه کیدل هم پر ځان منلي وه.

دلته به له چا سره سوال پیداشي چې هغه ګوندونه او اوسني یا راتلونکي سیاسي ګوندونه به ډیر توپیر ولري ځکه چې پخوانیو ګوندونو مسلح کسان او نظامي قوتونه درلودل اوسنی ګوندونه بیا یوازي پر سیاست او رقابت ولاړ دي؟

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هغو په ځواب کې زه ابعاد نه څیړم خو دومره ویلای شم چې ماته د اختلاف تر ټکو د اتفاق ټکي ډیر مهم دي، اتفاق موږ جوړولای شي خو نفاق مو له وطنه ورکوي.

دویم په بهرنیو هیوادونو کې چې کومي پارټۍ پر پرمختلفو ایډیالوجیو اتکا لري هغوی د خپل استقلال، بهبود او پرمختك لپاره کار کوونکي دي. هغوی د مادیاتوله کبله کافي امکانات لري. هغوی د خپلو خلکو په مالي مرسته خپلو پارټیو ته وده ورکوي. خارجي مادیاتو ته سترګي نه کږوي، مګر په اوسني حالت کې چې په افغانستان کي څومره سیاسي قوتونه ډیروالي پیدا کوي هم دومره بهرنۍ لاسونه هیواد ته ننباسي، هم دومره بهرنۍ ایډ یالوژۍ په هیواد راننوځي، هم دومره د نفاق جرړي پیاوړي کیږي، ځکه چې د سیاسي پارټیو مالي لګښت له داخلي منابعو څخه نه تمویلیږي، بهرنۍ پانګه یامرسته کله هم وړیا اوبي مقصده نه وي. دا طبعي خبره ده چې کومه پارټۍ د چاله خواتمویلیږي د هغو له اغېزي څخه به برخمنه وي.

یوه بله مهمه خبره چې سیاسي احزاب وربانديٍ تقویه کیږي داده چې په نورو هیوادونو کې اکثره وګړي د زړه له کومې دا غواړي چې خپلو سیاسي ګوندونو ته پانګه ورکړي. د دې امکانات لري چې خپله ډله غښتلي کړي، مګرله بده مرغه په افغانستان کې تر ورکړه د راکړه اصطلاح ډیره دود ده، نو ځکه چې سیاسي قوتونه یا پارټۍ خامخا بهرنیو پانګو ته سترګي کږه وي که په رشتیاقیاس وکړو نو نتیجه به یېګ پانګي ته وفاداره شي دا به یو مهلک مرض شي چې واکمن واک ته په رسیدوسره پرخپلووعدووفانسي کولای.

دریم: که موږ هغو هیوادونو ته ځیر شو چې اوس په افغانستان کې د احزابو پر ډیر والي ټینګار کوي او یا دغي رواني پروسي ته په جدي توګه وده ورکوي، د هغو په خپلو هېوادو کې دومره احزاب ولي نشته، د مثال په توګه په امریکا کې یوازي مطرحي پارټۍ دوی دي چې سم فعالیت کوي، جمهوري غوښتونکي،(ریپبلیك ګوند)او لیبرال پارټۍ (دموکرات ګوند) دی. د دغو دوو پارټیو په منځ کې همیشه رقابت روان دی. د امریکا واکمني اداري ډیر زیات کوشش کوي چې نوري مطرحي پارټۍ جوړي نشي دا ځکه چې په ملت کې د انشعاب او ډیرو اختلافاتو سبب ګرځي. همدارنګه کاناډا، استرالیا، برتانیه، جرمني، فرانسه او نور هیوادونه چې ډیري کمي او محدودي مطرحي پارټۍ او احزاب لري، دا چې د هغو ځمکني مساحتونه او نفوس تر افغانستان څو چنده ډیرهم دي په لږو احزابو کفایت کوي، مګر زموږ په کوچني کور کې چې د امکاناتو کچه یې صفرده سل تر دوه سوه پارټۍ غواړي او لا پسي ډیریدل د څه مطلب لپاره دي؟ که دا کار ګټه او ښه پایلي ولري سوال دادی چې ولي یېګ دوی پخپلو هیوادونو کې نه غواړي او که ښې اومثبتي پایلي و نه لري نو بیایې دلته په ډیریدلو کې څه مطلب دی؟

څلورم: د رقابت خبره ده. دا مهمه ده چې د ځینو پارټیو په منځ کي که رقابت نوي بیا به مطلقه دیکتاتوري خپریږي. د پرمختګ مخه به نیول کیږي، دواکمنانو عیبونه به پټ پاته کیږي مګر د رقابت مانا باید دانه سي چې باید سل یوسل او شل ګوندونه جوړسي دا ګوندونه چې نه د ځانونو واک ولري او نه د دفترونوکرایه د ګوند مشر په

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځان پوري حيران او خلگ په ده پوري حيران وي. په هغه صورت کې چې د خارجيانو ماغزه نورمال نه وي.بيا خو نور هم کار خرابيږي پاته درقابت خبره سوه رقابت په دوو او درو تر پنځو گوندونو پوري په وجود راتللای شي تر دي زيات هسې د گډوډيو لامل گرځي او بس .

دلته بايد په ډير غوراو فکر سره وگورو چې په اوسنيو شرايطو کې چې خلک د لوږي فقر او بې امنيتی سره لاس او گريوان دی د احزابو ډير والی د دغه ځپلي هيواد لپاره د ژور نفاق زنگ دی. د دې ډيروالي په نتيجه کې به ملت پر ځو توکميزو برخو ويشل کيږي او دښمن چې اساسي، بنيادی او تاريخي دښمن دی، د ټولو جرياناتو په صحنه کې واکمن او حاضر دی او عميق فعاليت لري تري خوند او گټه اخلي. زه په دې باوريم چې افغانستان په اوسنيو شرائطو او په نژدی راتلونکي کې هيڅ د دېگ جوگه نه دی او نه کيدلای شي چې په داسې يوه چوکاټ کېعمل وکړي او ځانونه دي يو په بل کي مدغم کړي چې ټولواك دي قانوني کړل شي، دلته د خنډ په توگه دوه عمده علتونه پروسه ډب کولای شي، لومړي دا چې د افغانستان تاريخ د زور واکې په حاکميت کې ځوان شوي او د هغه فکر سره يې وگړو وده کړي ده، که څه هم د خلکو د پوره خوښي واکمني د خلکو لخوا نه ده حاکمه شوي او له دغه فکر سره د خلکو اشنايې نه ده پيدا شوي، په دې صورت کې بيا دوه علتونه په گوتوکولای سو اول دا چې د حاکمانو فکر د انحصار، جاه طلبۍ او حرص پر محور چورلي او په دې اعتماد ډير غټ کارونه صورت نيسي. دويم: ډيری افغانان په يوه مذهبي غوندې حاکميت سره لاري ته له سيخېدو پرته گرانه ده چې په سراسر يو غربي قانوني چوکاټ کې روان شي ځکه چې عمده علت د مذهبي او کلتوري عنعناتو سره ليوالتيا او په غربي قانون نه پوهيدل دي.

دويم علت: خپله پر هغه قانون د خلکو اعتراضات دي چې محتوا يېگ ډيرو وگړوته د قناعت ورکولو جوگه نه وي داځکه چې دلته د الله او د هغه د دښمن خپلول پکې را نغښتي دې. ديته اجتماع د نقيضينو وايې دا په خپل ذات کې محاله ده چې دواړه طرفه په يوه وخت کې خوښ او خوشحاله وساتل شي، نو مانا به يېگ داسې چې دوي هندوانې په يوه لاس کي نيول ياپه پام کې نيولي دواړي گټي به له لاسه ورکړي، نه به الله راضي کړې، نه به لويديځ باهدفه او مغرور ځواکونه راضي شي او نه به هم هيواد د بل په موټو جوړ شي، د خلکو لپاره به امنيت هم برقراره نه شي او همدا وژل، ترل او ايله کول به روان وي، ځکه چې دلته د خلکو د افکارو عقيدوي توپير وجود لري چې حل ته يې ډېر دخيل اړخونه زړه نه شي ښه کولای.

دوهم: لکه څنگه چې ټول ملت اوهيوادوال په دې کې شك نهويني چې په هيواد کې ډيري ستونزي او مخالفتونه زاړه او نوي وجود لري او زموږ گران هيواد او وگړي د دې ستونزو او مخالفتونو قرباني دي، له همدې کبله څوك خپل خوږ ژوند له لاسه ورکوي او څوك خوږ اولاد ورور پلار او بل قريب له لاسه ورکوي. د چا پښې او لاسونه غوڅيږي څوك د پلرني ټاټوبې پريښيدلو ته مجبوريږي، رشتيادا هغه وژونکې اودردونکې ناروغي ده چې يا خپله زموږ له لاسه زيږيدلي او يا ورته بهرنيو دښمنانو فعاليت کړی ترڅوزموږ له وينوخوندواخلي، زما په نظر ښه به داوي چې د ټولو ناخوالو پيټې په خپلو اوږو بار کړو او بهرنيان که لري دي او که نژدې دي پرِه ونه گرځوو دا ځکه چې دا ټول موږ

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو چې بهرنۍ لاس وهني او يرغل ته مو يا دعوت ورکړي او يا مو ورته زمينه مساعده کړيده. موږ د دي مسړوليت د همدې درانه مسړوليت د پورته کولو لپاره به داښه فيصله نه وي چې ځان ته پخپله برائت ورکړو.

ما تر خپله وس ، توان او ستعداده او تر خپل لنډ، تنگ ادراکه کوشش او هڅه کړې چې د دی ستونزو عوامل وڅيړم او پايلې يېگ په گوته کړم.

لکه څنگه چې مې په څيړنه کې پنځه اساسي او دوه عارضي مشکلات وڅيړل هغه راته په څيړلو دا نتيجه پلاس راکوي چې رشتيا د افغانستان لپاره په لنډ مهاله او اوږد مهاله توگه د ستونزو بررسي او د هغو وحل ته اړتيا لرو چې په سوله ييزه او امنيتي فضا کې د ورورولۍ ژوند وکړو، دلته بايد ووايم چې د مشکلاتو حل اسانه او ساده کار نه دی چې په سادگۍ اواسانه ډول پري اقدام وشي، دا يوي اوږديگ پروژې ته اړتيا لري چې تر امينو لاسونو لاندې پري کار وکړای شي، لکه څنگه چې دا مشکلات او ستونزي په تدريجي توگه زيږيدلي او پيدا کړل شوي او بيا د پيچلتيا حد ته رسيدليدي همداسې په تدريجي توگه حل کيدلي شي. په ځانگړي توگه ښوونه او روزنه، قومي جوړښت، او ځيني نوري ستونزي هم تدريجي فکر، تحقيق او څيړني ته اړتيا لري داچې نوري ستونزي هم لويې ستونزي دي خو بيا هم د ښووني او روزني په نسبت لږ وخت ته اړتيا لري.

په هر صورت په افغانستان کې د اخوت او وحدت فضا رامنځ ته کيدل يوازي او يوازي په خالصه اسلامي مفکوره او افغاني طريقه باندې منځ ته راتللای شي، خو دا پکښې تر ټولو ضروري خبره ده چې صداقت علميت پوره پوهه او قوي تحمل موجود وي، دا ځکه چې اسلام يواځنی ماده ده چې د ټولو افغانانو تر منځ بې له توپيره، بې له شك او ترديده د يقين ماده ده چې په ټول هيوادکې څوك پري اعتراض نه لري، بغاوت تري نه کوي، که بالفرض د بهرنی لاسوهني په لمسون په زروافغانانوکې يوهم پيدا کيږي نو هغه ته شاذ اونادر ويلای شو چې په نه څه باندې شميرل کيږي، مانا دا چې د افغانستان د بنستيز مشکل بيخ اېستل د توافق په ماده سره کيږي خو اسلام به د دی اجنډا په سرکې وي.

کله چې موږ د اسلام خبره کوو ماناداچې د الله او د رسول الله  ټولو اوامرو ته ځان تسليمول دی که هر مسلمان د اسلام په دعوه کې صادق او ريښتونی وي نو له اسلام څخه بغاوت نه شي کولای او نه يې کوي.

قومي سپين ږيري، د قوم علمای کرام، سادات او مخور خلك، علمي کدرونه په دې اړه ښه او مثبت رول ادا کولای شي، ترڅو د اسلام تر مبارك عنوان لاندې صادقانه مذاکري، ټولني او جرگي ته لاره ولټوي ترڅو د بېگ اتفاقۍ او وېش مخه ونيول شي او يوه اسلامي ټولنه رامنځته کړای شي.

لکه څنگه چې مو په څيړنه کې دکلتور يادونه کړي دا ضروري ده چې د ټول افغان ملت کلتور چې له اسلامي قوانينو سره ټکر ونه لري پوره په نظر کې ونيول شي ترڅو د يوه پلوه د خلکو احساسات زخمي نه شي، او له بل پلوه هره افغاني ټولنه اسلامي کلتوري صبغه ولري، له شك او ترديد پرته له بهرني سازش او نفوذ څخه ځانگړي سالمه پاتي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



شي. په همدې توګه کېدلای شي د مخالفت ټول اړخونه قناعت حاصل کړي، له دې سره سره د پوره اعتماد فضا جوړه شي، مانا دا چې د ستونزي لپاره په اسلامي چوکاټ کې د علمای کرامو قومي مشرانو او ساداتو رول په درانه احترام په بشپړ ناپیلتوب ډېر مهم دی. همدغه نسخه کېدلای شي د افغانانو د زخمونو او کړاونو دوا او دسیمي لپاره شفا وګرځي، کله چې موږ د جرګي خبره کوو له هغه سره جوخت د ناپیلتوب خبره کوو مطلب یې دادی چې افغاني کلتور او افغاني عنعناتو ته خامخاباید د پردیو لاسونه ننه نه وځي، همدارنګه داسې مهمو نسخو ته د هغو نفوذ او رول لاره و نه مومي چې دهغه په نتیجه کې به د دغي نسخي مثبت اثر له منځه ولاړ شي له دې کبله به د افغانانو د ګڼو ناروغیو لپاره دغه مجربه نسخه دهیوادوالود بې اعتمادی په خاطر شنډه شي، کیدای شي د ډېرو بهرنیو دښمنانو هدف همدغه وي چې هر وخت جرګه جرګه یادوي او بیا ترې خپله ګټه اخلي والله تعالی اعلم.

د افغانستان بهرني او کورني سیاستونه باید د اسلام په چوکاټ کې د اسلامي اساساتو او ملي غوښتنو په پوره نظر کې نیولو سره جوړ شي. د هغو اشخاصو چې مطلق د خپل مال، عزت، منصب، منطقي ګټې ورته تر ټوله هیواد او هیوادوالو اولویت لري او ترجیح ورکوي د هغو نظرونه باید مردود وبلل شي او د هغو موقت نفوذ د دې سبب ونه ګرځي چې د ټولو هیوادوالو یا د اکثریت احساسات مجروح کړي، بهرني سیاستونه چې تر ډېره یو قطبې اړخ لري پر دوستي او دښمني تعبیریږي، لیدل کیږي چې تر ډېره پټ او په محدودو خلکو پوري تړلي دي چې د هغو روابط او پلانونه غلاته ورته مثال لري که څه هم په اصطلاح ملي منافع په نظر کې نیول شوي وي خو بیا هم ډېر منفي اړخونو ته پام نه وي شوي اړینه ده چې د اسلامي چوکاټ په غلبیل کې چاڼ او صاف شي او د اسلام تایید ترلاسه کړي، همدارنګه د اتفاق او اختلاف اړخونه یې ښه وڅیړل شي. د پردیو هیوادونو له یرغل او یرغمل کیدو، همداسې د هغو له تاثیر څخه محفوظ او وژغورل شي ترڅو د خلکو د رضامندی سبب وګرځي. د هغو د اعتماد پوره حفاظت وشي، دیني او عصري ښوونه او روزنه په متوازنه توګه او پوره پاملرنه پرمخ ولاړه شي. د هر وخت حکومتي واکدار باید د دواړو سیکټورونو اهمیت له نظره ونه غورځوي. د مدرسي او مکتب په پیاوړتیا کې جدي پام لرنه وکړي ترڅو ټول هیواد له دې لوی نعمت څخه پوره برخمن شي.

که څه هم دا ښکاره خبره ده چې د نړۍ ډېرغیراسلامي هیوادونه له ښوونځیو سره خپله بې حده او ډېره لوالتیا ښیې، په ځانګړي توګه د ښځو په تعلیم او تربیه او د هغو په روزنه کې ډېرجدیت لري، مګردا خبره هم ډېره اړینه ده چې زموږ جامعه تر ټولو وړاندې مذهبي اسلامي پوهي تعلیم او تربیې ته اړتیا لري، ټولي کورنۍ ټول قومونه له دې زده کړي سره خپله لیوالتیاښیې او هم ورته اړتیا لري، دا غلطه خبره او احمقانه مفکوره ده چې یو افغان دې د خپلو هیوادوالو اړتیا او لیوالتیا په یو اړخیزه توګه له نظره وغورځوي او بهرنۍ ایډیالوژۍ او لیوالتیا ته دیګ ښه راغلاست ووا یې. د هر حکومت لپاره په اسلامي جامعه کې اړینه او ضروري ده چې دواړو اداروته په نه تبعیض سره پاملرنه وکړي. یوه هم له نظره ونه غورځوي په بهبود کې یې مرسته او کومک وکړي. د فارغینو لپاره یې په احترام سره د هغو د برخلیك په اړه اقدام وکړي، هغه بېلتون ته ډېره پاملرنه وشي چې د ډېر وخت په تیریدو سره د کر کي،

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



نفرت، نفاق او بالاخره د نورو بدمرغیو او بدبختیو سبب گرځیدلي یا گرځي، چې په ښوونځیو او مدرسو کې پر دیني او مذهبي روحيه سمبال د لايقو استاذانو شتون، هر طالب ته په مساوي توگه د لياقت او استعداد په پام کې نيولو سره امتیاز، درجه او داسې نور، په نصاب کې دمذهبي کتابونو داخليدل او هغو ته پوره پاملرنه کول، د مکاتبو او مدرسو د استاذانو او شاگردانو په منځ کې انجمنونه اوگډ مجلسونه جوړول، هغو ته مساوي امتیازات، ډالۍ او جايزي ورکول ترڅو د زړو په نژدې کولو سره د هغو د ذهنونو د شکونو او تهمتونو لريوالي راشي له يو او بل سره يې مينه او محبت پيدا شي. په هېواد کې دننه دلايقو او ښو استاذانو چې دعالي تحصيلاتو درلودونکي ماهر او ځيرك اشخاص وي، همدا سې د هغو د تجربو لپاره تجهيزات چې په عملي ډول دساينس او تکنالوجۍ په اړه کمك کوي تمرکز وشي، ترڅو د نوو شاگردانو لپاره په خپل هيواد کې د زده کړې زمينه برابره شي او کوشش وشي چې له بهرنيو مفکورو او دسيسو څخه د زده کوونکو دماغونه وژغورل شي، په مکاتبو او مدارسوکې د زده کړې په ټولو درسونو کې اړينو مضامينو ته وخت ځانگړی شي، همدارنگه په مکاتبو او مدرسو کې په اسلامي عنعناتو افغاني فرهنگ باندې زده کوونکي مکلف شي خو لږ تر لږه استاذان بايد دا عمل پلی کړي. د هغه په اهميت باندې بايد شاگردان ښه پوه کړي، په اوونۍ، مياشت او کال کې بايد حداقل يو ځلي د مدرسو او مکاتبو د زده کوونکو په منځ کې د ازمويني مسابقات تر سره شي، همدارنگه د دېگ پر ځای چې زده کونکي بهر ته د روزني لپاره وليږدول شي دننه استاذان راوستل شي ترڅو زده کوونکي د خپل مذهب او کلتور په غيږ کې ستر او وروزل شي، چې په دې کار سره کيدای شي فاصله نوره هم ليري شي، په دې سره به هماهنگي او اتفاق هم راشي ټول زده کوونکي بايد د نورو مختلفو مضامينو لکه مذهب، ساينس، سياست، اقتصاد تاريخ، جغرافيه او نورو علمونو په اهميت پوره پوی شي، ترڅو په خپلوکې د مختلفو نظرنو درناوي وکړي، جغرافيايي ستونزي چې د ډيورند د کرښې سره يې هم اړين توب ليدل کيږي په ستراتيژيکي ډول دگاونډيو هيوادونو او ليري پتو د زبر ځواك هيوادونه چې د خپلو گټو يا ارزښتونو په پام کې نيولو سره زموږ هيواد ته لاسونه راغځوي تر ډيره زموږ د هيواد په مثبته پاليسي او ټينگ وحدت پورې اړه لري، که موږ ددوستۍ او دښمنۍ يو اړخيزه پاليسي ولرو ځپاندوهلي ټولنه او جامعه مو په خپل کور او دباندې منطقه کې پراگنده اوسي نو دې ته به ښه زمينه مساعده شي چې هر بهرنی دښمن له همدغه حالته بده استفاده وکړي، چې څه يې زړه غواړي هغه راباندې وکړي، وينه به مو وړيا وي، قدر به مو کم او قوت به مو پر نه څه شمار وي، غم به مو د بل لپاره خوشحالي وي. په شکايت او ژړا پوري به مو خلك خاندي، دژوند په برخليک اوسرنوشت به مو دښمنان د دوستۍ او دښمنۍ په نامه په ډېره اسانۍ سره لوبې کوي، وروڼه او خويندی به مو د خير لاس دوست او دښمن ته ورغځوي، څوك به مو وژني، څوك به مو پلورې، څوك به مو د خپل ناروا هدف لپاره په تورو جيلونوکې بې تحقيقه او محکمې غورځوي په يوه او بل نامه سره به چې څه يې زړه غواړي هغه راسره کوي. د ډيره وهمه او ويري به څوک د بېگناه خلکو شفاعت هم نه سي کولای.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



جغرافيا يې ستونزه زما په اند تر هغه وخته نه شي حل کيدلای ترڅو زموږ پاشلی ږغ يو نه شي او خپل مينځي اختلافات او ځان ځاني مو په يوه مخلصه او يوه ښه ټولنه بدله نه شې ځکه چې دادومره ستونزه ده چې يوه قوم او ټبرته يې نسبت نه سې کيدلای اونه دخاصي منطقي سره تړاو لري. دا تر ټولني او ټبرونوپوري تړاونيسي.

د تارياکو او چرسو کښت جغرا فيايي ارزښت ته ورته ستونزه ده چې زموږ د ځانځانی، بې اعتمادی اونفاق نه ريښه اخلي ځانګړي باندېونه تشکيلوي، د افغانستان دښمنان تري ناوړه ګټه اخلي. مخدره مواد بندول يوه داسې قوت ته اړتيا لري چې ملت ورسره په صادقانه توګه همغږی وي او په غم کې يې ځان شريك وبولي. بدنامي يې د ځان بدنامي او ګټه يې د ځان ګټه او تاوان يې د ځان تاوان او بری يې د ځان بری وبولي، نه په زور او قوت، نه په مرګ او بند سره ددې کار مخه نيول کيږي، لنډه دا چې دافغانستان د وحدت لپاره د افغانانو جرګه په کار ده. د جرګې لپاره اسلامي چوکاټ او په نهايي ډول ناپيلتوب په کار دی. د ناپيپلتوب او اسلامي چوکاټ د پوهولو لپاره، علمای کرام، سادات، محترم شخصيتونه، قومي مشران او ربښتونی صداقت اوزړه سوی په کار دی، خو يو شی چې تر هر څه مهم دی هغه دادی چې د جرګو مرکو ابتکار بايد د افغانانو په خپل لاس وي او پخپل کورکې يې له خپل مذهب او عنعناتو سره سمه جوړه کړي چې د داسې حرکت تر شا ټولنه په ټينګه ودريږي چې په مستقله توګه د دين، وطن او ملت سره مخلص وي. دغه لرغونی اسلامي هيواد نه په بهرنيو قوتونو، نه په بهرنيو زهرجنو افکارو، نه په غربي فاحشه ډموکراسي او کمونستي نظامونو او نه په خونړيو جنګونو، وژلو، نيولو سره جوړيږي ترڅو د هر ملت په ځانګړنه حل و نه موندل شي، زموږ د هيواد ځانګړتيا د جرګو اسلامي او قومي عنعناتو، د استقلال او خپلواکۍ غرور، پر علمای کرامو ساداتو مشرانو باندې نيك ګومان او غوږ ورته نيول، د مشرانو احترام، د هغو په وينا عمل کول، خو دا ټول په اسلامي چوکاټ کې، په افغاني ابتکار پوري اړه لري ترڅوهيوادوال وربانديې اعتماد او باوروکړي.

الله پاک دې وکړي چې زما دغه نيمګړې ليکنه ستاسي درنو لوستونکو ورونو او خويندو د توجه وړ وګرځي ستاسو د دعاپه هيله والسلام.

لوی څښتن فرمايي:

]النساء:٥٩[

ژباړه: ای مومنانو! د الله حکم او د رسول حکم او د خپلو چارواکو حکم ومنئ، که مو په څه کي شخړه سره راغله ، نو الله او رسول ته يې وروګرځوئ، که (رشتيا) تاسي پر الله او د آخرت پر ورځ ايمان لرئ. دا غوره او په انجام کي ډيره ښه ده .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## شعر

دښمن وخوړل بانډونه د نفاق

وران ویجاړ وې تل کورونه د نفاق

د غلیم په وړاندې سم درېدای نه سی

ډلی سولی مات فوجونه د نفاق

د لیوانو ومنګولو ته به لویږي

جدا سوي شاذ پړکونه د نفاق

د حرم مال اوعفت ساتلای نه سي

سوري سوري دیوالونه د نفاق

سیال به نوي د سیالانو په ټولۍ کي

چې پرانیستي وي ډیر ورونه د نفاق

د پنا دښتونه خوري هډوکي واړه

لار چي واخلي کاروانونه د نفاق

درنده د ښکارپه نخښه هغه ګوري

لټوي چي پټ رغونه د نفاق

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دښمنان به يي په هرتصميم خبريږي

ساتل کيږي نه رازونه د نفاق

په حاصل به يي ودان کورونه نه سي

په سيلۍ چې سي باغونه د نفاق

ملتونه به يي ورک سې په نړۍ کې

وروسته پاته هيوادونه د نفاق

بې ذلته به نورهيڅ ګټلای نه سي

څوک چي پورته کې سوالونه د نفاق

وچ لانده به يي د اورپه مخ لوګی سي

چي تعقيب کي څوک جنګونه د نفاق

مزه نه کوې که هر څومره رنګين سي

مجلسونه ، محفلونه د نفاق

نتيجه د اثبات نه لري هيڅکله

که مظبوط هم وي فکرونه د نفاق

ضعيف هرکله د هغه چا خادم دی

ماتوې چې زنځيرونه د نفاق

Download from: ketabton.com

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**